د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبان ها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

پہ دې ګڼه کې:

- د علامه ابو ریحان البیروني علمي شخصیت او د څېړنې لارې
- غزل او تغزل
- دریاب قاموس ته کتنه
- د قابل کیسو ښووونیز او روزنیز ارزښت
- د میرزاخان انصاري په غزل کې د عقل مقام
- په کره کتنه کې د ژبې او الفاظو څرنګوالی او نور...



- دري میاشتنۍ
- دریمه دوره
- کال: ۱۴۰۲ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل - افغانستان

1

ژبني، ادبي او فولکلوري دري میاشتنۍ څېړنیزه مجله
کابل
۱۴۰۲ لمریز کال، ۱ ګڼه

# Kabul
## Quartely Journal


Establishment: 1931
Research and Scientific Publication of
Afghanistan Science Academy



Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shahr-e-Now, Kabul, Afghanistan.
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

د ۱۴۰۲ ل کال لومړۍ ګڼه

**یادونه**

✓ مقاله دې له یوې رسمې پټې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټېلېفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړنپوه محمد نبي صلاحي

**مهتمم:** څېړندوی خالد تکل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب

څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی

څېړنپوه سید نظیم سیدي

څېړنپوه محمد اصف احمدزی

**چاپ ځای:** بهیر مطبعه. کابل ـ افغانستان

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، شهر نو، د شاه بوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۸۵۳۳٤۷۷٦ -۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| ګڼه | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | . د علامه ابو ریحان البیروني علمي شخصیت او د څېړنې لارې | څېړنپوه محمد نبي صلاحي | ۱ |
| ۲ | . غزل او تغزل | پوهنمل ګل رحمن رحماني | ۱۶ |
| ۳ | . دریاب قاموس ته کتنه | پوهنیار عزت الله نورزی | ۲۸ |
| ۴ | . د جهاني په مثنوي کې د مولوي روایت | څېړندویه فضیله احمدي | ۳۷ |
| ۵ | . د قابل کیسو ښوونیز او روزنیز ارزښت | څېړندوی خالد تکل | ۵۲ |
| ٦ | . د میرزا خان انصاري په غزل کې د عقل مقام | پوهنیار عبیدالله اغبز | ٦٦ |
| ۷ | . په کره کتنه کې د ژبې او الفاظو څرنګوالی | څېړندوی فضل الرحمن علیزی | ۹٦ |
| ۸ | . د مجذوب په شاعرۍ کې رومانتېسېزم | جاوید آفتاب | ۱۰۸ |
| ۹ | . په وروستۍ نیمه لسیزه کې د ځینو... | څېړندویه نازو کمال | ۱۲۴ |
| ۱۰ | . د علامه اقبال له انده افغاني مشاهیر | څېړندوی محمد اسحاق مومند | ۱۴۲ |
| ۱۱ | . د غزني په رشیدانو ولسوالۍ کې د ماشومانو... | څېړندویه سونیا صمیم هوتک | ۱۵۸ |
| ۱۲ | . د میر علي دیوان ته لنډه کتنه | څېړندوی حمایت الله ښاد | ۱۷۷ |

څېړنپوه محمدنبي صلاحي

# د علامه ابو ريحان البيروني علمي شخصيت او د څېړنې لارې

# Scientific personality of Allama Aburihan Al-Biruni and his Research methods

**Prof. Mohammad Nabi Salahi**

**Abstract**

Until I (Mohammad Nabi Salahi) did not study Allamah Al-Biruni, I used to think that the researches of ancient scholars in historical Afghanistan were based on traditional methods. The experts of modern and contemporary research are only western scholars, and not a single method of research has been discovered in Afghanistan, only Irfan and wisdom, gifts of eastern scholars.

When I discovered this great treasure of knowledge, quickly realized that Allama Al-Biruni's works revolve around scientific and experimental methods and the founders of scientific research are not Westerners, but the scholars of this land, one of whom is Allama Al-Biruni, whose scientific research is in line with the principles of contemporary research. This man passed away in the 4th century, while Westerners attribute the founder of

experimental and scientific research to the 17th century. This scientific personality is exceptional, unique and one of the best and most important scientific personality in the field of scientific research in historical Afghanistan. This person knew enough about the nuances and nuances of scientific research, and a number of special and general rules of scientific research have been shown in his works. His information reference is very accurate and reliable. Analytical-explanatory, comparative, experimental and scientific methods have been used in his scientific research.

## لنډیز

تر هغه وخته پورې چې ما (محمد نبي صـــلاحي) علامه البیروني نه و مطالعه کړی، نو داســـې فکر به مې کاوه چې په تاریخي افغانســـتان کې د پخوانیو عالمانو څېړنې پـه دودیزو او عنعنوي لارو چـارو بنـا وې، د موډرنو او معـاصرو څېړنـدودونو ماهرین یواځې لوېدیځ پوهان دي، ان په افغانســـتان کې د څېړنو یو میتود هم نه دی کشف شوی، یواځې عرفان او حکمت مې، د ختیځ پوهانو سوغات باله. کله مې چې، د علم او پوهې دغه سـتره خزانه راوسـپړله، ژر پوه شـوم چې، د علامه البیروني آثار په علمي او تجربي مېتودونو را څرخي او د علمي څېړنو بنسټګر غربیان نه، بلکې د دې خاورې پوهان دي چې، د هغو له جملې یو هم علامه البیروني دی چې ټولې علمي څېړنې یې، د معاصرو څېړندودونو له اصـــلونو سره سر خوري. دا ســـړی په څلورمه هجري پېړۍ کې تېر شــوی، په داســـې حال کې چې غربیان د تجربي او علمي څېړندودونو بنســټګر۱۷مې میلادي پېړۍ ته منســوبوي. دا علمي شـخصـیت په تاریخي افغانستان کې، د علمي څېړنې په ډګر کې، استثنایي، بې جوړې او یو تر ټولو غوره او مهم علمي شخصیت دی. دا شخص د علمي تحقیق، په رموزو او باریکیو کافي پوهېده او د ده په آثارو کې د علمي تحقیق یو شـــمېر خاص او عمومي قواعد ښـــودل شــوي دي. د ده د معلوماتو مرجع، ډېره دقیقه او معتبره ده. د ده په علمي څېړنو کې له تحلیلي ـ تشریحي، مقایسوي، تجربي او علمي څېړندودونو څخه کار اخیستل شوی دی.

## سريزه

زموږ په اوسـنيو څېړنو کې ډېرې زياتې ګډوډۍ شـته او د هغو په نښـه کول او ښـکاره کول ضرور دي، د البيروني آثار، نه يواځې د ځومره والي او څرنګوالي له پلوه د ډېرې سـتاينې وړ دي، بلکې لوسـتونکي د څېړنې له علمي ميتودولوژي سره آشـنا کوي، د علامه البيروني د علمي او تجربي څېړنې حکمونه، دومره څرګند او روښـانه دي، چې بل هېڅ ډول دليل او ثبوت ته اړين نه برېښي. نوموړي علامه، خپلې ټولې ادعاوې د علمي ميتودونو له لارې ثابتې کړې دي. هغه په خپلو څېړنو کې، له ډېر علمي احتياط نه کار اخيستی دی. هغه په ټولو څېړنو کې شک او ترديد ته ځای نه دی ورکړی. د ده د څېړنو ميتودونه، په ځانګړې توګه علمي څېړندود، د نورو په پرتله د ډېر ډاډ او باور وړ دی.

انسان پېژندنه او څېړندود پېژندنه، په ادبي او علمي څېړنوکې ډېر مهم او لوی بحث دی. هغه کسـان چې په علمي او ادبي څېړنوبوخت دي، ټول په دې برخه کې په يوه خوله دي، چې په څېړنوکې تر ټولو پېچلې او حساسه مسئله د انسان پېژندنه او د څېړندود پېژندنه ده. د ا سلامپوهنې مربيان، ماهرين او لارښوونکي، دا موضوع په دې دليل مهمه بولي چې، په هغې کې د پروردګار عالم(ج) د پېژندنې راز پټ دی. په دې مقاله کې د علامه ابوريحان بيروني د علمي دريځ پېژندنې او انســان پېژندنې په اړه څېړنه شوې ده.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې ارزښـــت دا دی چې، موږ د علمي څېړنو په ډګر کې د تاريخي افغانستان دغه علامه ښه وپېژنو. کوم فضيلت، جامعيت ، علمي تقوا او علمي رسالت چې د علم او انســانيت په ميدان کې ابوريحان بيروني درلوده، د انســانيت په ټول تاريخ کې د داســې پوهانو شــمېر د ګوتو په شــمار دی. له شــک پرته، بيروني د نړيوالوپوهانو په دغه لړ شمېر کې غوره مقام او برجسته ځای لري.

## د څېړنې موخه

زه (د ادبي څېړنې ميتودولوژي) اثر د ليکونکي په توګه، په ډېر ډاډ سره ويلای شـــم، چې د علامه البيروني آثار، د څېړنې له عادي جريانونو او دوديزو (عنعنوي)

لاروچارو څخه بالکل مختلف دي او دا علمي شـــخصـــيت، زموږ په علمي حوزه کې خپل ځانګړی علمي مقام او دريځ لري.

د ده د آثارو له علمي لاربښوونو، زموږ د ادبي او علمي څېړنو د مسلکي کېدو په برخه کې ډېره لږ ګټه اخيســـتل شـــوې ده. ما دا مقاله د دې لپاره ليکلې ده چې، د علامه البيروني د آثارو مطالعې ته د تحقيق ځوان کهول تمايل زيات کړي او د ده د آثارو له منځپانګې او علمي لاربښــوونو څخه پوره پوره اســتفاده وشي. د ده د آثارو هر اړخيزه مطالعه، د تحقيق د ځوان کهول په روزنه او پالنه کې ډېر په درد خوري.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ايا د علامه البيروني څېړنې، په دوديز (عنعنوي) ميتود بنا دي او که په علمي او تجربي ميتود؟

۲. ايادا ټکی سم دی، چې د تحقيق ټول څېړندودونه غربيانو کشف کړي؟

۳. د علامه البيروني د تجربي ميتود علمي اصول کوم دي؟

## د څېړنې ميتود

دا مضمون چې د علامه البيروني علمي شخصيت او د علمي څېړنې لارې نومبرې، د تشر يحـــي ـ تـحليلي څېړندود پر بنسټ ليکل شوی دی.

## د مقالې متن

علامه محمد بن احمد بيروني، د ســـلطان محمود غزنوي او حکيم ابن ســـينا هم مهاله(هم عصره) و؛ فوق العاده ليکوال، پوخ څېړونکی، نامتو منجم ، غوره فيلسوف، ستر اسلام پوه او د پوهې او علم سمندر و.

له البيروني(۴هجري پېړۍ، ۳٦۲هـــــ.ق/۹۵۳م.) سره، د ســـلطان محمود غزنوي حمايت و، لکه له ارسـتو سره د يونان د لوی سـکندرملاتړ. بيروني، ســلطان محمود غزنوي له ځانه سره هند ته بوت او هلته يې ســـانســـکريت په علمي بڼه زده کړه. په هغه وخت کې ســـانســـکريت د علم ژبه وه، لکه نن ســـبا عربي، انګليسيــ، روسي، الماني او فرانســـوي چې د علم ژبې دي. البيروني په عربي، عبري، دري او ګڼو نورو ژبو هم پوهېده. بيروني په دربيو ســـيمو کې وخت تېر کړی دی. د آل عراق په خوارزم؛ د اوســني ازبکســـتان شـــمال لوېديځې سيمې، د اورګنج د بيرون ښـارکې زېږېدلی او دا ســيمې، يو وخت د خوارزم په نامه يادېدلې – د هغه وخت خوارزم د

اسیا او اروپا تجارتي لاره وه، په دغه ځای کې یې د وړکوالي خاپوړې کړې، بیا یې په گرگان کې وخت تېر کړی، هلته هم وروزل شـو او په غزني کې مړ او ښـخ دی. هند ته یې علمي ښـه اوږد سـفر لرلای دی. هغه به ویل چې: موږ مسـلمانان د تقوا په حسـاب یو له بله برتري لرو او هندوان په څلورو کټگوریو وېشـل کېږي او همدا مو د اختلاف یو بل ټکی دی.

د علامه ابوریحان افکار او آثار را ښـیي چې البیروني له کوچنیوالي نه هر څه ته په ډېر ځیر سره کتلي دي، د انساني نړۍ له مختلفو ولسونو سره یې ځان اشنا کړی او د بشرــ له بېلابېلو دینونو، عقایدو، تمدنونو، دودونو، عادتونو، ادبیاتو، کلتورونو او فرهنگونو سره یې خپل ذهن بلد کړی دی.

«البیروني یو ډول خلک نه لیدل. چینایان، عرب، اروپایان... د هېچا کمی نه و. په یوه دقیقه کې به یې مختلف نظرونه اورېدل. له عالمانو سره به کېناسـت، چا به د چین دېوال کیسـې کولې، ځینې به د یونان او روم له مدنیته غږ بدل. دی لا په ماشـومتوب کې په دې پوهېده چې دنیا یواځې د ده کلی او ښـار نه دی. دنیا پراخه ده، هومره پراخه چې په فکر کې هم نه را گرځي.»۱

دا لړۍ روانه وه، د ده علمي ځیرکتیا او دقت ته ټول خلک حیران وو. په پایله کې، علامه ابوریحان بیروني د تفکر، علم او انســانیت په ډگر کې، نه یواځې د خپلې زمانې، بلکې له هغه څخه د را وروسته زمانو یو داسې لوی علمي شخصیت شو چې: «تل یې علمي مسـئلې له ټولنیزو، اخلاقي او انسـاني مسـایلو سره په تړاو کې بیان کړې دي او هېڅ وخت یې، هغه یوه له بلې نه بېلې نه دي بللې. د ابوریحان دغه برداشت، د هغه د علمي لید د جامعیت ښکارندویی کوي.»۲

په حقیقت کې«ابوریحان یو ډېر پرکاره او جامع عالم و. د هغه د تفکر ســتروالی په دې کې دی، چې د یو شــمېر هغو پوهانو په ډله کې یې خپلې علمي هڅې کولې، چې د هغو لپاره علم یو رسالت و.»۳ په واقعیت کې، «د ابوریحان ټول علمي مسایل، په عیني څېړنو او تجربې باندې ولاړ وو، هغه په علمي موضــوعگانو کې مجرد عقلي استدلال رداوه، له دې امله، بیروني په علم کې د تجربې بنسټ ایښودونکی دی.»۴

البیروني خپل ژوند په قناعت تېر کړی دی اوتر مادیاتو یې معنویاتو ته ډېره ترجیح ورکوله.«ده خرافات نه منل او ان علمي مسایل هم، له تجربې پرته بې اساسه ورته ښکارېدل.»۵

د البیروني د علمي دریځ یوه ځانګړتیا دا ده چې، د ده څېړنې په متنوعو موضوعاتو باندې بنا دي. په یوه مسئله کې یې، دوه آثار نه تر سترګو کېږي او د ا د ده د علمي موقف نو ښت ښيي. د علمي جراوبحثونو په وخت کې، په ا شخا صو نه، بلکې د هغو په ایډیالونو باندې علمي خبرې لري. پوهان په دې باور دي چې: «د علم په اړه د ابوریحان پېژند، په ځیرکي سره د معیار رعایتول دي، چې لاندې ځانګړتیاوې ولري: په علم کې د شخص آزادي او د هغه لارې چارې دي. هغه علم چې په کُلي شیانو باندې را وڅرخي، د تمیز توان ولري، له غیر علمي استقراء او استنباط څخه مستغني وي (عیني او په تجربه ولاړ وي)، شکونه لري کړي او د یقین پړاو ته یې ورسوي.»٦

د علامه الیروني آثار، په نړیواله کچه د علم او حکمت سرچینې بلل شوې دي او هغه د یوه وخت او زمانې نه، بلکې د ټولو وختونو او زمانو تلپاتی او جاویدان عالم بلل شـوی او منل شوی دی. د انسان او انسانیت د اخلاقي مقام په اړه، د هغه کوم مستقل اثر زما له سترګو نه دی تېر شوی، مګر د هغه د آثارو د منځپانګې له متن نه دا استنباطولی شو چې، د هغه علمي شتمني او هر څه، د انسان په خدمت کې دي او علامه ابوریحان د انسان د معنوي مقام د لوړولو لپاره، شپه او ورځ په ځان یوه کړې وه.

د هغه په باور:

«ځوانمردي(مېړانه) دا ده، چې د نورو بار په خپلو اوږو اوچت کړي، د نورو په هوساینه کې خپل ځان وکړوي او خپله مشروع پانګه ( هستي) له نورو و نه سپموي.»٧

البیروني د څېړنو په ډګر کې د ډېرعلمي مسـئولیت احساس کاوه اوله علمي ثبوت پرته یې، خپل علمي تحقیق ټولنې ته نه وړاندې کاوه. په منځنیو پېړیو کې، د یوې موضـوع په څېړنه پســې دومره هڅه کولو ته ســړی ببخي حیرانېږي. البیروني «د موضوع په څېړلو پسې زړه خوږ. ده یواځې د نورو په معلوماتو باندې قناعت نه کاوه، ســاده او مغلق موضــوعات یې [په] خپله ازمایل. ده د ډېرو پېچلو علمي معضــلاتو کیلي درلوده. دا جادویي کونجي (کیلي) هماغه پر تجربه ولاړعلمي تحقیق و. ده د همدې کونجي پرمټ د طبیعت د اسرارو ورونه پرانیســتل. البیروني د حقیقت په

موندلو مشــهورو. د یوې موضــوع په تحقیق کې یې په ســخته قناعت کاوه. ده به هر هغه څه ته د شک په سترګه کتل چې له ازمایښته نه ول تېر شوي. تر هغه وخته فال لیدل، علم ګڼل کېده. په دې اړه ډېر پوهان په یوه خوله ول. ځینو مشـــهورو فال لیدونکو د پاچاهانو او حاکمانو فال کوت. د دوی د فتوحاتو وړاندوینه به یې کوله. ورته ویل به یې چې څوک یې دښمن او څوک یې دوست دی. کومه ورځ باید پر نورو حمله وکړي. خیر او شر یې په څه کې دی... خو البیروني فال خرافات وګڼل. ویې ویل: پوچې او هوایي خبرې دي او د علم په دنیا کې نه راځي.

البیروني په دې باور و چې له تجربې پرته علم، نه علم [دی]. ویل یې چې: تجربه رڼه او له شکه [شک] پرته نتیجه لري او د خرافاتو مخه نیسي.»۸

البیروني ګڼ شـــمېرآثار لري، (کتاب الهند) یا( تحقیق ماللهند) یې نهایت جامع او نامتو اثر دی چې د هندوانو د دود د ستوراو عقایدو په برخه کې یې لیکلی او په هغه کې یې درې بشرـــي تمدنونه سره پرتله کړي دي. ده ته د بې جوړې عالم او دایرة المعارف مغزه ککرې خطاب هم شـوی دی. له شـک پرته، د اسـلام ډیوه (مشـعل) د افغانانو په لاس هند ته ولېږدول شـواو دري ژبه هم یو بل سـوغات و چې، د افغانانو له خوا هند ته ورکړ شــواو هلته د دري ژبې په ســوونه شــاعران او پوهان را پیدا شــول. د هغو له جملې یو هم، علامه بیروني و. علامه بیروني، حکیم ابن سینا ته ډېر عقیدت لاره او هغه ته به یې ځیني ټکي اســتول او ســلا او مشــوره به یې ور سره کوله. بیروني له ۴۰ کالو زیات عمر د علم په زده کړه تېر کړل. د بیروني د علمي ـ تحقیقي کار د پاڼو شمېر ۱۳۰۰۰مخونه دی او د یوه اوښ له بار څخه زیات کتابونه یې ولیکل. بیروني ۵۰۰ کاله له ایټالوي ګالیله مخکې وویـل چې ځمکـه ګرځي. تر ۱۹۵۰ز کـال پورې د اروپـایي پوهنتونونو درسي کریکولم، د البیروني آثارو او اوس هم د ریفرنس په توګه ترې اســتفاده کوي. اوس هغوی په درسي کریکولم کې اپډېټ آثار شامل کړي دي.

«محمد بن احمد بیروني، په خپل علمي نوښـــتګر (خلاقه) واک (قدرت)، سرشــارې قریحې او قوي حافظې سره وکولای شول چې د علم او پوهې نړۍ ته ۱۹۵ علمي او فرهنګي آثار ورکړي. هغه د مډرن علمي مېتود بنســـټ کېښـــود. مهمې څېړنې، کشـفونه او اختراعات یې تر سره کړل. بیروني د هند نیمې وچې ( شـبه قارې) ته له خپل علمي او تحقیقي سفر وروسته وکولای شول، چې د خپلو ارزښتناکو لیکنو پر

بنسټ درې ستر انساني تمدنونه یعنې اسلامي تمدن، هندي او یوناني یو له بل سره پیوسته (وصل کړي).»۹

«لوستونکي کولای شي د بیروني د لیکلو علمي آثارو د نومونو له مطالعې څخه تر یوه ځایه د بیروني د علمي تبحر اندازه ولګوي او په دې باندې پوه شـــي چې، نبـــاغلی بیروني په داســـې حال کې چې اصـــلي مســـلک یې د هیأت (فلکیاتوعلم)و، تقریباً د علومو په هره څانګه کې د پوره تحقیق، تتبع او متعددو تألیفاتو خاوند و.»۱۰ «البیروني لنډې او دقیقې لیکنې کولې او راساً (په مستقیمه توګه) د موضوع تل ته ننوت.»۱۱

البیروني، د ګڼ شـــمېر علومو په برخه کې ډېر پراخ، جامع او هراړخیز معلومات لرل. د ده لیکنې د علمي نظم او دسـپلین تابع دي. څېړنې یې پر ټاکلو علمي اصـولو او پرنسـیپونو باندې ولاړې دي. هغه په انتقادي روحیه لیکنې کولې. تریخ او تند قلم یې لاره. د هغه د لیکنې د ســبک ســتونزې له دې امله نه وې چې، پېچلې لیکنې یې کولې، بلکې له دې امله وې چې، پوهانواو دانشـمندانو ته یې لیکنې کولې او د ده په علمي تحقیقاتو باندې د ادنی سـویې لوسـتونکي نه پوهېدل. نامتوعالم، وتلی مؤرخ او نومیالی منجم و. په حقیقت کې« البیروني بحرالعلوم و، د ډېرو غوره اخلاقو خاوند، حق پالونکی او له هر ډول تعصـباتو څخه پاک لوی عالم، حکیم او طبیب و.»۱۲

د یوناني او هندي فلسفې د کره کتونکي علامه بیروني په نظر:

د یونان د فلاسفه وو او د هندي فلاسفه وو له نظرونو سره د یونان او هند کلتورونه او خرافات ګډ شوي دي، له دې امله د دوی خبره، وروستۍ خبره (حرف اخر) نه ده.

بیروني به ویل:

«علم تر هر څه لوړ دی، هېڅ شی په هغه برتري نه لري.»۱۳

د بیروني ګڼ شمېر علمي کامیابۍ د هغه د علمي دریځ له امله وې: «بیروني د یوې علمي موضـــوع یا د یوې مســـئلې د څېړنې په وخت کې، په دقیقه توګه له علمي مېتود نه پیروي کوله. د هغه ذهن له هر ډول مخکینې قضاوت او افسانو نه مبرا و. د یونان فیلسوفان یې وروستی ریفرنس نه باله. سیاح، فیلسوف، ریاضي پوه، جغرافیه دان، جامع العلوم (انسـایکلوپیډیالیسـت)، د اسـلام ډېر سـتر دانشـمند او د ټولو په نظر د ټولو زمانو لوی عالم و. انتقادي روح یې لر له، په حقیقت میئن و، فکري شـهامت یې لاره. هغه په پټو سـترګو د منځنیو پېړیو عقیدې نه منلې. هغه غوښـتل

غنم او پروړه سره جلا کړي. هغه هر هغه څه ردول، چې د انساني عقل او طبیعت د قوانینو خلاف وي. هغه نقاد فیلسوف او فلسفه یې انتقادي فلسفه وه. د هغه انتقادي روحیه په دوو جهتونو کې ځلېدله: یو د فلسفي افکارو او عقایدو د څېړنې په برخه کې انتقادي روش په کار وړل او بل د معرفت د نظریې په حوزه کې نقادانه بینش.»۱۴

د البیروني یو څوعلمي ځانګړنې او علمي لیدلوری:

«ابوریحان له تعصبه کرکه کوله، خصوصاً له علمي تعصبه. وایي: تعصب د اهل بصیرت سترګې ړندوي، غوږونه [یې] کڼوي او انسان د ناپوهې خواته بیایي.

البیروني په خپل دین پوه مسلمان و. په دې اړه یې ګڼې لیکنې کړې دي، خو د نورو ادیانو د پیروانو په اړه یې هم پراخ نظر درلود. دی په دې پسې نه ګرځېده چې څراغ د چا په لاس کې دی، ده د څراغ له رڼا څخه استفاده کوله.

البیروني به ویل چې: د ریاضیاتو، نجومو او جغرافیې زده کړه، د دین په تاوان نه، بلکې د دین په ګټه کار دی.

ځینې افراطیان علم ته الحاد وایي؛ دوی ریاضي، جغرافیه، نجوم [او]... شیطانی علوم ګڼي او وایي چې، دا د خلکو د ګمراهۍ سبب ګرځي، خو واقعیت داسې نه دی. دوی غواړي چې خلک په نادانۍ کې پاتې شي او دوی خپل جهالت ورباندې وتپي. له همدې امله د علم او عالم مخه نیسي.» ۱۵

البیروني یو لوی انسان و او ګڼ شمېر کمالونه یې درلودل. ده به ویل:

«پوهه په خپل ذات کې یوه نېکه او شریفه پدیده ده، څوک چې په پوهې پسې ګرځي، تل به نېکمرغه وي.»۱٦

البیروني، په خپل ټول ژوند کې، له کتاب او قلم سره خپله اړیکه ونه شکوله، بلکې په ډېره ښه توګه یې دغه اړیکه وپالله. ده بې پرې او پرحقایقو ولاړې لیکنې کولې، بې طرفانه لیکنې او قضاوتونه یې ډېر خوښېدل.

«ده په غزني کې یوه جنتري جوړه کړه. دې جنتري کوچنی ساده ماشین درلود. لوی کمال یې دا و چې د پنځه وخته آذان په وخت به یې ټکا خته او مؤذن به یې د آذان په وخت پوهاوه. البیروني دا جنتري د غزني د جامع جومات پر دېوال را وځړوله، خو د جومات ملا امام یې مخالفت وکړ، ویل یې چې: له جنتري څخه استفاده د رومیانو کار دی، نه یې منم.

البیروني خبرې ورسره وکړې، ویل یې چې دا جنتري یې له مؤذن سره د مرستې په خاطر جوړه کړې ده...آذان به پر وخت وي، خو ملا نه قانع کېده، جنتري یې غیر اسلامي ګڼله. البیروني ته غوسه ورغله، جنتري یې له ځمکې وویشته، ویل یې:
تاسې ته ولې هر نوی شی بېګانه ایسي-؟! د روم خلک زموږ غوندې خوراک کوي، زموږ غوندې پر لاره ځي، نو موږ خوراک ونه کړو، ګامونه وانه خلو...؟!»۱۷
«د بیروني علمي او تحقیقي تفوق [برتري] حتی د زرو[۱۰۰۰] کالو پخوا تېروشوو نامتو عالمانو د تحقیقاتو په نسبت په ځرګند ډول ثابت دی. مثلاً د ځمکې د محیط پیمایش [کچ کول] چې په پخوانیو زمانو کې د یونانیانو، هندیانو، مسلمانانو او بیروني له خوا ترسره شوی دی، یواځې د بیروني پیمایش چې ده د یوې نوې قاعدې په اساس په خپلسر- یعني بې له کوم مرستیال شخه سر ته رسولی دی، د اوسنی زمانې له تحقیق سره ۷۹ میله توپیر لري چې د اوسني عصراو هغې زمانې د مقایسې په نسبت دغه تفاوت د ملاحظې وړ توپیر نه شي بلل کېدای او امکان لري چې، نن ورځ دې هم د بېلو بېلو ډلو د پیمایش په نتیجه کې دغومره توپیر منځ ته راشي. په داسې حال کې چې د یونانیانو او هندیانو د تحقیق توپیر د اوسني عصر- د تحقیق په نسبت زرونو میلو ته رسېږي. د ښاغلي بیروني دغه حیرتناک او د تعجب وړ کار ته چې په غور او دقت وکتل شي، نو باید وویل شي چې، دی یواځې په اسلامي دنیا کې نه، بلکې د ټول جهان له هغو نامتو پوهانو ځخه یو داسې ممتاز عالم شمېرل کېږي چې هر انسان د ده په شخصیت باندې ویاړلای شي.»۱۸
د البیروني ړوند تقلید نه خوښېده، په پټو سترګو یې نه قضاوت کاوه او نه یې مانه. ویل به یې: که نوې څېړنې ونه لرو او یواځې د تېرو پوهانو نظرونه ومنو، نو علم به په ټپه ودرېږي. البیروني د تحقیق لپاره یو شمېر داسې اصول ټاکلي ووچې اوس هم د هغو له اهمیت نه انکار نه شي کېدای. د البیروني د تحقیق څېړندود پرنسیپونه په لاندې ډول دي:
«۱. تر هرې څېړنې مخکې باید خپل مغز له تعصب او شخصي- اغراضو تش کړو؛ په نژادي، سمتي، مذهبي او لساني نفاق پسې مه ګرځئ.
۲. د طبیعي علومو د پدیدو د موندلو په وخت کې خپله د طبیعت قوانینو ته ور وګرځئ.

۳. کـه غواړئ چې د یو څـه پـه اړه څېړنـه وکړئ، نو اول د هماغـه شي اجزاوې را وسپړئ.
۴. کوم معلومات چې د احســـاس له لارې تر لاســـه کېږي، له کلي احکامو، جزیي احکام راوباسئ.
۵. اخباراو احکام له یو بل سره مقایســـه کړئ، یواځې هغه څه د حقیقت په توګه وپېژنئ چې د امکان له دایرې بهر نه وي؛ په دې معنا چې د طبیعت له موجوده قوانینواو نظم سره ټکر ونه لري.
٦. په علمي څېړنو کې لومړی د موضـوع په معلومو اړخونو فکروکړئ؛ ځان ور باندې وپوهوئ، وروسته په نامعلومو پسې وګرځئ.
۷. په پخوانیو موضـوعاتو د پخوانیو کســـانو لیکنې او نظریات مطالعه کړئ. دوی په هماغه وخت کې ژوند کړی، موضـوع ته تر موږ ډېرورنږدې ول، خو وروســـتی یې مه ګڼئ.
۸. د تحقیق پروخت لومړیو (اول لاس) منابعو ته مراجعه وکړئ.
۹. یواځې قیاس ګټه نه لري، اول قیاس وکړه، بیا یې تجربه کړه.
۱۰. له نورو تقلید مه کوئ، خپله لاره ومومئ.
د څېړنې دا مېتود د هغو محققینو لپاره نوی اومســلکي و چې په لسـمه او یوولسـمه پېړیو کې یې ژوند کاوه.»۱۹
البیروني په خپله د همدې څېړندود په اړه داسې ویلي دي:
«دا مقصد ته د رسېدو تر ټولو اطمیناني لارې دي. دا مېتود د مسئلې په اړه شک او تردید له منځه وړي. که غواړو چې ځان وپوهوو او جامع څېړنه وکړو، له دې مېتود پرته بله لاره نشته.
البیروني له لومړنیو کســـانو یو و چې په مشـــاهده او تجربه یې تر هر څه ډېر باور درلود. ده د نویو څېړنو لپاره یواځې فکراو خبرې کافي نه ګڼلې، ده غوښـتل چې هر څه په تجربه اثبات کړي.»۲۰
یراتف لیکي چې:
«بیروني د یوه واقعیت بین او بې غرضه محقق په صفت د هند په فلسفي سیستمونو کې مترقي نظریاتو او تمایلاتو ته په لوړ نظر ګوري.»۲۱

غوث خیبري لیکي:

«البیروني چې د هند کوم حال په خپل اثر کې ولیکلو، هغه د علمي تحقیق کوونکو له خوا د لرغوني هندوستان د تاریخ، ادب، مذهب، اقتصاد، فلسفې، جغرافیې، نجومو او نورو معلوماتو دپاره یو ستراطمیناني، صحیح، پوخ او کامل سند دی چې د (کتاب الهند یا تحقیقات ماللنهد) په نوم یادېږي.» ۲۲

د البیروني د ژور تحقیق یو اساسي علت دا و چې په ګڼو ژبو پوهېده او ان په یوه وړه موضوع پسې به یې په نورو ژبو د لیکل شویو کتابونو پاڼې اړولې.

ډاکټر ذبیح الله صفا وایي:

د البیروني تحقیقات دومره ژوراو مؤثق دي چې هېڅ وخت به خپل علمي ارزښت له لاسه ور نه کړي. ده د خپل تحقیق لپاره له څو ژبو او څو مأخذونو کار اخیست. خپلې تجربې او تحلیل به یې ورسره ګډ کړ او کله چې به خبره پوره پخه شوه، بیا به یې په لیکنه کې راوړه. ده په خپل کتاب (تحدید نهایات الاماکن..) کې نورو څېړونکو ته سپارښتنه کړې چې د علمي څېړنو په دقت او صحت هر وخت شک وکړئ. همدا شک یقین پیدا کوي، تر هغو شک وکړئ، چې شک مو رفع شي.»۲۳

ابن سیناء د ارستو پرافکارو میئن و، خو ابوریحان ویل چې علم باید له خرافاتو بېل کړو. په همدې اړه د دواړو (ابن سیناء او البیروني) ترمنځ ګڼ علمي لیکونه تبادله شوي دي. په ډېرو دې لیکنو کې البیروني نظر ورکړی چې افلاطون، ارسطو او د پخواني یونان نورو پوهانو علم ته لوی خدمت کړی، خو نظریات یې باید له سره وارزوو، وروستي یې ونه ګڼو او نور تحقیق وکړو.»۲۴

## پایله

پورتنۍ څېړنه د دې ویندوی ده، چې د افغانستان نامتو علامه، د مختلفو موضوعاتو د علمي څېړنو په لټه کې په خوارزم، خراسان او هند کې ډېر کلونه تېر کړي دي او په هېڅ وخت او هېڅ ځای کې، د خپلو علمي تحقیقاتو په بهیر کې له خپل علمي دریځ څخه، نه دی په شا شوی او دا کار د نوموړي علمي تقوا ښیي.

افغانستان یو وروسته پاتې ساتل شوی هېواد دی چې چنداني د ستاینې وړ اقتصاد نه لري. کانونه او خزانې یې شته، مګر د هغو د را ایستلو لپاره یې، لا تر اوسه پورې د حکومتونو په سطحه، د ډېرې ستاینې وړ منظمې علمي هڅې نه دي پیل کړې.

له دې امله يې نړيوال په غريبو هېوادونو کې شـــمېري، مگر د دې بېوزلي هېواد شهرت، د نړۍ په کچه تر هغو هېوادونو ډېر دی چې ښه اقتصاد لري. پوهان يې يو علت په دغه بېوزلي هېواد کې د داسې دايرة المعارف مغزه علمي ککرو شتون بولي چې نړۍ ورته حيرانه ده. په دغو بې جوړې عالمانو او نوابغو کې؛ امام ابو حنيفه (رح)، مولانا جلال الدين محمد بلخي، حکيم ابن سـينا، علامه ابوريحان البيروني، حضرت خوشحال خان خټک، علامه سيد جمال الدين افغان، علامه اکاډميسين پوهاند عبدالشـکوررشـاد او يو شـمېر نور شـامل دي. دا پوهان د علم په نړۍ کې نړيوالې څېرې دي او په نړيواله کچه پرې حسـاب کېږي. په دغه ليکنه کې د يوه داسـې لوی اوممتاز علمي شـخصـيت پر علمي دريځ باندې خبرې شـوې دي چې دنياوال يې علم، پوهې او ادب ته گوته په غاښ دي ، دغه نادر او نابغه علمي شخصيت؛ نوميالی علامه ابوريحان البيروني دی.

له دې امله، موږ ځوانو څېړونکو ته د دې علمي شخصيت د آثارو په غور او دقت سره مطالعه ډېره ضرور گڼو او هيله کوو، چې د ده آثار د ځوانو څېړونکو او ليکوالو لپاره، لا په زړه پورې، جالب او گټور لارښـــوونکي شي، ترڅو په راتلونکي کې، په پوره باور سره، زموږ په تاريخي هېواد کې د علمي او ادبي څېړنو د پرمختيا او پراختيا په لاره کې منظم او ميتوديک گامونه اوچت کړي او په نژدې مســتقبل کې، په علمي څېړندودونو ولاړ او برابر آثار ټولنې ته وړاندې کړي.

## وړانديزونه

دا چې د البيروني زيات شـــمېرآثار په عربي ژبه باندې دي او ډېر لږ يې په دري ژبه باندې ليکلي دي، نو زما وړانديز دا دی چې د افغانســـتان بېلابېل علمي مرکزونه او اداري دې، په پښتو ژبه د هغه د ټولوآثارو د ژباړې او چاپ اهتمام وکړي.

## مأخذونه

۱. نصـيراحمد احمدي. د غزني غمی. اسـد دانش مطبعه: کابل، ۱۳۹۷لمريز کال، ۱۶مخ.

۲. دکتور محمد علی نجفی و دکتور مهيار خليل. انديشـــمند ابوريحان بيرونی. تهران، طبع شرکت چاپ گهر: سال ۱۳۵۲خورشيدی، ص۷۹.

۳. پورتنی مأخذ. ص۹.
۴. مخکینی مأخذ. ص۱۰.
۵. د غزني غمی، ۲۱مخ.
٦. اندیشمند ابوریحان بیرونی. ص۱۱.
۷. کمیته علمی تدویر سیمینار بین المللی ابوریحان بیرونی. استاد خلیل الله خلیلی.«مقام اخلاقی انسان در نظر البیرونی». دانشمندی بر فراز زمانه ها (مجموعه مقالات ابوریحان بیرونی)، مطبعه اسد دانش: کابل، سال ۱۳۹۷ خورشیدی، ص ۸۵.
۸. احمدي، نصیراحمد. د غزني غمی (د البیروني ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه)، اسد دانش مطبعه: کابل، ۱۳۹۷هـ.ل کال، ۱۹مخ.
۹. دانشمندی بر فراز زمانه ها (مجموعه مقالات سیمینار بین المللی ابوریحان بیروني)، مطبعه اسد دانش: کابل، سال۱۳۹۷هـ ش. ص٦.
۱۰. برني، سید حسن. ژباړونکی: عارض، عبدالاحد. مهتمم استاد حبیب الله رفیع. ابوریحان البیروني (د مقالو ټولګه). د افغانستان اکاډمي. د پښتو د انکشاف او تقویې ریاست، دولتي مطبعه: کابل، ۱۳۵۲هـ. ل کال، هـ مخ.
۱۱. زخاور. ترجمه و اقتباس دوکتور پوهنوال مجروح. البیرونی و هند (مجموعه مقالات).انجمن تاریخ و ادب اکادمی افغانستان، مطبعه دولتي: کابل، سال ۱۳۵۳خورشیدي، ص۱.
۱۲.آریانا دایرةالمعارف، لومړی ټوک. د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرةالمعارف ریاست، نبراسکا چاپخونه: کابل، ۱۳۸٦هـ. ل کال، ۱۵۵مخ.
۱۳. دانشمندی بر فراز زمانه ها (مجموعه مقالات سیمینار بین المللی ابوریحان بیروني)، ص۸٦مخ.
۱۴. دانشمندی بر فراز زمانه ها (مجموعه مقالات سیمینار بین المللی ابوریحان بیروني)، ص۲۹.
۱۵. د غزني غمی (د البیروني ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه)، ۵۸مخ.
۱٦. پورتنی مأخذ.۵۷مخ.
۱۷. مخکینی مأخذ.۵۹مخ.
۱۸. برني، سید حسن. ژباړونکی: عارض،عبدالاحد، ابوریحان البیروني، و مخ.

۱۹. د غزني غمی (د البيروني ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه)، ۳۷مخ.

۲۰. پورتنی مأخذ. ۳۸مخ.

۲۱. يراتف. ژباړن: نورزی، گل محمد. «ابوريحان بيروني او د هند فلسفه». ابوريحان البيروني (د مقالو ټولگه)، ۳۳مخ.

۲۲. غوث خيبري.«علامه البيروني د هند د اوســـنيو پوهانو په نظر کې». ابوريحان البيروني (د مقالو ټولگه)، ۹۱مخ.

۲۳. د غزني غمی (د البيروني ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه)، ۳٦مخ.

۲۴. پورتنی مأخذ، ۳۷مخ.

پوهنمل گل رحمن رحماني

# غزل او تغزل

# Ghazal and Taghzol

**Assistant prof. Gul Rahman Rahmani**

## Abstract

Ghazal and Taghzol are one of the hot topics in literary criticism, especially in poetics and poetry criticism, which have been introduced so far in simple and basic definitions, but both of these terms are necessary because Ghazal belongs to other genres. A poem has a literary history and a long life. Ghazal, apart from its simple recognition, is the name of an artistic quality, and Ghazal is its essence in the text of the poem, which has its value in the power of the poem .

The ghazal is included in the body of the ghazal as a soul in the existence of the ghazal, and its purpose is the poetic quality that makes the poem beautiful. The colorfulness of the words, the depth of the meaning, the intensity of the emotions and the aesthetic quality, and this beauty is so

deep in the sonnet that we cannot set limits for it. taghzol is not a poetic art either, but this is the special fit of every subtle art.

## لنډیز

غزل او تغزل د شعر په کره کتنه کې د ځانګړي بحث وړ موضوع ده چې تر اوسه پورې تر ډېره د خپلو ساده تعریفونو په رڼا کې پېژندل شوې ده، خو یو له بل سره د لازم او ملزوم په زرین تار تړلي او دغه تړاو د تاریخ په اوږدو کې تر نورو شعري ژانرونو زیات عمر ور په برخه کړی دی. غزل له خپل ساده تعریف ور هاخوا د یوه هنري کیفیت نوم دی او تغزل په دغه کیفیت کې هغه نغښتی جوهر دی چې ارزښت یې د شاعر د ریاضت او په غزل کې د پناه کېدو له کچې سره تړاو لري.

غزل د وجود یا بهرني جوړښت او تغزل په بدن کې د روح حیثیت لري او موخه ورڅخه هغه تغزلي کیفیت دی چې په شعر کې ښکلا او رنګیني پنځوي. د الفاظو رنګیني، د معنا ژوروالی، د جذبې شدت او ښکلاییز کیف د دغې اړیکې نور جوړوونکي اړخونه دي. بله دا چې د دې کیفیت ښکلا دومره پراخه ده چې یواځې تر غزل او ان شاعرۍ پورې هم محدودیت نه لري، د شاعرانه هنر زېږنده هم نه ده، بلکې دا د هر لطیف فن او ښکلا ځانګړی تناسب دی چې همغه د غزل د تغزل په څېر کیف او خوند لري.

## سریزه

غزل د منظوم ادب تر ټولو محبوب ژانر دی چې شاعران په کې په ښه او هنري ډول خپله طبعه ازمایلی شي؛ د هغه بیان ته یې د الفاظو او معنا غوره چاپېریال مساعد کړی دی. ښایي په همدې سبب به ځینو کره کتونکو غزل ته د نظم د ناوې (تر ټولو ښکلې او زړه راښکونکې یا د پاملرنې وړ) نوم ورکړی دی.

زموږ د کلاسیکې دورې شاعري تقریباً ټوله پر غزل ولاړه ده او هر یو شاعر په کې تر خپل وس پورې د هغه سبکي ځانګړنو په پام کې نیولو سره په کې ښکلاییزه زیاتونه کړې ده، حقیقي او مجازي مینه، عرفاني او تصوفي تمایلات او حتی رزمي

لیدلوري هم د غزل خواږه له ځان سره لري چې همدې کار د هغوی د شـــاعرۍ په ښکلا، زړه راښکون او تلپاتې والي کې خپل ادبي نقش تر سره کړی دی.

د شاعرانو لپاره د شاعرۍ په ګلبڼ کې د غزل د ژانر د انتخاب لاملونه به زيات وي، خو له شک پرته چې تر نورو ژانرونو په شکلي لحاظ د غزل لنډه جوله، کم قيودات او کم بيتونه د دې سـبب شـوي چې د شـاعرانو ذهن ډېر بوخت نه کړي او پر ځای يې مطلب او محتوا ته يا د هندي سبک د مضمون کلمې د معنا په لحاظ چې د موضوع هنري او تصـــويري بيان ته وايي، وخت ورکړي او خپل ټول تخيلي ځواک دې ته متمرکز کړي چې د دغه هنري او تصـــويري بيان پر مټ څنګه په غزل کې د ښــکلا ساه پوه کولی شي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

په پښتو شاعرۍ کې غزليزه شاعري زياته کېږي، خو د غزل د کره کتنې او ښکلا ســـپړنې محور ســـوړ او غير معياري دی، فکر کېږي چې د مطلع او مقطع، د بيتونو شـــمېر او د معشـــوقې له سرسري ذکر سره د غزل حق ادا کېدلی شي، حال دا چې غزل د شاعرۍ د جذبې لېونۍ نشه او د الفاظو په رنګين سمندر کې د تورو د ګران بيه مرغلرو سـخت لټون غواړي، د دې کوچنۍ مقالې له لارې به شـاعرانو او د شـعر لوستونکو ته د غزل او په غزل کې د پټ جوهر (تغزل) د پېژندنې تر څنګ د دواړو تر منځ د هنري اړيکو او راز د کشف موضوع څه ناڅه وسپړل شي.

## د څېړنې موخې

په پښـــتو ژبه کې زياتره لوی شـــاعران د غزل ژانر په برکت تر اوچت نوم او مقامه پورې رسېدلي، خو غزل يې د عمر او ټول ژوند په بيه پاللی دی، ګڼ مبتدي شاعران فکر کوي چې غزل د شاعرۍ تر ټولو ساده او اسانه ژانر دی چې شاعري يې سخت کار نه دی، هغوی د غزل او تغزل له عالي هنره کم معلومات لري، په همدې موخه د دې څېړنې ګام اوچت شوی، چې د لويانو د ريا ضت له کيفيت او نوو شاعرانو ته د غزل او تغزل د جوهر په اړه څه ناڅه پوهاوی وړاندې شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱) غزل او تغزل څه ته وايي؟

۲) د غزل او تغزل ترمنځ هنري اړيکې کومې دي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تحلیلي او تشریحي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## د مقالې متن

د غزل د لغوي معنا سپړنې په برخه کې اکثرو د غزل او تغزل څه ته وایي؟ ادبپوهانو دا خبره را اخیستې ده چې غزل په لغت کې له ښځو او حسینو ښځو سره شوخۍ، مستۍ او خبرو ته وایي، چې د جنسیت یا خاص مخاطب له اړخه دا خبره ډېره سمه نه ده او پروفیسور پرېشان خټک یې په یوه توضیح کې وایي: سمه ده چې غزل له ښځو سره خبرو ته وایي، خو جنس باید ونه ټاکل شي، ځکه نن سبا نړدې په هره ژبه کې د غزل اوچتې ښځینه شاعرانې شته دي چې ډېر ښه غزلونه وایي، نو اوس باید دا ومنو چې غزل د مینې د یوه کیفیت د اظهار نوم دی او دا مینه له هر چا او مخالف جنس سره کېدای شي.

په همدې ډول تغزل هم یوه ګڼ ژبې اصطلاح ده، خو هر څوک ورته جلا تعریف لري، په فارسي شعر او ادب کې تغزل د قصیدې شعري ژانر د پیل بیتونو ته ویل کېږي چې له مدحې وړاندې له عشق سره تړلي مضامین لري، خو د شاعر د دننني حالت، عواطفو یا د روان انځور وړاندې کوي. ژور تخیل، منظره او انځور کښنه، له ادبي صنایعو په ځانګړي ډول استعاراتو او مدعا المثلونو هنري ګټه اخیستنه په غزل کې د تغزل جوهر پالي. بل تر ټولو مهم توک یې اوچت، په کشف او معناګانو بډای تخیل دی. د شعر ځینو کره کتونکو خیال په دوو ډلو وېشلی دی:

الف: ساده خیال

ب: مرکب خیال

په ساده خیال کې شاعر د یوه واحد موقف څرګندویي کوي یا یوه معنا روښانوي. مرکب خیال بیا د څو خیالي انځورونو ګډوله ده چې له یوه بل سره تړلي وي. د مرکب خیال اغېز ډېر وي، پر انسان ډېر اغېز کوي، داسې لکه دی چې ښکلا په خیال کې نه، په واقعیت کې ویني. (۵۹:۲ مخ )

دا چې د غزل څمکه د عالي تخییل د کښت لپاره ډېره مناسبه ده، نو ځکه د غزل شاعران له مرکب خیال څخه ډېره ګټه اخلي، نامتو شاعران یې حتی د غزل هر بیت کې جلا انځورګري کوي او د جلا دنیا خبرې په کې وي، خو دا ډول بیا په یوه

عمودي ترکیب کې سره هنري اوډون هم لري چې دا کار د تغزل پیاوړتیا کې خپله ونډه اخلي، ښایي همدا لامل هم وي چې د شاعرۍ په لوستونکو کې یې غزل ته پراخ محبوبیت ور په برخه کړی دی.

حمزه بابا چې کله پښتو غزل ته د خپلو ورکړو پر بنسټ یوې برحقې شاعرانه لوړتیا ته ځي او وایي چې:

ستا په اننګو کې د حمزه د وینو سره دي
ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم

نو دا ربښتیا هم د یو عمر خواري غواړي چې شاعر له غزل نه غزل جوړ کړي، له غزل نه د غزل جوړولو دغه سخت پړاو ته ـ چې حمزه بابا د خپل زیار او زحمت وینې ورکړې، خو بیا یې هم همزولی کړی نه دی ـــ د تغزل خواري وایي، داسې خواري چې تعریف یې ګران دی، خو د شاعرۍ او تخلیق له هنر سره اشنا شاعر او ادیب ور باندې پوهېږي او د دغه کیفیت ځانګړې معنا او تعریف هم وړاندې کولی شي.

که څه هم په پښتو شاعرۍ کې ګڼ پخواني او اوسني کتابونه له داسې شعرونو ډک دي چې هم یې په سر غزل لیکل شوی او هم د ظاهري شکل یا جوړښت له مخې د غزل له تعریف شوي فورم سره ورته دي، خو داسې شعرونه کم دي چې په ربښتیني معنا د غزل د تعریف په چوکاټ کې دې برابر وي، ځکه چې یواځې د غزل د فورم رعایت هر شعر ته د غزل هویت نه شي ورکولی، بلکې دا د یوه ځانګړي کیفیت او مفهوم نوم دی چې د تغزل په بحث کې څېړل کېږي.

دا کیفیت ډېر خوږ، ټول منلی او تلپاتی دی، مینه او عشق، د غزل په لغوي تعریفونو کې بیا دا مینه نوره هم مشخصه شوې او ځینو ورته له ښکلو ښځو سره د خبرو او شوخۍ نوم ورکړی دی، نو دا چې د مینې پیغام تلپاتې دی، انسان په هره زمانه کې د مینې محتاج او له زړه مجبور دی، بس داسې غزل هم نه یواځې چې نه مري، بلکې په هره زمانه کې د مینې له نوي شدت سره له سره را ژوندی کېږي، په ځان کې د مینې له سمندره نوې مرغلرې جوړوي او دغې فضا ته د خپلو څپو او اهنګ له شوره نوی رنګ او خوند وربخښي. (۱۴۳:۳مخ)

د غزل د محبوبیت او تلپاتې والي په برخه کې د غزل مخاطب یا لوستونکی هم خپل رول لري، کله کله ادبي ژانرونه د لوستونکي یا مخاطب د تاوده هر کلي پر

بنســـټ هم تلپاتې کېږي او پالل کېږي، پنځګر يې ورته ډېره پاملرنه کوي او په ټوله کې د همغه ژانر د رامنځته کوونکو تر منځ يوې داسې هنري سيالۍ ته لاره برابرېږي چې نومړې يې مخاطب ورکوي.

دا چې ولې په معاصره شاعرۍ کې ګڼ غزلونه د غزل ذاتي او فطري جوهر نه لري او هغه زړه راښــکون په کې نه وي، لکه: د خوشــحال بابا، عبدالرحمان بابا، حميد بابا، کاظم خان شيدا او هم اوسنيو سترو شاعرانو په غزلونو کې مو چې جذبوي، يو لامل يې هم د شاعرانو د تغزلي رياضت ټيټه کچه ده، د غزل شاعر د غزل شاعري د عادي شاعرۍ په څېر اسانه او ساده کار نه دی.

د غزل شاعر چې تر څو د غزل د ا صل حق ادا کولو لپاره د تغزل د نړۍ په رنګينو او د رياضـت په دنيا کې سـخت او پېچلي مزل ونه وهي، خپل تقليد د مشـاهدې او هنري تجربې پر بټۍ پوخ نه کړي، نو ګرانه ده چې خپل غزل دې د هر زړه او ذهن خبره کړي، يا دې د هغه غزل د کتابونو له پاڼو لرې په زړونو او ذهنونو کې غزونې وکړي، وار په وار يا وخت په وخت ورڅخه لوستونکی هغه پټه ښکلا را وباسي چې په کې نغښتې ده.

د درويش دراني يو مشهور غزل داسې دی:

بيا په جنګ ښکاري هوا او ځراغونه
خدايه وساتې رڼا او ځراغونه
يه مرګيه! ماشومان مې راته خاندي
سره پرېږده څو شپې ما او ځراغونه
خپل مخونه ستا د مخ په رڼا مينځي
لمر، سپوږمۍ، ستوري، برېښنا او ځراغونه
په دې نور پسې سپېڅلو خلکو مه ځئ
يو ځای شوي دي بلا او ځراغونه
د وطن په هديرو کې وي درويشه!
هـره شـپه نـرۍ ژړا او ځراغونه (۳:۱۸۳مخ)

په پورتني غزل کې د پښتنو د کــــور ـ کـلي د يو ټولنيز درد يو ژور تراژيک انځور وړاندې کوي، د مرګونو هغه کيسه چې له لسيزو پر دوی را روانه ده، د هوا او ځراغونو

جګړه، مرګ ته یو څو شـــېبې د ژوندي پاتې کېدو زاری، له بلا سره د څراغونو یو ځای کېدل او په هدیره کې هره شپه د څراغ رڼا ته د تورو خاورو په نازک بدنو مېلمو پسې نری ژړا یو درد دی، خو درد د هنر او خوږو لفظونو جامې اغوستې، د یوې ټپې مینې بیان دی، ولې په درېیم بیت کې بیا په اوښکو کې د موسکا یو څرک هم شته، دغه یادو کړو ناخوالو او درد ســـیوري بیا هم د یو چا د مخ رڼا نه ده تته کړې، پنځه رڼا وېشـونکي (لمر، سـپوږمۍ، سـتوري، برېښـنا او څراغونه) بیا هم د هغه د نور په شغلو خپله رڼا مينځي.

مصـــطفی ســـالک د غزل د نوي تعریف په برخه کې د خپل اســـتاد تقویم الحق کاکاخېل یوه خبره را نقل کړې ده او لیکي: کله چې ښـکاري سـپی هوسـۍ پسـې واخلي، ویې ځغلوي او په پای کې هوسۍ ماته ومني او خپلې غمجنې سترګې سپي ته راواړوي، دغه وخت د هوسۍ سترګې خدای زده په سپي څه جادو وکړي، سپی سترګې ښکته کړي او روان شي، نو وایي دغه وخت به عربانو ویل چې (غزل الکلب) سپی غزل شو. (۳۷:۵مخ)

شاعر او حمزه پېژندونکی پوه استاد فضل ولي ناګار که څه هم د تغزل واحد تعریف ګران بولي، خو بیا یې هم په دې باب خپل تعریف داسې وړاندې کړی دی:

تغزل د یوه شـــاعر د ډېر ذهني، فکري ریاضـــت او ژورې مشـــاهدې پایله وي. دغه انځورونه په ټکو څرګندول، د الهام پوړیو ته ورختل دي. ټکي خو له اره سېبمونه دي چې ځینې یې خواږه، زړه راښـکوونکي او لطیف وي، لکه د توتي او بلبل اوازونه، خو ځینې یې لکه د حیواناتو مکروه او بد وي.

دا چې د عبدالرحمان بابا د شـــاعرۍ ښـــکلې ماڼۍ هم تر ډېره د غزل پر مرمرينو ډېرو اباده او د خپل تغزل ځانګړی رنګ لري، اسـتاد ناګار یې د راز په اړه زیاتوي: د عبدالرحمن بابا د تغزل کمال دادی چې ډېر ژر خپله خبره د لوســـتونکي په زړه کېنوي او هغه فکر کوي چې زما د خیال او فکر رښـــتیني ترجماني یې کړې ده. بله دا چې د عبدالرحمن بابا شـعر هغه زوال نه منونکې لاهوتي سـندره ده چې د زمان او مکان قید نه لري، له حده وتی اسان (سهل ممتنع) دی. (۷:٦مخ)

د تغزل په ایجاد یا پنځولو کې د شـاعر لپاره په ژبه کې له عواطفو او احسـاسـاتو سره د چلند او شناخت مو ضوع هم ډېره مطرح ده. ښه به وي چې یو څه د عواطفو

په بحث کې د ژبې له لیده هم پاتې شو. احساسات او عواطف اکثره وختونه د تعقل او منطق په مقابل کې دریږي، یعنې تر منځ یې د تقابل اړیکه موجوده ده، څومره چې احساسات پیاوړي کیږي، عقل ځنګ ته کیږي او زموږ د عمل یا چلند په تنظیم او کنټرول کې یې رول کمیږي. دا تقابل د تاریخ په اوږدو کې د دې لامل شوی چې د عواطفو څرګندول د هنر په ژبه یا وســیله څرګند شي او د علمي مطالعاتو اړتیا له منځه یوسي. د عواطفو او جذباتو څېړونکي دا پوښــتنه مطرح کوي چې ایا اســتعاره او نور مجازي توکي د عواطفو لپاره زموږ په فکر اغېز لري که نه؟ وروســـته په ځواب کې وایي چې استعاري مفهوم جوړونه زموږ عواطف او روان تر اغېز لاندې راولي.

وېره، غم، خوښي او نورعواطف او احسا سات د همغه عواطفو او احسا ساتو لپاره یو ذهني انعکاس دی او خپله د فزیولوژیکي او چلندي بدلونونو ســبب ګرځي، مثلاً د وېرې له احساس سره د زړه ضربان زیاتیږي او له ځانه د دفاع هڅه ګړندی شي.

که څه هم د عواطفو نښې نښانې په یوه فرد کې ان له زېږون سره په طبیعي ډول رامنځته کیږي او وروسته یې په شخصیت کې خورا ټاکونکی رول لري، خو له شک پرته چې د ټولنې فرهنګ هم پر دغو عواطفو او احســاســاتو او تر ټولو مهم دا چې د څرګندولو پر څرنګوالي ژور اغېز لري. (۱:۳۷مخ)

د پورتنیو توضیحاتو په رڼا کې اوس کولی شو چې د تغزل د کُلي تعریف په اړه هم نظریات وړاندې کړو او پر اصــلي موضــوع د بحث لمن نوره هم متمرکزه کړو. ګڼو شاعرانو او حتی د غزل د شاعرانو لپاره دا هم د شعر د عمومي تعریف په څېر ګرانه ده چې د دغه تعریف لپاره مشــخصــې کلمې راوړي، د کره کتونکو له انده هم دا تعریف د خپل «ســهل ممتنع» د صــفت یا پراډاکســـــي خاصیت له مخې له ډېر اسانوالي ګران دي.

د غزل شاعرانو دغه تعریف ته له ګل څخه د رنګ او بوی د پېچلې او عجیبه تجربې په ســترګه کتلي دي، چې یوه طبیعي تجربه ده، ژور ذهني ترکیب دی، درک یې زموږ د حسي تجربې محتاج هم دی؛ رنګ او بوی په یوه ګل کې داسې ترکیب شوي او سره نغښــتي وي چې شرحه او بیا تجزیه یې ګرانه ده، د تجزیې همدغه عملیه د غزل او تغزل کیفیت بیانوي.

مصطفی سالک د شعر پېژندنې په اړه په خپلو بحثونو کې یو ځای د تغزل په اړه وايي:

هغه بیت چې تغزل لري باید په یوه اړخ کې یې هم کمزوري احساس نه شي او یو بشپړ او کامل اظهار وي. تغزل زموږ په ټولو کلاسیکو شاعرانو کې لیدل کیږي، خو د هندي مکتب شاعران یې استادان دي.

په اوسنیو کې هم داسې ګڼ شاعران شته چې د تغزل کیفیت زېږولی شي، تغزل یعنې نره غزلیت دا ځیز په مصـــري خان خاطر کې ډېر دی، خو په کلیاتو کې یې موندلای شو، نه په هغو کوچنیو غورچاڼونو او غوره انتخاب شوو ټولګو کې چې ځینو فرهنګیانو د ذوق پالنې لپاره غوره کړې دي.

که په همدې ډول ټول غزلونه نسبي حساب کړو، نو بیا ګرانه ده چې هر شاعر دې د غزل بشـپړ حق اداء کړلای شي، یعنې کامل غزل دې وپنځوي، ځکه د غزل د یوه اړخ پیاوړتیا د بل اړخ کمزوري نه شي پټولی، خو کمزوري یې ډېر غزلیز ښایستونه د تغزل له کچې را پرېباسي. سالک بیا د غزل خیال له نورو شعري ژانرونو نوښـتګر بولي او لیکي: د غزل یوه غوښتنه نه وي چې په اسانه پوره شي، ژبه باید شاعرانه وي، بحر باید خپله موسیقي ولري، کلمات باید ژوندي وي، خیال باید نوښت ولري او نورې ډېرې خبرې، ډېر کله شاعر په یوه اړخ کې پیاوړی وي، خو په یوه بل اړخ کې کمزوری وي. هغه بیت چې تغزل لري، باید په یوه اړخ کې یې هم کمزوري احساس نه شي او یو بشپړ او کامل اظهار وي. (۳۷:۵مخ)

کره کتونکو د غزل او تغزل بحث په معاني پورې تړلی دی، له معاني سره اشـنا شاعران کولای شي چې د تغزل په غني خزانه واوړي، ځکه معاني د یوه شعر د تلنې او سپړنې لپاره درې معیارونه لري چې فضل ولي ناګار یې انځوریزه بیه، موسیقیت او حســي ارزښت بولي او په وینا یې د درېیو واړو له هنري تړون څخه د تغزل غوټۍ غوړېږي او که یو هم په کې نه وي، نو د تغزلیت تومنه بیا پیکه او بې خونده وي.

په هر حال، په موضوع پورې اړوند بل بحث دادی چې په غزل کې د تغزل د غوټۍ سپړنه د معاني له پسـرلي سره هم تړلې ده. په معاني کې ټاکل شوي درې اصله یعنې مساوات، اطناب او ایجاز شاعر د کلام په ځایونو او منا سبتونو پوهولی شي او دا پوهه د غزل شاعر ته په غزل کې د تغزل د ټوکېدو او ودې زمینه مساعدوي.

معاني پوهان وايي چې  له مساواتو څخه په شعر کې اصلي موخه د لفظ او معنا تر منځ تناسب او توازن دی، د دواړو تر منځ دغه توازن سندریز والی زېږوي، ښکلا او ښکلی پیوستون پیدا کوي. په همدې ډول اطناب کې شاعر د مضـــــر اطناب له ناروغۍ ژغوري او د دې ځواک ورکوي چې د اطناب یا غځونې په بیه په کلام کې شته ابهامونه څرګند کړي. په همدې ډول په ایجاز کې بیا شاعر ته د ښکلي لنډون چل ور زده کوي، ترڅو شـــاعر وکولای شي چې په کمو الفاظو کې اغېزناک بیان او حیرانوونکی انځور وړاندې کړي.  دلته دغه درې واړه اصـــله هم د غزل پر ګلورینه ځمکه د تغزل غوټۍ او خوشبو ټوکولی شي. د دې تر څنګ تشبیه، استعاره، ابهام، کنایه، بدیع، بیان او ...توکي هم په غزل کې د تغزل سرچینې ګڼلی شو.

هغه شاعران چې غواړي په خپل غزل کې د تغزل روح پوه کړي او غزل یې تر ډېره ژوندی پاتې شي، نو اړینه ده چې د ژور ریاضت تر منځ خپلو ځینو وړتیاوو او د هغوی روزنې ته هم دقت وکړي چې څو مهمې یې په لاندې توګه دي:

الف) **د جذبې شدت:**  په یوه تعریف کې تغزل د  شاعر د ذهني کیفیت او جذباتي ترون نوم بلل شــوی دی، کله چې شـــاعر له یوې بهرنۍ پدیدې اغېزمن شي، په زړه او ذهن کې یې شــدت پیدا کېږي، بیا د اړتیا له مخې خپل دغه دروني یا داخلي تاثر ته د اظهار لپاره زیار ګالي چې متوازن او تناســب اصــل ته په پام سره داســې انځور وړاندې کړي چې هم د هغه د جذبې شــدت څرګند کړي او هم یې تر شــا پټ اســتعاره شــوی مفهوم په شعریت کې داسې ونغښتل چې مخاطب ورسره په اسانۍ را جذب کړي.

ب) **ښکلاییز کیف:** ډېر ځله د تغزل په اړه دا پوښتنه مطرح کېږي چې خپله تغزل کوم بهرنی کیف دی،  که د کوم  ځانګړي داخلي او  جذ باتي کیفیت نوم دی؟  کره کتونکي په دې نظر دي چې اصـلاً تغزل عرض نه دی، بلکې کیف دی او په فلسـفه کې کیف هغه څه ته وایي چې شــــنه یې نه کېږي. دا ډول کیف  په غزل کې ښــــکلاییزه خوښي زېږوي، بله دا چې د تغزل  شعور او پوهه په هر  شاعر کې وجداني او طبیعي ده چې تش د اظهار لپاره ژبې ته اړتیا لري او د ټولو شاعرانو دا لار سره ورته نه وي.

بل مهم بحث دا دی چې د تغزل دایره یو څه پراخه ده، یواځې تر غزل او حتی شاعرۍ پورې هم محدودیت نه لري، د شاعرانه هنر زېږنده هم نه ده، بلکې  دا د هر لطیف فن او ښکلا ځانګړی تناسب دی چې هماغه د غزل د تغزل په څېر کیف او خوند لري.

ج) **د الفاظو رنګيني:** کاظم خان شـيدا رنګين الفاظ د شـعر رخت او زېور( ګاڼه او ښايست) ګڼي او پر رعايت يې ټينګار کوي. د تغزل په اړه يوه عامه نظريه داده چې تغزل د لفظ او معنا د تناسب او توازن هنري انځور دی، که دا مناسبت نه وي، يعني لفظ د معنا تر درونږ والي لاندې راشي يا هم لفظ د معنا ښـه ژبه ونه ګرځي، نو د تغزل کچه غورځېږي.

همدا لامل دی چې د الفاظو او معنا غوره اړيکې په وينا کې ښکلا او اغېز پنځولی شي. د غزل شـاعر د الفاظو ارزښـت ته زيات پام کوي، اوس پوښـتنه داده چې دا ارزښت څنګه پياوړی کېږي؟ کله چې د الفاظو پيوستون، د مضمون رښتينولي او د هنرمن د احساس روح د شعر جامه واغوندي، نو تغزل رامنځته کېږي، خو ښه فکر او ښـه خيال د الفاظو ارزښـت پياوړی کوي، خو فکر هغه وخت د غزل اصـلي ملکيت ګرځي چې د شاعر په هنر او ښکلا کې اوبه شي.

د) **د معنا ژور والی:** تغزل د يوه شـاعر د اوږده يا ژور ذهني او فکري رياضـت د ژورې مشـاهدې پايلې ته ويل کېږي، څومره چې شـاعر په خپله دې مشاهده کې د پديدو ناليدلو او ناخرګندو خواوو ته لوسـتونکي بيايي، هومره يې د تغزل کچه لوړېږي. دا چې د غزل شـاعر د ښـکلا په باريکۍ او د مينې په اړتيا پوه وي، نو د همدې مشاهدې په لړ کې په ډېرو نازکو اشارو د مطلب ټکي ته ځان رسوي. معناګانې د کلمو تر شـا پرتې وي، په شـاعرۍ کې له کلمو د اصـلي پر ځای ضـمني معناوې ډېرې اخيستل کېږي. استاد اسدالله غضنفر په دې اړه ليکي: د علم ژبه هغه کلمې خوښـوي چې ايکې يوه معنا ولري، خو هنري ژبه د هغو کلمو لېواله ده چې ضـمني معناوې هم لري. (۱۲:٦مخ)

دلته يوه بله خبره د شـاعر عقيده ده، څومره چې دی پر خپله ګروهه ژمن او ولاړ وي، هومره يې په خبرو کې د تغزل جوهر لوړېږي.

## پايله

غزل هر څوک ليکلی شي، خو هر څوک د غزل بشـپړ حق چې تغزل دی نه شي اداء کولی، تغزل د کيفيت او حالت نوم دی، د ژبې، تصـوير، خيال، ښـايسـت او د مينې داسـې رنګين اوډون دی چې له شـاعر خورا زياته خواري او په هماغه حالت کې بشـپړ محوه کېدل غواړي. تغزل د عطرو او ورمې په څېر دی چې په ګل کې

نغښــتی وي، کوم گل چې عطر او بوی ونه لري، له نورو عادي بوټو سره يې چندان توپير نه کېږي. تغزل د بشپړ او کامل غزل ځانگړنه ده، که هېڅ نه وي، بايد غزل کې يو داســې بيت (بيت الغزل) وي چې د تغزل تنده وربانديې ماته شي. د پښــتو ژبې کلاسـيکه دوره په ځانگړي ډول د هندي سـبک شـاعران د تغزل ډېرې اوچتې او تلپاتې بېلگې لري، په معاصر شــعر کې هم د تغزل خواږه شــته، خو ډېر کم شـــاعران د تغزل جوهر او رياضت پالي. پر خپله عقيده د شاعر ژور باور، رنگين الفاظ، د معنا ژور والی، د جذبې شدت او ښکلا پال ذهن په غزل کې د تغزل ټوکېدنې سرچينې دي.

## مأخذونه


۱ـ افراشي، ازيتا. استعاره و شناخت. مرکز علوم انسانی و مطالعات فرهنگی: تهران، (۱۳۹۷ لمريز).

۲ـ پسرلی، اجمل. ښکلا د خوشحال په غزل کې. د علومو اکاډمي او کابل پوهنتون ـ د ادبياتو پوهنځی: کابل، (۱۳۹۷لمريز).

۳ـ درانی، درويش. په کاڼي کې هنداره. کندهار پوهنتون ـ ژبو او ادبياتو پوهنځی: کندهار، (۲۰۱۸ لمريز).

۴ـ رحماني، گل رحمن. د تصوراتو بڼ. د ولسمشرۍ ماڼۍ: کابل، (۱۳۹۸لمريز).

۵ـ سالک، مصطفی. له خاځکي تر سېپۍ. دانش خپرندويه ټولنه: کابل، (۱۳۹۸لمريز).

٦ـ غنضفر، اسدالله. جادوگر هنرـ لومړی چاپ. مومند خپرندويه ټولنه: ننگرهار، (۱۳۹۳لمريز).

۷ـ ناگار، فضل ولي. د رحمان بابا تغزل او شعريت. پوهه مجله. ۳ گڼه. پر له پسې ( ٦۷ ) گڼه. د ننگرهار پوهنتون: ننگرهار، (۱۳۹٦لمريز).

پوهنیار عزت الله نورزی

# دریاب قاموس  ته کتنه

# Discuss about Daryaab dictionary

**Assistant prof. Ezatullah Noorzai**


## Abstract

Many dictionaries written in Pashto, but here we are only looking at the Daryaab dictionary, which has the large Data and use by the most people. Our review will only be for correction. Pashto lexicographers blessed to collect these materials. If these materials made in the light methodology, then we will bring great good to Pashto language. The dictionary headwords are not fix theory. Some word have one meaning, after the word have different meaning some word miss some meaning. It is mean the dictionary headwords need for updates. We discuss about the contemporary lexigraphy methodology, and this discuss about Daryaab dictionary.

## لنډیز

په پښتو کې خورا زیات قاموسونه لیکل شوي، خو موږ دلته یواځې دریاب قاموس ته کتنه کوو چې هم لویه وییزېرمه لري او هم یې زیات وګړي کاروي. زموږ کتنه به

یواځې د اصلاح او سمون لپاره وي. پښتو قاموس لیکونکي دې خیریوسي چې د پښتو ژبې کلمات یې راغونډ کړي او که دغه راټول شوي مواد د مېتودولوژۍ په رڼا کې جوړ شي، نو پښتو ژبې ته به مو لوی خیر رسولی وي. قاموسي وییونه ثابته تیوري نه ده، بلکې د وخت په تېرېدو په کې بدلون راځي، د ځینو وییونو معنا پراخېږي او د ځینو محدودېږي، یعنې د اپډېټ خصوصیت لري، موږ دلته د معاصرې قاموس لیکنې د تیورۍ پر اساس "دریاب" قاموس ته کتنه کوو او په هغو ګوابښونو او ننګونو یې خبرې کوو چې په یوه قاموس کې ورته پاملرنه اړینه ده.

## سریزه

د قاموس لیکنې په برخه کې ډېرې څېړنې شوې او د کمبریج غوندې لوی سیندونه د همدې هڅو پایلې دي چې موږ باید ترې استفاده وکړو. موږ ډېر قاموسونه لرو، خو خبره د معیار ده، څومره معیاري او دقیق سیندونه لرو؟ دا او داسې نورې پوښتنې زموږ موجود قاموسونه ننګوي. زموږ له قاموسونو یو زده کوونکی مؤثره استفاده کولای شي؟ د ورځنۍ استفادې څومره قاموسونه لرو؟ دا پوښتنې ګڼې دي، خو د دې ټولو ستونزو د هواري یوه لار د قاموس لیکنې له مېتودولوژۍ سره اشنایي ده. زموږ زیاتره قاموسونه له دې مېتودلوژۍ نه په ناخبرۍ کې لیکل شوي دي او د پښتو قاموسونو داسې نورې ګڼې ستونزې دي، چې په دریاب قاموس کې خبرې ورباندې کوو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

دریاب قاموس له ډېر لوی اهمیت سره سره ځینې ستونزې هم لري. زما د څېړنې ارزښت همدا دی چې د نویو قاموسونو لپاره یوه داسې مېتودلوژي ولیکل شي چې د غلطیو مخه یې ونیول شي او په پښتو ژبه کې هم ښه قاموسونه تخلیق او تحقیق شي. د پښتو ژبې د کلماتو اصلي زېرمه قاموس دی او ژبه هغه وخت پرمختګ کوي چې ښه قاموسونو ولرو او دغه قاموسونه یوې تیورۍ ته اړتیا لري.

## د څېړنې موخه

اوس له قاموســه یواځې د معنا پېژندنې ګټه نه اخیســتل کېږي، بلکې د دې لپاره هم اســتفاده کېږي چې یوه ژبه څنګه چا ته وښــودل شي او څنګه یې په متن کې اســتعمال کړي او خلک د یوې ژبې لغتونه څنګه وایي، نو د قاموس د لیکلو لپاره اړینه ده چې تر ادبیاتو، ژبپوهنې ور اخوا قاموس لیکونکی یې د اصــولو سره هم بلدتیا ولري. هغه ملیتونه وده کوي چې په خپل چاپېریال کې نقادان ولري. پر دریاب قاموس باندې زموږ لیکنه یواځې اصــلاحي بڼه لري چې په راتلونکې کې قاموس لیکونکي ورته پام وکړي. زموږ او زموږ په ګاونډیو هېوادونو کې قاموس‌لیکنه خورا پیکه ښــکاري. افغانســتان په قاموس‌لیکنه کې اوږد تاریخ لري، خو د قاموس لیکنې په مېتودلوژۍ پسې یې چا ډېر سر نه دی خوږولی او لیکل شــوي قاموســونه په خپل وخت کې ګټور دي. په زیاتره قاموســونو کې چې قاموس کاروونکی خپله ســتونزه ګوري، نو د ســتونزې پرمهال چې قاموس ته مراجعه کوي، نو هلته له نورو ســتونزو سره مخامخېږي. دلته لنډې خبرې پرې کوو چې په راتلونکې کې د دې غلطیو مخنیوی وشي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ دریاب قاموس په معیار جوړشویو قاموسونو کې راتلی شي؟
۲ ـ دریاب قاموس د ټولې پښتنې سیمې وییزېرمه لري؟
۳ ـ قاموس یواځې د لغتونو زېرمه ده؟
۴ ـ قاموس یوه مشخصه مېتودلوژي لري؟

## د څېړنې مېتود

د دې څېړنې مېتود توصیفي – تحلیلي او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

دریاب قاموس د قلندر "مومند" او فرید "صــحرایي" لیکلی قاموس دی چې د افغانســتان او پښــتونخوا کلمات یې په کې راجمع کړي او تر ډېره دغه قاموس معیارونو ته نږدې دی او د تعریفونو په جوړولو کې یې هم یو څه زیار ایستلی، مګر د تلفظ شــېوه یې مشــکله او د قاموس کاروونکي ســتونزې نه شــی حلولی او ځینې

لغتونه چې دلته خبرې پرې کوو، مصنوعي ښکاري. دلته غواړم د "دریاب" قاموس د تعریفونو په اړه خپل نظر ولیکم. دا قاموس د پښتو ژبې تر ځینو قاموسونو زیات لغتونه لري، خو زموږ د ژبې ټولې ستونزې نه شي هوارولی. هغه قاموس چې په یوه ژبه لیکل کېږي، یعنې یوژبیز قاموسونه دي، نو سرویونه یې باید د تعریف، بېلګو، هممانیزونو له لارې وسپړل شي. په دریاب قاموس کې زیاتره لغتونه په هممانیزونو معنا شوي یا تشریح شوي یا یې هم تشریح نیمګړې ده، لکه: (خونه) «کور، کاله، مکان، کوټه جمع خونې.» د لته د خونې تعریف نه دی شوی او هممانیزونه یې هم نیمګړي دي، (مکان) په افغانستان کې خونې ته نه وایي، مګر په پښتونخوا کې ورته وایي او یواځې کوټه یې هممانیز ده. دا چې (مکان، کاله) کله خونې ته وایي، باید په بېلګو کې روښانه شي. خونه یو کل ده باید د تعریف هممانیزونو، میرونیمونو او بېلګو په مرسته روښانه شي، لکه: خونه: څلور سره وصل دېوالونه چې مشترک بام، ور، کړکۍ لري او د خوب یا ناستې لپاره کارېږي؛ کوټه که موږ (خونه) بشپړه پېژنو، نو اړینه ده چې یواځې خونه په څو معناوو وکاروو، په ځینو سیمو کې (خونه) هغه ځای ته ویل کېږي چې اور پکې بلېږي. د (ور) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «دروازه – تمبه – جمع ورونه -». لومړي (ور) او (دروازه) توپیر لري. په زیاتره سیمو کې (ور) د خونې وي، خو (دروازه) د انګړ او حویلۍ وي او لویه وي.

د (رارسېدل) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «مصدر لازمي – رسېدل ــ له بله ځای راتلل ــ راواردېدل – راانتقالېدل –» (را، در، ور) د هرې کلمې تر مخ راځي، که موږ یې د هرې کلمې تر مخ راوړو، ممکن قاموس مو لکونه سرویونه ولري، نو موږ باید اصله کلمه قاموس ته داخله کړو. د (رسېدل) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «مصدر – ترسره کېدل – پوره کېدل – بشپړېدل – (۲) پخېدل – (۳) ځوانېدل – بالغېدل – ودې ته رسېدل – (۴) ورسپارل کېدل –.» که یو څوک پورتنۍ معناوې ګوري، تر هغې چې نمونې یې ونه ویني، په دې معناوو نه پوهېږي چې د (رسېدل) فعل کله د (بالغېدو) په معنا دی یا هم د (پخېدل) په معنا دی. رسېده: «۱ (رسېده، ترسره کېدل، پوره کېدل، بشپړېدل؛۲) مج، پخېدل (د غلې، مېوې....) ؛۳ ( ځوانېدل، بالغېدل، ودې ته رسېدل؛۴) ورسپارل کېدل»

د دریاب قاموس زیات تشـــریحات سم نه ښکاري چې په کار ده په نورو قاموسونو کې د ا ستفادې پر مهال تکرار نه شي. د کلمې سم تعریف هغه دی چې له نورو یې بېله کړي. دریاب قاموس د (پرتوگ) په تعریف کې لیکي: «پړتوگ، پائجامه، هغه لباس چې د نامه د لاندې تر ښـــېنگړو او بېډیو پورې اغســـتلی کیږي.» دغه تعریف پرتوگ، برجس، نېکر او پتلون نه شي سره بېلولی، ځکه پوره تعریف نه دی. پوره او دقیق تعریف معمولاً ډېر مشـکل دی. د دې مشـکل د اسـانولو یوه لاره دا ده چې د نورو ژبو د کامیابو قاموسونو له تعریفه ا ستفاده وشي. په دې کار کې دوو ټکو ته پام په کار دی: یو دا چې په پښتو کې دې د تعریف سبک ترجمه ځپلی نه وي او بله دا چې د ژبو او کلتورونو توپیر ممکن د یو څه بېل تعریف غوښـــتنه وکړي. د (تود) تر سرویي لاندې لیکل شــوي: «گرم ، دَ ســوړ ضــد ، مؤنث توده ، جمع مؤنث تودې ، جمع تاوده.»، دلته مونث حالت له قاعدې وتلی نه دی او راوړل یې هم بې گټې دي. د (زنکۍ) تر سرویي لاندې لیکل شـــوي: «زیره – یوه خوشـــبو دار باریک تخم چې اکثره په گرمه مصـــالحه کې اچولی شي». د داســـې کلماتو لپاره باید تصـــویر کارول شـوی وای، که نه داسـې یو تعریف خو شـوی وی چې قاموس کاروونکی پرې پوهېدلی وی.

د (کشـــور) تر سرویي لاندې لیکل شـــوي: «ملک- ولایت- اقلیم». د (ملک) معنا یې ســـمه ده، مگر نورې معناوې یې ســـمې نه دي. د (زانگو) ته سرویي لاندې لیکل شـــوي: «ځانگو- هغه گواره چې ماشـــومان پکې زنگولی شـــي- جمع زانگوگانې.» د (زنگول) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «جوتې ورکول، ځنگول». سرویي باید دا سې تعریف شي چې کاروونکی ورباندې پوه شي او که کوم لغت پکې کارول کېږي، نو هغه باید له مرجع سره ســمون ولري. د (پورې کول) تر سرویي لاندې لیکل شـــوي: «پورېباســـل- پورېســـتل- لگول- کېښـــودل- ړدل- (۲) بندول – (۳) شروع کول (۴) بلول- (۵) تپل (٦) منبل (۷) د نگولي یا بل کوم داسې څیز سره روټۍ خوړل، ښایي د پښتونخوا په سیمه کې یې دغه ټولې معناوې سمې وي، مگر که دغه هممانیزونه د بېلگو له لارې روښـــانه نه شي، د یوې بلې ژبې کاروونکی نه ورباندې پوهېږي او هغه څوک چې تخصـــص ولري، ځینې معناوې لکه د (بلول)، (شروع کول) معناوې

ورته نا سمې ښکاره شي، خو که بېلګې راوړل شوې وی، معناوې به هم ښکاره وی. په "دریاب" قاموس کې د کلمو د تـــشریح د اندازې په برخه کې کوم معیار نه وینو. مثلاً (زناکاره) د (زناکار) دوه برابره ځای نیولی دی. په داسې حال کې چې یوه کلمه ده، یوه د نرینه او بله د ښځینه لپاره کارېږي.

د (زناکار) تر سر ویي لاندې لیکل شـــوي: «زاني، زناکوونکی، جمع زناکاران». که زناکار څوک ونه پېژني، نو نور هممانیزونه به یې څه وپېژني، که لنډ لیکل شوی وای «هغه څوک چې له نا محرمو ښځو سره جنـــسـي اړیکه کوي». د (زناکاره) تر سرویي لاندې لیکل شـــوي «د زناکار مؤنث- بدلمنه- بدکاره- کاســیره- کنجره- ګشـــتۍ- هرچاخانه- ناجائزه تعلقات ساتونکې ښځه- جمع زناکارې-» د قاموس په تدوین کې د سبک د وحدت او انسجام لپاره ځینو ټکو ته پام په کار دی. د کار تر پیل کېدو له مخه ځینې سبکي اصول وضع شي. مثلاً که انساني صفت تعریف کیږي، په یو ډول کلمو دې پیل شي، لکه: بې ایمانه: هغه څوک چې ایمان نه لري. بې قصـــوره: هغه څوک چې ګناه او خطا یې نه وي. په "دریاب" قاموس کې د لیکلو لپاره دغســـې قرارداد نه لیدل کېږي. د (بې‌ایمانه) تر سرویي لاندې لیکل شـــوي: «وګورئ بې ایمـــاني». بـــیـــا د (بـــې ایمـــاني) تـــر سرویـــي لانـــدې لـــیـــکـــل شـــــوي: « بې ایمـا نتیـا، بې ایمـا نتوب، بې غېرتي، (۲) بې هـمتي، (۳) بې زړۀ توب، (٤)دروغژني، ، (٥)دوکه بازي، ټګماري». د (بې قصـــوره) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «بې ګناه، بې خطا). خو د پښتو په ټولو قامو سونو کې سبکي وحدت نشته دی. د سبک په اړه د واضح دریځ نه شتون د دې سبب شوی دی چې زموږ قاموس لیکونکي د هغو کلمو په توضـــیح کې چې تعریف یې مشـــکل دی، مشـــکل ولري. ربطي او اضافي حروف که څه هم په ژبه کې ډېر زیات راځي او بنسټیز اهمیت لري، خو څرنګه چې تعریف یې مشـــکل دی، نو زموږ قاموس لیکونکي ترې په منډه تېرېږي. مثلاً د (مګر) وییکی په لیکل شـــوي:«خو، لیکن، لاکن.». (خو) د «لېکن، مګر) په معنا ښودل شوی دی، خو وییکي باید ښه توضیح شي او بېلګې ورته راوړل شي. د (خو) معرفي داسې بهتره وه: ( خو) د ربط وییکی دی او معمولاً د داسې دوو جملو په و صلولو کې په کارېږي، چې د معنا له پلوه تقابل ولري. لکه: اکسفورډ ښه

قاموس دی، خو ډېر لوی دی... دغه شرحه او مثالونه باید تر هغه حده ادامه ومومي چې (خو) هم له نورو ربطي وییکو بېل شي او هم یې ډولونه معرفي شي. له لویه سره د قاموس لیکلو سبک مؤجز وي، یعنې تر وسه وسه له ناړینو معلوماتو او یوې جملې په داخل کې له ناړینو کلمو ډډه کېږي. له بلې خوا په کار دا ده چې یو لاسی او منسجم سبک وي او لوستونکي ته دا احساس ورکړي چې له واحد متن سره مخامخ دی. د کلمو په استعمال کې دقت، د جملو په بیان کې وضوح او د متن رواني د قاموس لپاره نور ضروري سبکي توکي دي. هره علمي لیکنه باید همدا ځانګړنې ولري. دا خبره سمه ده، مګر د قاموس لپاره کامیاب لیکنی سبک ځکه ډېر اهمیت لري او په ټینګار ارزي، چې د نورو زیاترو کتابونو برخلاف بیا بیا ورته مراجعه کېږي او مراجعه کوونکی ورڅخه د ژبې د بې عیبه او معتبر متن توقع لري. د کلمو د تعریف د اندازې په باره کې باید یو روښانه معیار ولرو. که یو مفهوم په لس، پنځلس کلمو کې تعریفېږي، دا ناعادي اوږدوالی نه دی. د "دریاب" قاموس تعریفونه ډېر لنډ دي، مګر کوم تعریف چې اوږد شوی یو ډول ستونزه هم پکې ده، یعنې د معلوماتو او املا ضعف هم ورسره ملګری دی. زیاتره ځایونه یې سرویي له لغت سره سمون نه خوري، مثلاً د (سپانده) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «سپیلني، د سپیلني بوټی، (۲) بې قدره، سپک». سپانده یو ډېر تریخ بوټی دی، سپلنی جلا شی دی، بل سپانده بېقدره ته نه وایي، د (سپک سپاند) په کلمه کې چې د وروستاړي رول لوبوي، هغه یو جلا سر مدخل دی. په یوه قاموس کې د سرویي لپاره د کلمې انتخاب، د هغې د املا لپاره یو معیار، د هغې سم تلفظ، د هغې ګرامري مقام او بالاخره د هغې معنا راځي. د کلمې د ګرامري ډول تعین د هغې دقیقې معنا ته په رسېدو کې مرسته کوي. له بلې خوا د ژبې د ګرامر په باره کې واضح او پراخ تصور له قاموس لیکونکي سره د کلمو په انتخاب کې او د هغو لپاره د ځای په انتخاب کې لوی لاس کولای شي، خو په دریاب کې داسې هم شوي، چې یوه کلمه یې په څلورو بېلابېلو املاوو مدخل کړې ده.

## پایله

که په پښتو ژبه کې د قاموس لیکنې تاریخي بهیر ته پاملرنه وکړو، نو وینو چې دغه قاموس لیکنه له هېواده بهر پیل شوې، په دې معنا چې د لومړي ځل لپاره په بهرنیو هېوادونو کې پښتو قاموسونه یا د پښتو قاموسونو مقدمات برابر شوي دي. پښتو قاموس لیکنه له افغانستانه بهر په اروپا او روسیه کې پیلېږي او د یوه معیاري قاموس د لیکلو هڅه شوې ده. د پښتو ژبې لومړني قاموسونه د درس په موخه لیکل شوي دي، زیاتره لکه پښتو سیند یوازې هغه لغتونه پکې راوړل شوي چې په عامه ژبه کې کارېږي، په ځینو قاموسونو کې لکه پښتو – پښتو تشریحي قاموس کې د ژبې د ټولې ویيپانګې د راغونډولو هڅه شوې ده. په پښتو کې زیات قاموسونه لیکل شوي او هر یو یې بېګټې نه دی او د پښتو ژبې د ستونزو د حلونې په پار لیکل شوي او زیاتره یې له نیمګړتیاوو خالي نه دي چې بېلابېل لاملونه لري، مګر یو لامل یې د پښتو ژبې د یوه سم لیکدود نه شتون دی، د پښتو ګړدود د سمې څېړنې نه شتون او تر ټولو لوی لامل یې په پښتو کې د قاموس لیکنې د مېتودولوژۍ نه شتون دی. که دغه راټوله شوې ویيپانګه د یوې مېتودلوژۍ پر اساس برابره شي، له څېړونکو، ژبپالو، د ژبې له زده کوونکو سره به مو لویه مرسته کړې وي.

## مأخذونه


۱ .ابهری، عاطفه. جعفری، زهرا، زادګان، ندا. سلسه سبزي، کبری. سمراد، سوسن. صناتی، مرضیه. طاهري، فرزانه. قطره، فریپا، ګرکانی، ندا. فرهنگ‌نویسی مباحث نظری و کاربردی، کتاب هبار: تهران، ۱۳۹۵ لمریز کال.

۲ . ساغر، شریفي. قطره، فریبا. درآمدی بر فرهنګ نویسی، خیابان بهار: تهران ، ۱۳۹۷ لمریز کال.

۳ . غضنفر، اسدالله. پښتو – پښتو تشریحي قاموس ته کتنه، تاند ویب پاڼه (http://www.taand.com/).

۴ . نورزی، عزت الله. د قاموس لیکنې لارښود (د ماسټرۍ تېزس)، کابل پوهنتون، ۱۳۹۹ لمریز کال.۵

۵ . مومند، قلندر. دریاب، امیر پرنټرز: پېښور ، ۱۹۹۴ زېږدیز کال.

٦ . Atkins, B. T. s. (۱۹۸۵), Monolingual & Bilingual learner's Dictionaries: a comparison: in R.F. Ilson (ed.) Dictionaries, lexicography & language learning oxford: Pergamon.

٧ . B.T. Atkins and Michael Rundell. (۲۰۰۸). The Oxford Guide to Practical Lexicography, Published in the United States by Oxford University Press inc. New York.

٨. Marie-Claude L' Homme. (۲۰۰۵). Terminology and Lexicography Research and Practice, Amsterdam_/_Philadelphia: John Benjamins Publishing Company.

څېړندویه فضیله احمدي

# د جهاني په مثنوي کې د مولوي روایت
## (عرب په صحرا کې )

# Maulavi's narration in Jahani's Masnavi( Arab in desert )

**Assistant Prof. Fazila Ahmadi**


## Abstract

Jahani's Masnavi is an excellent moral example of literature for life in which the stories of advice and lesson are organaized in the form of masnavi. Various sources have been used in this masnavi such as kalila and damna, saadi's stories, Maulavi's masnavi …but its language and poetry are from dignified Jahani. In this article there is a discussion on a narrative poem of Jahani (Arab in desert). This story or narration is taken from Maulavi's masnavi which conveys a high massage to the readers that when you accept advice of someone; know yourself about who you accept advice from? Accept the advice of someone who has real knowledge. He should be successful in his life and have a good life with the blessing of his intellect,

Don’t accept his advice; who is a scholar of the words, who lost in his own way and shows the way to others.

## لنډيز

د جهاني مثنوي د ادب د ژوند لپاره يوه غوره اخلاقي بېلګه ده چې په کې د پند او عبرت داستانونه د مثنوي په فورم نظم شوي دي. په دغه مثنوي کې له مختلفو مأخذونو، لکه: کليله او دمنه، د سعدي کيسو ، د مولوي مثنوي ..... څخه ګټه اخيستل شوې ده، خو ژبه او شاعري يې د عبدالباري جهاني دي، په دغه مقاله کې د جهاني په يوه کيسه ييز نظم (عرب په صحرا کې) بحث شوی. دا کيسه يا روايت د مولوي له مثنوي څخه اخيستل شوې ده چې لوستونکو ته يو لوړ پيغام افاده کوي، دا چې کله مو له چا نه مشوره اخيستله، پر دې باندې ځان پوه کړئ چې له چا نه مشوره اخلئ ؟ د هغه کس سلا او مشوره ومنئ چې حقيقي پوهه ولري، خپله يې په خپل ژوند کې د خپل عقل له برکته کامياب وي او ژوند يې جوړ وي. د هغه چا سلا او مشوره مه منئ ،کوم چې تش په الفاظو عالم وي، خپله لاره يې ورکه وي او نورو ته لاره ښيي.

## سريزه

ادب د تجربو د شريکولو غوره لاره ده چې پېښې تجربه کوي، دا ښکاره کوي چې څه سم او څه غلط دي او موږ بايد څنګه ژوند وکړو يعنې په حقيقت کې ادب موږ ته د ژوند کولو لارې چارې راښيي، د دغو لارو چارو د ښودلو لپاره د تاريخ په اوږدو کې د کيسې يا داستان محتوايي فورم ډېر بريالی ثابت شوی، ځکه چې په کيسه يا داستان کې پېښې انځورېږي او د رښتينو مثالونو، کرکټرونو او صحنو په واسطه شرحه کېږي، د داسې څه لوستل چې هم هنريت ولري او هم د باور وړ وي، لوستونکو ته اخلاقي درس ورکوي او ښو کارونو ته يې هڅوي، ادب خلکو ته اجازه ورکوي چې له بل ليد څخه د ژوند په اړه زده کړه وکړي، د جهاني له پند او عبرت نه ډکه مثنوي، د دغسې ادبي شهکارونو يوه غوره نمونه ده. کله چې موږ د جهاني د مثنوي نوم اورو، نو دا پوښتنې راسره پيدا کيږي چې دا د مولوي له مثنوي څخه اخيستل شوې ده او ايا دا د مولوي

د مثنوي یو بل روایت دی که څنګه، دا او دې ته ورته پوښتنې په دغه مقاله کې څېړل شوې او ځواب یې وړاندې شوی دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د جهاني مثنوي بشپړ مستقل پښتو اثر دی، چې د بېلابېلو کتابونو په رڼا کې او د لیکوال د تخلیق په وسیله لیکل شوی او ټولنې ته لوړ اخلاقي پیغامونه لري؛ په دې توګه د ادب د ژوند لپاره یوه غوره بېلګه ده چې هم زموږ ادبي پانګه ورباندې درنېږي او هم د خلکو او عامه ذهنونو په رغولو کې لویه ونډه لري، نو په کار وه چې د دغه ډول اثر معرفي او یا وربادې بحث ته تم شو. ما هم د همدې ارزښت له مخې، د نوموړي اثر د یو داستان په اړه چې(عرب په صحرا کې ) تر سرلیک لاندې نظم شوی دی، را اخیستی او وربادې بحث او د مولوي له مثنوي سره مقایسه شوې ده.

## د څېړنې موخې

د کلاسیکو ادبیاتو معاصرې بېلګې ځان ته خوږوالې او لوستونکي لري، د جهاني مثنوي د کلاسیکو او معاصرو ادبیاتو د وصل کړی ده او د کلاسیکو ادبیاتو هغه ښکلا ده چې زموږ معاصر ادب وربادې ښایسته شوی، څکه په عوامو کې ډېر د منلو وړ دی، نو دا څېړنه پر همدې موخه تر سره شوې چې له یوې خوا د دې اثر د یوه داستان پیغام شرحه او له بلې خوا ځوان شاعران هم د دغسې آثارو لیکلو ته وهڅول شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ آیا د جهاني مثنوي په بشپړه توګه د مولوي له مثنوي څخه رانقل شوی اثر دی؟

۲ـ د محتوا له نظره د جهاني او د مولوي مثنوي توپیر څه دی؟

۳ـ د (عرب په صحرا کې) داستان پیغام څه دی؟

## د څېړنې میتود

په دې مقاله کې له مقایسوي ـ تشریحي میتودونو څخه کار اخیستل شوی دی.

## د مقالې متن

کله چې د جهاني د مثنوي نوم اورو، فکر کوو چې دا د مولوي د مثنوي ترجمه ده، خو کله چې کتاب ګورو، بیا پوهېږو چې دا مثنوي د مولوي له مثنوي څخه د محتوا او پیغام له نظره متفاوته او یوه بشپړه پښتو مثنوي ده. په دې اړه محمد داوود مومند هم

ليکي: څه مهال چې په شعر کې د مثنوي نوم واخيستل شي، سمدلاسه د مولانا جلال الدين محمد بلخي او د هغه مثنوي اثر ذهن ته مو تداعي کوي چې د خپلې زمانې داسې ادبي عارفانه شاهکار بلل کېږي چې د تصوف او عرفان په برخه کې تر اوسه پورې ساری نه لري. څرنگه چې مثنوي نږدې اته سوه کاله دمخه ليکل شوې ده، دا د هماغې زمانې او دورې د اسلامي پوهې ، معرفت، عرفان او اخلاقياتو يوه روښانه هنداره ده. نن اته سوه کاله وروسته د جهاني مثنوي زموږ د پښتنو په ملتي پښتو ژبه کې کښل کېږي، ولې لوی او اساسي توپير يې په دې کې دی چې، جهاني په دې عصر او زمان پورې تعلق لري او لکه ډاکټر اقبال د شرق او غرب د تهذيب، ثقافت او د ټولنيز ژوند د فلسفې او تمدن سره ژوره آشنايي لري. زه باور لرم چې د جهاني په مثنوي کې به هغه مفاهيم نغښتي وي چې د مقتدمينو په آثارو او اشعارو کې نه ميندل کېږي. د دې عصر نسل، د نن ورځې د ټولنيز ژوند ټولو اړخونو او پديدو ته د شعر او هنر په شمول، د علم، معرفت او هنر د نويو ايجاباتو، اقتضاءاتو او معيارونو په سترگه گوري، نه د سوونو کلونو، پخوانيو ارزښتونو پر بنسټ. ( ۴ )

د جهاني مثنوي لس زره بيتونه او يو سل و اته نوي کيسې لري چې تقريباً په څلوروسو پاڼو کې تنظيم او چاپ شوې ده. په پښتو ژبه کې دغه بې سارې کتاب د عقلانيت، پند او عبرت په موخه د انساني ټولنې د تجربو، خيالاتو او تصوراتو يوه خورا بډايه ټولگه ده، د نړيوالو فولکلوري کيسو د غورچاڼ تر څنگ يې يو شمېر پېښې د ښاغلي جهاني خپلې فکري پنځونې دي چې په مثنوي فورم کې په روانه او آهنگينه او آسانه بڼه وړاندې شوې دي. له هر کيسه ييز نظم څخه د پند په موخه پايله را اخيستل شوې او د وخت او چاپېريال سره تړل شوې ده. (۳)
کيسه ييز نظمونه او هغه هم د يوه لوی او مستقل مثنوي په شکل په پښتو ادب کې بې سابقې کار دی، د جهاني مثنوي په نوم د فولکلوري داستانونو مجموعه د ليکوال په وينا د ډېرو کلونو په اوږدو کې ترتيب شوې ده، دا له پند او عبرت څخه ډک داستانونه د افغانستان د څه د باندې څلوېښتو کالو په اوږدو کې د مختلفو شرايطو او پېښو ولسي ترجماني ده. لوستونکي له دې کيسو سره زياته علاقه لري، ښايي يو علت به يې دا وي چې دا کيسې په ډېره ساده ژبه ليکل شوې دي او د اورېدونکو د پارولو او خندولو توان

لري او بل علت به يې دا وي چې د لوستونکو له غوښتنې او ارزو سره سم د بېلا بېلو وختونو شرايطو ته انعکاس ورکوي.
په دې کتاب کې ډېرې زياتې کيسې زموږ د ولس په منځ کې موجودې دي، ښه مثالونه يې (گوندې په جنت کې) (د پيريانو حمام) او داسې نور داستانونه دي. دغه راز د کليله او دمنه له کتاب څخه به هم استفاده شوې وي. د مولوي له مثنوي او د سعدي له کيسو څخه به هم گټه اخيستله شوې وي د Aesop, Grim and Anderson څخه هم کار اخيستل شوی او ځينې کيسې د ليکوال خپلې دي. ( ۲: ۳۳ـ ۳۴ مخونه)
دا چې ښاغلی جهاني د کتاب په مقدمه کې ويلي چې د مولوي له مثنوي څخه يې هم گټه پورته کړې، ما پوره کتاب وکوت، يوازې يو داستان دی چې د مولوي له مثنوي څخه اخيستل شوی دی او جهاني ورته د عرب په صحرا کې عنوان غوره کړی، حال دا چې دا عنوان په اصلي متن کې ډېر اوږد دی.
د دغه  داستان په اړه داسې ويل شوي چې په خپله مولانا دا کيسه د عيون الخبار له کتاب نه نکل کړې او په خپله يې ورباندې تصرف کړی يعنې په خپل سبک کې يې ليکلې. د دغه داستان لنډيز په دې ډول دی: يو صحرا نشين عرب خپل اوښ سره صحرا ته روان و  د هغه پر اوښ باندې د غنمو جوال و او دغه سړي د دې په خاطر چې د اوښ توازن وساتي، د جوال په بل طرف کې يې رېگ بار کړی و، د لارې په اوږدو کې له يو ظاهري حکيم سره مخامخ شو چې هغه ورته وويل: زما نصيحت واوره!  په رېگ باندې څه کوې؟ دا غنم په دوو برخو ووېشه چې هم دې د بار توازن سم شي او هم پر اوښ باندې بار سپک شي او په ښه توگه ځان مقصد ته ورسوې. د دې خبرې په اورېدو عرب حيران شو چې داسې هوښيار سړی څنگه پر دې لاره پياده روان دی  نو له سړي نه يې پوښتنې شروع کړې چې کسب دې څه دی، څومره مال او جايداد لرې؟ مسلک دې څه دی؟ له دومره هوښيارۍ سره حتماً وزير يا سلاکار يې؟ که دغه دواړه نه يې، نو حتماً کيمياگر يې چې له عادي فلزو نه زر جوړوې؟

سړي د دغو پوښتنو په ځواب کې نه وويل او په خپله يې اقرار وکړ چې د خپل عقل او پوهې له درکه غمگين او په تکليف يم، هېڅ هم نه لرم فقط د خلکو په تمه يم چې څه شی راکوي؟  پوره داستان د همدې ټکي پر محور گرځي، دا په دې معنا چې ظاهري او باطني پوهې يو بل سره توپير لري، ظاهري پوهه د مولانا په نظر هغه پوهه ده چې

ځينې خلک يې په يو ځای کې اوري او په بل ځای کې يې وايي، دې ته موږ علم نه شو ويلی، بلکې سطحي او ظاهري مطالب دي. د مولانا په نظر ظاهري پوهه د محفوظاتو او ملحوظاتو پوهه ده؛ محفوظات يعنې هغه شيان چې دوی حفظ کړي او ملحوظات هغې کلمې دي چې دوی زده کړی او خپل عمر يې ورباندې بنا کړی، دوی فقط لفظ او تلفظ يې زده کړي، ولې په معنا يې نه پوهيږي او په پر له پسې توگه دغه کلمې کاروي، په دې توگه ورباندې فضل فروشي کوي. ښاغلي جهاني دا کيسه ييز نظم په ډېره ښه توگه پښتو ته اړولی چې موږ په کې افغاني انځورونه، پښتني کلتور او چاپېريال کتلی شو، دا په دې معنا چې جهاني پر دغه نظم باندې پوره شاعرانه تصرف کړی او ورباندې حاکم دی. مولانا دا داستان په ۳۴ بيتونو کې نظم کړی او جهاني په ۳۲ بيتونو کې چې د پيل بيتونه يې په لاندې ډول دي:

يو عرب و په صحرا کې را روان و
سره غرمه وه لار اوږده بېديا بيابان و

( ۱: ۳۵۰ مخ)

د دغه کيسه ييز نظم د پيل له بيتونو څخه ښکاري چې دا نظم صرف د لفظونو او کلمو ترجماني نه ده، بلکې دغه داستان ته نوې روح پو کول دي، چې پوره محتوا ځان پورې نغاړي، د اعرابي پر ځای د عرب کلمه داسې کارول چې ورپسې جوخت د صحرا کلمه راشي او په بشپړه توگه د اعرابي( صحرا نشين) محتوا افاده کړي، دا د شاعر مهارت ښيي او همداسې په دويمه نيم بيتۍ کې د حسي انځورونو وړاندې کول دغه داستان ته ښېل خوند ورکړی. د ډېر وضاحت لپاره د دغه داستان او نظمونو پاتې بيتونه ته ځير کېږو:

يک عــــرابی بار کرده اشتـــــری
وان جوال ديگـــــرش را ريـــگ پــر
او نشســـــته بر ســـر هر دو جــوال
از وطن پرســـيد و آوردش به گفـــت
بعد از آن گفتش که اين هر دو جوال

گفت اندر یک جـــوالم گندم است
گفـــت تو چون بار کردی این رمال؟
گفـــــت نیم گـــــندم آن تنـــگ را
تا سبـــک گردد جوال و هم شـــتر
این چنین فکر دقیق و رای خـــوب
رحمــــش آمد بر حکیـــم و عزم کرد
باز گفتش ای حکیم خوش ســخن
این چنین عقل و کفایت که تو راست
گفت این هـــر دو نیم از عامـــه ام
گفت اشتر چند داری؟چنـــــد گاو
گفت رختت چیســـت؟ باری در دکان؟
گفـــت پس از نقد پرسم، نقد چنـد؟
کیمیــــای مــس عالـــم با تو است
گفت و الله نیســـت یا وجه العـــرب
پا برهنـــــه تن برهنـــــه میــــــدوم
مر مرا زین حکمـــت و فضـل و هنـــر
پس عرب گفتـــــش که شو دور از برم
دور بر آن حکمـــت شومـــــت ز من
یا تو آن سو رو، من این ســــو میدوم
یک جوالم گنــــــدم و دیگر ز ریگ
احمقی ام بس مبـــارك احمقیـــست
گر تو خواهی کت شقـــاوت کـم شود
حکمتی کز طبـــــع زاید وز خیـــال
حکمـــت دنیا فـــــزاید ظن و شک
زوبعـــــــان زیـــــــرك آخر زمـان
حیـــــله آموزان جگـــرها ســـوخته
صبر و ایثار و سخاي نفـــس و جود

فکر آن باشد که بگشـــــــــاید رهی
شاه آن باشـــــد که از خود شه بود
تا بماند شـــــــــاهی او سرمدی
یک جوال زفت از دانه پـــــــری
هر دو را او بـــــــــار کرده بـــــر
شتر یک حدیث انداز کرد او را سؤال
واندر آن پرسش بسی درها بســفت
چیست آگنده؟ بگو مصـــدوق حال
در دگر ریگـــی، نه قوت مردم است
گفت تا تنهـــــا نماند آن جـــوال
در دگــــر ریز از پی فرهـــــنگ را
گفت شاباش ای حکیم اهل و حـــر
تو چنین عریان پیـــــاده در لغوب
کش بر اشتر بر نشـــــاند نیک مرد
شمه ای از حال خود هم شرح کن
تو وزیری یا شهی، بر گوی راســت
بنگر اندر حال و اندر جامـــه ام
گفت نه این و نه آن، ما را مــکاو
گفت ما را کو دکان و کو مـــکان
که توئی تنها رو و محبـــــوب پند
عقل و دانش را گـهر تو بر تو است
در همه ملکم وجوه قـــوت شب
هر کـــــــه نانی میدهد آنجا روم
نیست حاصل جز خیال و درد سر
تا نبارد شـــــومی تو بر ســـرم
ونطق تو شم است بر اهل زمـن

ور ترا ره پیـــــش، من واپس شوم
به بود زین حیله های مرده ریگ
که دلم با برگ و جانم متقی است
جهد کن تا از تو این حکمت رود
حکمتی بی فیض نور ذو الجـلال
حکمت دینی برد فوق فلـــــک
بر فزوده خویش بر پیشیـــــنیان
فعل ها و مکــــــــرها آموخته
زبا،داده کان بود اکسیـــر سود
راه آن باشد که پیش آید شهــی
نه به مخزنها و لشــکر شه شود
همچو عز ملـــک دین احمدی
( ۱ـ ۳۵۰ـ۳۵۲ مخونه)

دوه جواله یې پر اوښ و رابار کړې
پر دې لاره به یې ســـل ځلي و وړي
لا په خپله هم د بار په منځ کې سپور و
ښکارېدې چې بار یې درونـد و پر اوښ زور و
بل ملگری هم په لار کې ورپیدا سو
په خبـــــرو په کیســـــو ورته گویا سو
په یوه ترخ کې یې ترې وکړله پوښتنه
چې پر اوښ دې څه بار کړي دي څښتنه
عـــرب وویل غنـــــــم کلي ته وړمه
او دا بل جــــــوال د رېگو چــــــلومه
نو د دواړو خـــــــواوو تول به برابر وي
هسې نه چې یې یوې خوا ته لنــــگر وي
سړي وویل زما ومنه که ښـــــــه کړې
بار به سپـــک سي او هوسا سفر به وکړې

ځان ببغمه کړه د رېګ له زحمـــتونو
غنم وو‌یشــــه پر دواړو جوالـــــــونو
پر خپل اوښ به دې بار سپک سي ښه به ځغلي
بې له ځنډه به دې يوسي تر خپـــل کلي
د عرب خبـــــــــره زړه ته سوله تېره
د ملګري سلا خوښـــــــــــه سوه ډېره
خو حيران سو چې سړی دومره هوښيار دی
نو پياده څنـــــــګه روان پر دغه لار دی
ډېر يې زړه سو چې له ځان سره يې سپور کړي
او په کلي کې مېلمه يې پر خپل کور کړي
له سړي څخه يې پيل کړلې پوښـــتنې
د کســــبونو جايدادونو ګـــــــروېږنې
چې ته څوک يې ته پر کوم لوری روان يې
چې ملګری د ســـــــــفر مې بيابان ی
ته چې دومره هوښيار يې نو به وزير يې
ســـــلاکار به د پاچا او اميـــــــــر يې
ســـــړي وويل کالــــــــيو ته مې ګوره
نه وزير نه ســــلاکار يم زمــــــا وروره!
څو اوښان لرې څو غواوې څو پســــونه
څو دوکانه څو رختونه څو مـــــــــالونه
سړي وويل نه غواوې نه اوښان ســـته
نه درک مې د مالونه نه دوکان ســــــته
څه پيســـــې لرې څه زر څه مرغـــلرې
که نه څنګه دې زده کړې دا خـــــــبرې
او که نه وي نو حتـــــماً به کيمياګر يې
زر له مسو څخه باســــــــې جادوګر يې

سړي وویل قسم دی چې مســـــکین یم
دا خپل عقل مې دښمن دی تل غمگین یم
نه مې علم نه هـــــنر په درد لگېـــږي
نه د عقـــــل پوهې گټـــه رارسېږي
سر مې لوخ دی پښې مې لوڅې په تن خوار یم
چې هر څوک مې کړي مېلمه ورته تیار یم
عرب وویـــل له مخه مې ســــــه لیرې
چې خبـــرې دې ترخې لگـــېږي ډېرې
هسې نه چې شــــوم اثر دې پر ما پرېوزي
ستا شامت به مې به پاکو وینو کښــېوزي
بلا توره دې پســـې ســــتا په هنر سي
عزراییل دې ستا پر عقل برابر ســــــي
بخت دې تور عقل کوټه دی خدای لیدلی
په دښتونو کې چې گرځــــې وړی پلی
ته چې هرې خوا ته ځې ځه پر هغه ځه
زما پر لاره برابر راســــــــره مه ځـــه
په یو جوال کې رېگ بل کې غنــــم وي
هغه ښه دی نه چې ستا پر عقل ســم دی
ستا تر پوهې مې خپل نیم عقل په کار دی
نس مې موړ دی تن مې پټ دی اوښ مې بار دی
څه په کار دي حکمتونه او عقلونه
چې نه زر لرې نه مال وي نه آسونه
( ۲: ۳۰۲ـ ۳۰۳ مخونه)

گورو چې شاعر جهاني دا نظم داسې لیکلی، لکه د ده خپل چې وي، د دغه نظم په واسطه یې دې داستان ته هم پښتني هویت او چاپېریال ورکړی، په دې توگه موږ پوهېږو چې جهاني یوازې د مولانا روایت اخیستی او په خپلو الفاظو یې بیان کړی یعنې

د هغه د نظم ترجماني يې نه ده کړې، جهاني يوائې ځينې بيتونه د مولوي له مثنوي نه اخيستي، خو په هغه کې يې هم تصرفات لرلي،لکه: مولوي:

بعد از آن گفتش که این هر دو جوال

چیست آکنده؟ بگو مصدوق حال

گفت اندر یک جـــوالم گندم اســـت

در دگر ریگی، نه قوت مردم است

جهاني:

په يوه ترخ کې يې ترې وکړله پوښتنه

چې پر اوښ دې څه بار کړي دي ښتنه

عـرب وويل غنـــــم کلـــــي ته وړمه

او دا بل جـــوال د ربگــــو چـــــلومه

گورو چې جهاني په ډېره ماهرانه توگه پر دغو بيتونو تصرف کړی او په خپلو الفاظو يې بيان کړی، د مولوي لومړي بيت ته که ځير شو، هلته د دوو جوالونو يادونه شوې، مگر جهاني په ډېره ښه توگه د / بار/ مترادف ورته کارولی او په دوهيم بيت کې مولانا يوائې ويلي چې جوال کې مې غنم دي، خو جهاني  يې په داسې انداز بيان کړی چې هم يې د سړي ځواب ويلی او هم يې وضاحت ورکړی چې دا غنم کلي ته وړم او په دويمه نيم بيتۍ کې ربگ ته د چلولو فعل کارول، د شاعر خاص مهارت ښيي چې په لنډه توگه معنا په کې ځای پر ځای شوې يعنې ربگ مې په کار نه دی، خو دا هسې چلوم چې د بار توازن پرې وساتم. مولوي:

اینچنین عقل و کفایت که تو راست

تو وزیری یا شهی، برگوی راست

گفت این هـــــر دو نیم از عامـــه ام

بنگر اندر حال و اندر جامه ام

جهاني:

ته چې دومره هوښيار يې نو به وزير يې

سلاکار به د پاچا او امير يې
سړي وويل کاليو ته مې ګوره
نه وزير نه سلاکار يمه زما wروره

د منطق له نظره  د ښه عقل او لياقت څښتن حتماً يو ښه مقام هم لري، که هېڅ هم و نه لري، لږ تر لږه په خپل ژوند کې آرامه وي، خو په دغه داستان کې کيسه برعکس ده ؛ ځکه مولوي د اعرابي له خولې نه ليکي چې د ظاهري فيلسوف نه پوښتنه کوي چې ته وزير يې يا پاچا او هغه يې په ځواب کې وايي چې دغه دواړه نه يم. کله چې جهاني دا روايت نقلوي، د پاچا پرځای د سلاکار کلمه کاروي چې دا د جهاني د وخت روان سياسي حالت ته اشاره لري چې د سلاکار صلاحيت تر پاچا لوړ او يا د پاچا په اندازه و.

مولوي:

مر مرا زين حکمت و فضـل و هنر
نيست حاصل جز خيال و درد سر

سړي وويل قسم دی چې مسکين يم
دا خپل عقل مې دښمن دی تل غمګين يم

دلته هم جهاني د ظاهري حکمت، فضل او هنر پرځای د عقل دښمني يادوي او همداسې خيال او درد سر هم غمګيني ګڼي. مولوي:

پا برهنـــــه تن برهنــــــه ميــــــدوم
هر که نانی ميدهد آنجا روم

جهاني:

سر مې لوڅ دی پښې مې لوڅې په تن خوار يم
چې هر څوک مې کړي مېلمه ورته تيار يم

د جهاني دغه بيت که وگورو، هېڅ نه پوهېږو چې داستان له فارسي يا عربي ژبو نه اخيستل شوی ځکه چې دغه بيت په پښتني انداز بيان شوی، د تن برهنه پر ځای / خوار تن/ ياد شوی، ځکه که پښتانه يا په مجموع کې افغانان هر څومره خوار او غريب شي، تن يې لوڅ نه وي او همداسې که چا ته ډوډۍ ورکوي، هغه ته د مېلمه حيثيت ورکوي يعنې هم ډوډۍ ورکوي او هم عزت.

مولوي:

يک جوالم گندم و ديگر ز ريگ
به بود زين حيله هاى مرده ريگ

جهاني:

په يو جوال کې رېگ بل کې غنم وي
هغه ښه دی نه چې ستا پر عقل سم دی

همداسې په دې بيت کې هم د حيله پر ځای د عقل کنايي کارونه هم د جهاني تصرف موږ ته راښيي. جهاني د هر داستان په پای کې يوه پايله هم ليکي، د دغه داستان په پای کې يې هم يو پيغام لري چې به لاندې ډول دی:

څه په کار دي حکمتونه او عقلونه
چې نه زر لرې نه مال وي نه آسونه

د چا چې خپل ژوند جوړ نه وي او يا په خپله خپلو چارو کې کامياب نه وي، نو د هغه انسان پوهه او مشوره د نورو ژوند نه شي ژغورلای،؛ نو تل په خپل ژوند کې له کاميابو انسانانو سره سلا او مشوره وکړئ.

## پايله

د جهاني مثنوي که څه هم په پښتو کې د لنډو کيسو يا کيسه ييز و نظمونو يوه لويه مثنوي ده او د مولوي مثنوي تر اغېزې لاندې ليکل شوې، مگر ټول روايتونه يې د مثنوي نه دي، بلکې په پوره کتاب کې د مثنوي يو داستان اخيستل شوی چې(عرب په صحرا کې) تر عنوان

لاندې نظم شوی دی. دغه نظم ته که ځير شو، نو دې پايلې ته رسېږو چې جهاني برحقه و چې د کتاب په سريزه کې يې ليکلي : « تاسې ته د نکلونو له متنونو څخه ښکاري چې ما يوازې فولکلوري کيسې کټ مټ رااخيستې او منظومې کړې مې نه دي، بلکې هم مې په متن کې خپلې اضافې وربانديې کړې او هم مې د کيسو په پای کې زياتره خپل قضاوتونه او نتيجې وربانديې بنا کړې دي». په دې توګه مونږ ويلای شو چې د جهاني مثنوي د ادب د ژوند لپاره غوره ببلګه او د ارزښت وړ ده. جهاني که په دې کتاب کې له هرې منبع نه استفاده کړې، کيسه يې په ټکي په ټکي نه ده اخيستې، بلکې په منځ کې يې الفاظ، کلمات، ترسيمونه ، محاورې او په کلي توګه شاعري د ده خپله ده.

## مأخذونه


١. البلخي ثم الرومي، جلال الدين مولوي محمد بن محمد بن الحسين. مثنوي معنوي، به سعی و اهتمام رينولدالين نيکلسون، انتشارات امير کبير، ايران: تهران، ١٣٨٣ هـ ش.

٢. جهاني، عبدالباري. د جهاني مثنوي. ثبات څېړنيز بنسټ، ١۴٠١ لمريز.

٣. حکيمي، محمد هارون. د جهاني مثنوي له چاپه ووت، www.taand.com، ٣٠ اګست ٢٠٢٢.

۴. مومند، محمد داود. د بلخي مثنوي نه د جهاني تر مثنوي پورې، http://www.arianafghanistan.com، ٣٠/٠٨/٢٠٢٢.

څېړندوی خالد تکل

# د فابل کیسو ښوونیز او روزنیز ارزښت

# The Educative and Instructive Importance of Fabel Stories

**Assistant Prof. Khalid Takal**

## Abstract

Fabel is a type of story in novel literature that is created by poetic as versified technique. These stories are short and relatively long but its short style is much usual. Authors of this style [febel] try to convey an ethical, educational subject with a moral lesson, advice and artistic words.

This article explores the ethical and educational advantage and value of fabel's stories in which the patterns of poetic and prose have been used.

## لنډیز

فابل په داستاني ادبیاتو کې د کیسې یو ډول دی چې د ذوقي لیکوالو له خوا په منظوم او منثور ډول تخلیق کېږي، دا کیسې لنډې او نسبي اوږدې وي، خو لنډ شکل یې ډېر معمول دی. لیکوالان یې هڅه کوي چې یوه ښوونیزه، روزنیزه او اخلاقي موضوع په ساده او هنري لفظونو کې د پند، نصیحت او لارښوونې په موخه تشریح او توضیح کړي. په دې مقاله کې د فابل کیسو په ښوونیز او روزنیز ارزښت ګټور بحث او

تحلیل شوی دی چې منظومې او منثورې بېلګې یې را اخېستل شوې دي او ارزښت یې په کې بیان شوی دی.

## سریزه

فابل حکایتي او تمثیلي کیسې دي چې د نړۍ د ټولو ژبو په لیکلو او نالیکلو ادبیات کې ځانګړی ځای او ارزښت لري. زموږ په پښتو ادب په ځانګړې توګه د ماشوم ادبیاتو په برخه کې دغې برخې ته څه نا څه کار شوی دی، خو دا برخه لا ډېر کار او له دغو ادبیاتو څخه زموږ په فرهنګي او تعلیمي مؤسسو کې د کار اخېستلو لپاره لازم عملي کار ته ډېره اړتیا لیدل کېږي. په دې علمي او څېړنیزه مقاله کې د فابل کیسو په پېژندلو سربېره، ډېر بحث د دغو کیسو په ښوونیز او روزنیز اهمیت او ګټورتوب باندې شوی دی. د پوهنې وزارت فرهنګي برخې او د ماشوم ادبیاتو لیکوالو ته په کې ځانګړې وړاندیزونه شوي دي، چې د دغې برخې د غنامندۍ او ښوونیز ارزښت په اړه په تعلیمي نصاب کې پاملرنه زیاته شي. په دغه مقاله کې د فابل کیسو په تیوریک بحث سربېره، په تعلیمي نصاب کې د فابل کیسو راغلې نمونې هم تحلیل شوې او ښوونیز ارزښت یې بیان شوی دی. د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست څخه هیله لرو چې په تعلیمي نصاب په ځانګړې توګه د ښوونځیو په لومړنۍ او د امادګۍ په ټولګیو کې دغو کیسو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

تعلیمي نصاب یو ثابت چوکاټ نه دی، بلکې وخت نا وخت په کې د وخت له غوښتنو سره سم، ادلون، بدلون او سمون راځي. زموږ په هېواد کې هم تر سیاسي بدلون او د اسلامي امارت تر فتحې وروسته په تعلیمي نصاب د بیاکتنې بحث زیات شوی دی او لازمه هم ده چې په تعلیمي نصاب کې مثبت بدلونونه رامنځته شي، د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت دا دی چې د فابل کیسو ښوونیز او روزنیز ارزښت بیان شي او په تعلیمي نصاب کې یې ګټې او د ماشوم د ذهني ودې په برخه کې د فابل کیسو په اغېز او ارزښت څېړنه او سپړنه وشي، د دې ترڅنګ د تعلیمي نصاب مؤلفان دې ته وهڅول شي چې فابل یا د حیواناتو په ژبه لیکل شوې کیسې د خپلو تألیفاتو برخه وګرځوي.

## د څېړنې موخې

د فابل کیسو د پېژندلو او ادبي ارزښت اړوند ځینې خورې ورې لیکنې او مقالې شته دي، خو د دغو کیسو په ښوونیز او روزنیز ارزښت بحث او خبرې کول، له شک پرته نوې، جالبه او په زړه پورې موضوع ده، نو په همدې موخه دا موضوع څېړل شوې چې د فابل د منظمو او منثورو بېلګو په ښوولو سره د دغو کیسو ارزښت او د ماشوم په ذهني وده کې یې اغېزې را وسپړل شي.

## د څېړنې پوښتنې

- فابل څه ته وایي او فابل کوم ډول کیسې دي؟
- فابل ولې ښوونیز ارزښت لري او د ماشوم په ذهني وده کې یې رول څه دی؟
-د تعلیمي نصاب په پښتو مضمونونو کې د فابل کیسو ته څومره پاملرنه شوې ده او دا کیسې څه پېغام لېږدوي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشرېحي- تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د مقالې متن

په پښتو ادب کې د فابل کیسو منظومې او منثورې نمونې ډېرې موندلی شو. د دغو کیسو ستره ځانګړنه د اخلاقي پېغامونو لېږد را لېږد دی. دا کیسې تمثیلي بڼه لري او د تمثیل کرکټرونه یې بېلابېل حیوانات وي. مخکې له دې چې د فابل په ښـــوونیزو او اخلاقي اړخونو بحث پیل کړو، لازمه ګڼم چې د دې کیسو په لغوي او اصطلاحي پېژند ځینې نظرونه او خبرې را واخلم.

د فرهنګ په معتبرو کتابونو او انلاین قاموسـونو کې د فابل کیسـو اړوند راغلي دي: «فابل [Fable] هغه دودیزې او سنتي لنډې کیسې یا داستانونه دي چې اخلاقي او د پند مسأیل تدریسوي او د تمثیلي صحنو کرکټرونه یې حیوانات وي.» (۱۴: ۵۴۴ مخ)

بله خوا په دهخدا انلاین قاموس کې بیا د فابل کیســـو لغوي معنا ته افســـانه، داستان، اخلاقي حکایت او د حیواناتو کیسې هم ویل شوې دي. (۷: ویب)

پورته دوه تعریفونو څه نا څه د فابل کیسو سره اشنا کړو چې لومړی تعریف تر دویم هغه یو څه واضح او د فابل کیسو د محتوا په اړه څرګندې خبرې لري، خو دا چې یو

څه نور هم د دغو کیسو په اړوند وپوهېږو، ځینو نورو تعریفونو ته هم ځیر کېږو. ((فابل لاتیني ریښه لري، له Fabula نه اخیستل شوې ده او لغوي معنا یې بیا ویل دي. په روایت کولو باندې ټینګار کوي او په ادبي اصطلاح، فابل ساده او لنډې کیسې دي چې معمولاً یې شخصیتونه حیوانات دي او د هغو هدف د یوه اخلاقي یا معنوي اصل او حقیقت ښوونه ( تعلیم) او زده کړه ده. په فابل کیسو کې،کله ناکله د طبیعي موجوداتو او یا خارق العاده موجوداتو کیسې هم راځي. دا اصطلاح د نړیوالو افسانو او اسطورو لپاره هم په کار وړل کېږي.)) (۱۱: ۲۳ مخ)

یا: فابل هغه داستان دی چې پېښې په کې په تمثیلي توګه وړاندې کېږي. یو اخلاقي مفهوم ته وده ورکوي او یوه پایله ترې اخیستل کېږی. (۸: ویب)

څېړنپوه محمد نبي صلاحي د فابل په اړوند نور وضاحت هم وړاندی کړی دی: ((فابلونه هغه کیسې دي چې په هغو کې حیوانات، د انسانانو عملونو ته ورته عملونه تر سره کوي. په دغو کیسو کې حیوانات ((تفکر)) کوي او ((خبرې)) کوي. د دغو حکایتونو هر یو اخلاقي بار هم وړي، یا لږ تر لږه په هغو کې د یوه ناوړه عمل غندنه او د سموالي لور ته یوه هڅونه لیدله کېږي.)) (۱۱: ۲۴ مخ)

د سرمحقق محمد نبي صلاحي د تعریف په تائید باید په څرګنده توګه ووایم چې د فابل کیسو اصلي او بنسټیزه موخه اخلاقي، تعلیمي او یا هم ښوونیزه ده او دا ډول کیسې د ماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې اغېزناک ادبیات دي. ځکه د ماشوم ذهني وده په داسې کچ کې ده چې شیانو او پدیدو ته په حقیقي معنا ګوري او له هغه څه ډېر او ژر اغېزمنېږي، کوم څه چې د ماشوم په چاپېریال او شاوخوا کې وي. د بېلګې په توګه: هغه حیوانات چې ماشومان یې په خپل چاپېریال یا کورني ماحول کې ګوري، لکه: سپی، پیشو، غوا، مېږه، مېږی اوزه، چرګ او نور.

د فابل کیسو په کرکټرونو کې د انسانانو پر ځای د حیواناتو، بوټو، ونو او نورو شخه د کیسې د کرکټر په توګه کار اخېستل کېږي. په دغو کرکټرونو کې د ځیرونکو او داړونکو (پړانګ، لېوه، سپی، ګیدړ) حیواناتو ارزښت تر نورو لوړ دی، الوتونکي بیا په دویمه کته ګوری (ډلبندي) کې راځي او کله نا کله خو په کې حشرات او کبان هم د کرکټرونو په توګه راتلای شي. کله نا کله خو د بدن غړي هم د فابل د کرکټرونو په بڼه راغلي دي. د بېلګې په توګه د ایرانۍ شاعرې پروین اعتصامي په فابلونو کې د

(موی سفید و موی سیاه در قصیده پیک پیری) یا هم (چشم و مژگان در قصیده «دیدن و نادیدن») (۳: ۱۴مخ)

حیوانات د دغو کیسو د کرکټرونو په توګه ځکه غوره شوي چې ماشومان په کوچنیوالي کې له حیواناتو سره ځانګړې مینه او علاقه لري، بله دا چې حیوانات د کرکټرونو په توګه دا په ادبیاتو په ځانګړې توګه په داستاني ادبیاتو کې خاص او ځانګړي ادبیات هم ګڼلی شو، ځکه حیوان ته ژبه او د نطق ځانګړنه ورکول، د عادي لیکوال کار نه دی، بلکې ظریف او هنرمند لیکوال ته اړتیا وي چې دغه ډول ادبیات وپنځوي او ټولنه په کې نقد کړي دي. لیکوال په فابل کیسو کې ژوو ته عقل ورکوي چې وکولای شي خپل هدف او موخه د دغو بې ژبو پر ژبه په اسانۍ بیان کړي. د حیواناتو د کیسو ستره موخه اخلاقي، معنوي او ښوونیزه وي.

کیسې، حکایتونه او روایتونه هغه موضوعات دي چې د ماشوم په فکري وده او فکري بلوغ کې ځانګړی اغېز لري. که څه هم په لومړي سر کې ماشوم ډېر څه له خپل چاپېریال څخه زده کوي او وروسته په دویمه مرحله کې ښوونځي ته شاملېږي او لومړنۍ زده کړې پیلوي، خو له ښوونځي مخکې په کور کې د کورنۍ د غړو له لوري دوی ته د کیسو، حکایتونو او روایتونو داستانونه بیانول، د دوی په فکري وده کې اغېزناک نقش لري.

د کورنۍ غړي د خپل ژوند په دوران کې د پېښو شویو واقعیو په اړه هغه معلومات چې ماشوم یې د هضمولو ځواک لري، کولای شي مثبت اړخونه یې ماشومانو ته بیان کړي. د دغو مسایلو په بیان سره به کورنۍ وکړای شي چې ماشوم ته دا ور زده کړي چې په خپل راتلونکي ژوند کې یې له احتمالي خطرونو څخه وژغوري. (۱۲: ۱٦ مخ)

د ماشوم د زده کړې لومړنۍ اداره د هغه کور او کورنۍ ده. ماشوم له خپلو والدینو سره تر ټولو زیات وخت تېروي او له دوی او هغه چاپېریال څخه تر ټولو زیات شیان زده کوي چې والدینو ورته تیار کړی وي. مور او پلار په ځانګړې توګه مور د خپل ماشوم په پوهنه کې حیاتي رول لري. که ماشوم په هر عمر کې وي (که په ښوونځي کې درس وایي او که په پوهنځي کې). که دوی خپلو ماشومانو

ته پام وکړي، د هغو ماشومانو په پرتله به له زده کړو ډېرې مؤثرې پایلې اخلي، کومو ماشومانو ته چې پام نه کېږي.

ماشومان معمولاً تقلید مزاجه وي، کله چې د کورنۍ کوم غړی په ځانګړې توګه مور او پلار د ماشوم په مخ کې یو عمل ترسره کوي، نو ماشوم سم له واره هغه عمل خپل ذهن ته سپاري او د مور پلار په غیابت کې یې په غیر اختیاري شکل ترسره کوي. د بېلګې په توګه: که چېرته پلار د غاښونو کریم پر برس وکاروي او غاښونه برس کړي، نو ماشوم چې کله دا صحنه وګوري، دی هم ورته عمل ترسره کوي یا هم که مور پلار دوا خوري او له شربت یې یوه کاشوغه (کاچوغه) وخوري، نو ماشوم پرته له دې چې تفکیک کړي چې دا دوا ښه ده که بده، دی هم ورته عمل ترسره کوي. (۱۲: ۱۸ مخ)

ډېر کله زموږ توقعات د ماشوم له جسمي او فکري ودې سره په ټکر کې وي، که غواړو چې د دغو توقعاتو او د ماشوم د ودې ترمنځ انډول وساتو او فکر ورته وکړو، نو لازمه ده چې په خپلو غوښتنو له سره کتنه وکړو او معقول حد ته یې را کښته کړو، ځکه ماشوم د ماشومتوب په دوره کې ډېر شیان او اعمال له خپل استوګنیز چاپېریال څخه خپلوي.

شاګردان د ټولنې غړي دي، خو دوی لا دومره ذهني بلوغ ته نه دي رسیدلي چې په خپل نفس بشپړ باور ولري، مګر د دوی ذهني وړتیا او په تدریجي شکل د ذهني وړتیا وده یو منلی حقیقت دی. شاګرد هڅه کوي چې په خپل چاپېریال کې په شیانو او پدیدو ځان وپوهوي او د هغوی په معنا او مفهوم یې سر خلاص شي.

د ښوونې او روزنې د پوهانو په نظر د شاګرد له ذهن بهر یو بېله نړۍ اباده ده چې شاګرد حس کوي چې یو څه ترې هېر دي، خو د ده ذهن په دې قادر دی چې همدغه هېره او ورکه شوې نړۍ بیامومي د شاګرد ذهني غځونې کولای شي چې د لا ډېرو او نورو پدیدو په اړوند وپوهېږي او خپل ذهن ته معلومات وسپاري. هماغسې لکه د ښوونې او روزنې متخصص جان لاک چې په (۱۶۹۰ م) کال وویل: که فرض کړو د شاګرد ذهن سپین کاغذ دی او له هر ډول نظریې، عقیدې او تصوره پاک دی، نو موږ اختیار لرو چې په دغه سپین کاغذ هر ډول لیکل وکړو، نو شاګرد به هماغه څه خپل ذهن ته په اتومات شکل ولېږدوي. یا هم که د شاګرد ذهن اسفنج وګڼو، نو اسفنج دا وړتیا لري چې د هرې علمي رشتې عقاید، باورونه او اصول را جذب کړي او چې څومره

علمي رشتې را جذبوي، په هماغه کچه یې د منطق او استدلال قوت زیاتېږي او حافظه یې تکامل کوي. (۱: ٦٣ مخ)

د انسان طبیعت داسې جوړ شوی چې که یې نیمګړتیاوې او تېروتنې ورته په مستقیمه توګه ووایې، نو خوا یې پرې بدېږي، خو که همدا تېروتنې او نیمګړتیاوې د کیسو په بڼه د تمثیل، سېمبولونو او استعارو په قالب کې ځای پر ځای شي، نو انسان یې منلو ته غاړه ږدي، د نقد، لارښوونې او زده کړې دا لار او طریقه په ماشومانو، په ځانګړې توګه د ښوونځي په زده کوونکو ژر او مثبت اغېز کوي.

فرانسوي فابل لیکوال دولافونتن په دې باور دی چې فابلونه باید یواځې منظوم کلام نه وي، بلکې په عالي رنګونو، انځورونو او تابلوګانو کې نغښتی وي او په یو وچ او بې روحه قالبوت کې د ژوند ساه پوه کړي. د هغه په عقیده فابلونه باید خوښي بخښونکي وي او تفریحي بڼه ولري، لوستونکي علاقمند کړي، په ځانګړې توګه ماشومان او د ښوونځي زده کوونکي د شیانو او پدیدو زده کړې او اخلاقي اصولو خپلولو ته لېواله کړي. ( ۳: ۲۱ مخ)

کله چې د حافظې د تکامل، د استدلال د قوت او د اخلاقي اصولو د خپلولو خبره کېږي، نو له شک پرته په دې برخه کې د منثورو او منظومو ادبیاتو نقش باید له پامه ونه غورځول شي، ځکه ماشوم یا د مبتدي زده کړې شاګرد تر نثر منظوم کلام ژر زده کولای شي، خو که د منثور کلام الفاظ ساده او د ماشوم د سویې مطابق وي، نو له شک پرته ماشوم یې په اسانۍ هضمولی شي.

**د پیشو توبه**

ډېر پخوا وه په کلا کې یوه خونه
پکې جوړ وو ګدامونه انبارونه
هم د وریجو هم جوارو پرېماني وه
هم شکري هم غنم وو جوالونه
موږکانو جوړه کړې ورته لار وه
په دې خونه کې یې کړي وو غارونه
چې پیشو به راښکاره سوه دوی به ورک سول
له غارونو به یې نه راتلل ږغونه

یو څو ورځې پیشو پاته سوه دننه
هره ورځ به یې څارل د دوی کارونه
گوندې نن یا سبا وړې سي راووزي
موږکان په وجود خوار وړې نسونه
ورځ به خواره وي د دوی زما به مېله وي
د هفتو میاشتو به واخلم کساتونه
په لکیو په بریتونو به یې کړم لوبې
په پنجو به یې څیرم نازک پوستونه
(۴: ۲۵٦ مخ)

دا چې د فابل دا منظومه بېلگه اوږده او د مقالې لمن تنگه ده، نو یواځې په پېغام یې لنډه خبره کوو. په دغه منظوم کلام کې پیشو په ډېر مهارت سره غواړي چې موږک په خپل دام کې وغورځوي، خو موږک د پیشو په مکر او خبرو نه غولېږي، پیشو ټینگار کوي چې ما د موږکانو له خوړلو او ښکار کولو توبه وایستلې ده، خو موږک په دې باور دی چې دا هسې خبرې، چل او پلمې دي او تر پایه د پیشو په خبرو او کاذبه توبه باور نه کوي او پیشو ته له غوږه تېروي چې زموږ او ستاسې دښمني پخوانۍ او د روغې جوړې کوم څرک په کې نه لیدل کېږي. تر پایه دا سلسله دوام کوي او موږک په سوړه کې پاتې کېږي.

د کیسې اخلاقي پېغام روښانه دی، دا یو منلی حقیقت دی چې د پیشو او موږک دوستي نه شي کېدای او پیشو د خپل وړې نس د مړښت لپاره تل د موږک دښمنه پاتې شوې ده. دا پېغام هم په لاس راکوي چې کوم شی یا کوم حیوان چې فطرتاً د بل حیوان دښمن او رقیب وي، نو هغه هېڅکله دوست کېدای نه شي. که د ښوونیز ارزښت په اړه یې خبره وکړو، نو پیشو او موږک د ماشوم د چاپېریال حیوانات دي او تر بل هر حیوان دغه حیوانات د ماشوم په کورني ماحول کې ډېر موندل کېږي او پوره ورسره اشنا دی. کیسه دا څرگندوي چې رښتیا، صداقت او زړورتیا تل کامیابي وي، خو دروغ، بدي، چل، فریب او دوکه ماته خوري. د فابل یوه بله کوچنۍ بېلگه لولو چې کرکټرونه یې معنا نومونه دي:

## هیله او وچ خیالونه

هیلې وویل: زه ځم چې کار وکړم.

بریا وویل: زه هم در سره ملګرې یم.

وچ خیال وویل: زه کرارې کېنم چې سوکاله شم.

ناکامۍ وویل: زه هم درسره ملګرې یم.

(۲: ۷ مخ)

د کیسې پېغام راته وایي چې: کار، زیار، خواري او محنت که سره یو یوځای شي، نو انسان بریا ته رسوي، خو که برعکس، لټي، تنبلي او خیالي ژوند یو شي، نو دا د ناکامۍ، ماتې او پاتې کېدو لار ده. دغه ډول منثورې او منظومې بېلګې زموږ په ادبیاتو کې زیاتې دي چې خاص ښوونیز او اخلاقي ارزښت لري او په کار ده چې په تعلیمي مؤسسو کې د زده کوونکو لپاره تدریس شي.

د دغو کیسو د منثورو ارزښت په خپل ځای، خو منظومې هغه یې لا ډېر او ژر پر ماشومانو خپل اغېز ښندي، خو د نظم ژبه، الفاظ او ترکیبونه به یې ساده، روان او د ماشوم له سویې سره برابر وي. علم ګل سحر چې د ماشومانو لپاره کیسې او شعرونه لیکي، یوه منظومه بېلګې یې لولو:

زه کتاب یم د لوستلو

نه د پام غلطولو

ځینې ځینې وخت ضایع کړي

زما په پاڼو اړولو

زه یې وایستم له ګټې

ماشومانو په مروړلو

چې مې څوک په قدر پوه شي

کړي مې پورته له خځلو

(۹: ۱۰ مخ)

ممکن په پښتو ادبیاتو کې د قابل کیسو لرغونې بېلګه په پټه خزانه کې د عبدالطیف اڅکزي د «قصه د سوی او د اوښ» وګڼو، ددغه کیسې منثور شکل او لنډېز عبدالغفور لېوال په خپل اثر (د ماشومانو لپاره کیسې او بوختیاوې) کې داسې را

اخېستې ده. « وو، نه وو په پخوانیو زمانو کې یو سوی او یو اوښ وو چې دواړه سره دوستان شول. د دغه اوښ او سوی آشنایي دومره خوړه او توده شوه چې له یوه او بل پرته به یې ژوند نه شو تېرولی او په دې توګه اوښ او سوی دواړه سره یوځای اوسېدل او ژوند به یې په خوږو کیسو او خوشحالۍ سره یوځای تېراوه. عجیبه خو دا وه چې سوی د اوښ په کور کې اوسېده او تل به یې یو له بل سره کیسې کولې، داسې چې بېګاه به یې کیسه پیل کړه، نو تر سبا به یې کیسې کولې. دوی دواړه په خورا پام یو د بل قدر او عزت کاوه.

څو یوه ورځ سوی پرېکړه وکړه چې اوښ خپل کور ته را مېلمه کړي او یوه ښه خوندوره مېلمستیا ورته تیاره کړي. همدا وو چې سوی خپل ټول عزیزان او خپلوان را مېلمانه کړل او ورته ویې ویل چې زما ګران او مهربان آشنا، یعنې اوښ زما مېلمه دی او تاسو هم باید په دغې مېلمستیا کې ګډون وکړئ.

اوښ چې خبر شو، سوي ورته مېلمستیا کړې ده، ډېر خوشحاله شو او راغی چې د سوي کره شپه تېره کړي، یوځای د هغه له خپلوانو سره ډوډۍ وخوري، نو له خپله ځایه را وخوځېده او راغی چې د سوي کور ته را ورسېده، خو ګوري چې د سوي کور ډېر وړوکی دی، دومره وړوکی چې د ده یوه ګونډه هم نه په کې ځایېږي، نو همدا وو چې د سوي د کور په خوله کې یې ګونډه ووهله او منتظر شو چې سوی به ورته خواړه راوړي. سوی ټول هغه خواړه راوړل چې د اوښ لپاره یې تیار کړي وو.

اوښ په خوراک پیل وکړ، خو ټول وابښه یې ایله یوه مړۍ شول او نور وږی پاتې شو. سویان ټول وشرمېدل او د اوښ ملګری سوی یې ملامت کړ چې خدای دې خوار کړه چې مېلمستیا کولای نه شې، ولې له اوښ سره ملګرتوب کوې؟ اوښ ګوره او ځان وګوره، ستا او د اوښ څه مناسبت و چې سره ملګرتوب مو کاوه، چې پیلان ساتې، پیلخانې به جوړوې او چې اوښان ساتې، دروازې به لوړې ږدې، له خپل ټغر سره به پښې سمې غځوې او که نه همداسې به شرمېږې چې له ځان سره به قوم هم شرموې.» (۱۳: ۹- ۱۰مخونه)

کیسه د دې لپاره ویل شوې چې خلک ور څخه پند واخلي، له خپل وس، توان او اندازې سره سمه او مناسبه یارانه، دوستانه وپالي. تاسو وکتل چې سوی له اوښ سره دوستي کوله او کله یې چې مېلمه کړ، هم ور څخه وږی پاتې شو او هم یې ورته د

شپې تېرولو ځای نه درلوده، هر څوک چې کوم کار ته لاس غځوي، باید لومړی په دې ډاډه واوسي چې کولای یې شي او کنه. دغه ډول کیسې زموږ د ماشوم ادبیاتو په برخه کې خپل ځانګړی ښوونیز او اخلاقي ارزښت لري، چې خبره د ښوونې او روزنې ده، نو اوس راځئ د درېیم ټولګي په پښتو مضمون کې د قابل یوه کوچنۍ نمونه ولولئ:

« **بې احتیاطي:** په ځنګله کې حیواناتو مېله جوړه کړې وه. پیشو په ځان جوړولو ډېر وخت تېر کړ. سوی پیشو ته وویل: پیشو! ملګري وایي چې ژر کوه ناوخته شو. پیشو ځواب ورکړ: غم مه کوه اوس به مو د سترګو په رپ کې و رسوم. پیشو موټر چالان کړ، خو ډېر تېز یې چلاوه. سوی په وارخطایۍ ورته وویل: پیشو! ترافیکي نښو ته پام کوه! باید موټر ورو وچلوې. پیشو موټر نور هم تېز کړ. موټر ناڅاپه له اوسپنې څخه جوړې شوې لوحې سره وجنګېده. پر لوحه لیکل شوي وو: (له نه رسېدو څخه، وروسته رسېدل ښه دي!) » (۵: ۳۱ مخ)

دا او دې ته ورته بېلګې زموږ په تعلیمي نصاب کې د قابل کیسو غوره نمونې ګڼلی شو چې زده کوونکو ته ډېر اغېزناک ښوونیز او تعلیمي ارزښت لري. دا کیسه ماشومانو ته دوه پېغام ور زده کوي: لومړی د ژوند په ټولو چارو کې په ځانګړې توګه، د موټر چلولو پر مهال باید له احتیاط، صبر، زغم، استقامت او پوره حوصلې کار واخلو او دویم پېغام یې دا چې زده کوونکي د ترافیکي څراغونو له ډولونو او د دغه نښو په معنا پوهېدو ته را بولي.

که څه هم د قابل کیسو دغه ډول بېلګې زموږ د پوهنې په نصاب کې پخوا ډېرې نه وې، خو په دا وروستیو کې په دولتي ښوونیزو مؤسسو کې د دغو کیسو ښوونیز او اخلاقي اړخ ته ډېر پام شوی دی او د نصاب په کتابونو په خاص ډول د لومړۍ یا ابتدائیه دورې د زده کوونکو لپاره په لیکل شویو کتابونو کې دا بېلګې ډېرې راغلي دي.

د دویم ټولګي په پښتو مضمون کې یوه بله بېلګه را اخلو:

(( د هیلۍ بچی او چرګوړی: نری باران ورېده. چرګوړی د حوض پر غاړه پاتې و. ژړل یې. د هیلۍ بچی ورغی. ورته ویې ویل: ولې ژاړې؟ چرګوړي وویل: زموږ کور د حوض پورې غاړه دی. په حوض نه شم ور ګډېدای. د هیلۍ بچي یې اوښکې پاکې کړې. ورته ویې ویل: اول وخانده، بیا دې له حوض څخه پورې باسم. چرګوړي

وخندل. د هیلۍ بچي ورته وویل: اوس نو زما پر شا کینه. چرګوړي شاته ور ټوپ کړ. د هیلۍ بچي په حوض کې لامبو ووهله. چرګوړي يې له حوض څخه پورې ایست. چرګوړی خوشحاله شو او مننه يې ترې وکړه. )) (٦: ١٦٣ مخ)

د ماشومانو لپاره د حیواناتو په ژبه د دې کیسې ښوونیز او اخلاقي پیغام دا دی چې څنګه له یو بل سره د مرستې او همکارۍ روحیه پیدا، پیاوړې او عملي کړو، څنګه کولای شو چې قوي دې له ضعیف سره مرسته وکړي، بینا دې ړوند ته لار وښيي، لور دې له مور سره د کور په کارونو کې همکاره اوسي او دا چې زوی باید په کروند کې له پلار سره اوږده په اوږده کار او زحمت وباسي. د جوړښت له مخې دا کیسې ډېرې ساده او روانې دي، زده کوونکي يې د لوست پر مهال له کوم ابهام سره نه مخامخ کېږي او په ډېرې اسانۍ سره يې په حافظه کې کښېني، خو دا هر څه باید د ماشوم ذهني ودې او عمر ته په کتو سره ترسره شي.

«په افغانستان کې خو چې تر دولس کلنۍ واوړي، د ماشومتوب له تعریفه ووځي، که نجلۍ وي، د ودولو هڅې يې شروع شي او که هلک وي، د نجلۍ لټه ورته پیل شي. څرنګه چې ماشوم د جسم له پلوه بدلون کوي، داسې کال په کال د روان له پلوه هم بدلېږي. د درې کلن او اووه کلن ماشوم ترمنځ یا د پینځه کلن او لس کلن ترمنځ ډېر توپیر وي، چې باید د ادبیاتو په ایجاد کې ورته پام وشي.

پخپله زما لپاره د یوه لیکوال په توګه د ماشوم لپاره د ادبیاتو ایجاد یا د ماشوم د ادبیاتو شننه تر یوې ننګونې کمه نه ده، ځکه چې د ماشوم پر ادبیاتو پوهېدل د ماشوم زړه او فکر غواړي، چې هغه اوس له ما سره نشته. د لویانو پر ادبیاتو بحث دومره سخت نه دی، لکه د ماشومانو پر هغو.

نو که د ماشوم لپاره د ادبیاتو ایجاد اسانه نه دی، خو یوه اړتیا ده او دا اړتیا څنګه پوره کولای شو؟ د دې اړتیا د پوره کولو لپاره لومړۍ خبره دا ده، چې موږ باید دا چاره اسانه و نه بولو او هڅه وکړو، چې د ماشوم روان، هیلو، چاپېریال، ژبې او له کوچني نه د ټولنې غوښتنې معلومې کړو او دا ټول غاړه غړۍ کول او د هر سن ماشوم لپاره د ادبیاتو ایجاد اسانه نه دی، خو د ارواپوهنې، ټولنپوهنې، ژبپوهنې او نورو په مرسته دا چاره ځان ته اسانه کولای شو.» ( ١٠: ویب)

د استاد ښکلي د خبرو په تائید د ماشوم ادبیاتو پنځول د ماشوم زړه او فکر غواړي چې متأسفانه اوسمهال زموږ په ادبیاتو کې دا یوه ننګونه ده، ځکه د ماشوم ادبیاتو لیکوال د ماشوم حد ته باید ځان را ټیټ کړي، د ماشوم، ذوق، علاقه، سن او د هغه د ټولنې عیني چاپېریال، پېښې او انځورونو پاملرنه وکړي. د نمونې په توګه: که ووایو د عبدالباري جهاني ځینې منظوم فابلونه به ساده او اسان وي، خو ټول یې د ماشوم له سویې سره برابر نه دي او دغه ډول ادبیات یواځې د ماشومانو لپاره نه دي پنځېدلي، بلکې د لوړ سن علاقمندان، خانان، ملکان، نوابان او نور یې په کې نقد کړي او مخاطبان یې دي.

## پایله

په دې مقاله کې دې پایلې ته ورسېدو چې څه نا څه د فابل له تعریف سره آشنا شو، خو تر ټولو ډېر او مهم بحث دې پایلې ته رسېږي چې موږ د فابل کیسو ښوونیز او روزنیز ارزښت وپېژنده او په تعلیمي نصاب کې یې په اړتیا او ګټورتوب لږ تر لږه په نسبي ډول پوه شوو. بل خوا دا هم ثرګنده شوه چې فابل کیسې د ماشوم په ذهني وده، اخلاقي اصولو زده کولو او له درسونو سره د دوی په علاقمندۍ کې د دغو کیسو رول او ارزښت څه دی او په نصاب کې ځنګه انکشاف او پراختیا ور کولای شو.د بحث بله پایله دا ده چې د ماشوم ادبیاتو  پنځګر باید کومې ځانګړنې ولري او په څه ډول د ماشوم سن، ذوق، علاقه او شرایط په پام کې ونیسي.

## مأخذونه


۱ . اسکایروم، مایکل استیفن. نظریه برنامه درسی، د داکتر محسن فرمهینی فراهانی ژباړه، لومړی چاپ، مرکز علمی فرهنگی آییژ: تهران، ۱۳۹۳ کال.

۲. السباعي، دکتور مصطفی. له ژونده مې زده کړل، د محمد ظاهر عمار ژباړه، حکمت خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۷ لمریز کال.

۳. تبریزی، دکتور رضا ایراندوست، شخصیت ها و اخلاق در فابل های پروین اعتصامی و ژان دولافونتن «مقاله»، نشریه: پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی، دانشکده، ادبیات و علوم انسانی.

۴. جهاني، عبدالباري. شپېلۍ، نارنج خپرندویه ټولنه: کندهار، ۱۳۸۵ لمریز کال.

۵. د پوهنې وزارت د نصاب غړي، د درېیم ټولګي پښتو، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست: کابل، ۱۳۹۸ لمریز کال.

٦. د پوهنې وزارت د نصاب غړي، د دویم ټولګي پښتو، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست: کابل، ۱۳۹۸ لمریز کال.

۷. دهخدا، علي اکبر. «فابل ها»، واژه یاب انټرنیټي پاڼه، لاسرسی: www.vajehyab.com [را اخیستنه ۱۴۰۲/۳/۱۲].

۸. زیار، محمد عارف. ((د حیواناتو کیسې)) تاند ویب پاڼه، لاسرسی: ١٤١٦٥١https://taand.net/ (را اخېستنه: ۱۴۰۲/۳/۸ لمریز).

۹. سحر، علم ګل. ستوري، (د ماشومانو لپاره شعرونه) مصور بنسټ: کابل، ۱۳۸٦ لمریز کال.

۱۰. ښکلی، دکتور اجمل، ((د کوچنیانو د کیسو استعارې)) تاند ویب پاڼه، لاسرسی: ۱۹۷۳۰۷https://taand.net ( را اخیستنه: ۱۴۰۲/۳/۱۰ لمریز).

۱۱. صلاحي، محمد نبي. د فابل پېژندنه او په ادبیاتو کې یې ونډه، کابل (مجله) ۱- ۲ ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۴۰۰ لمریز کال.

۱۲. کرام، سید محمود. مسایل تربیتی اطفال، به اهتمام محمد هاشم مهجور، چاپ اول، انتشارات بین المللی سرور سعادت: کابل، سال ۱۳۹۴هـ ش.

۱۳. لېوال، عبدالغفور. د ماشومانو لپاره کیسې او بوختیاوې، اریک د ګرځنده کتابوتونو اداره، پېښور، ۱۳۸۱ لمریز کال.

Oxford advanced learners dictionary of current English 7th edition ، انتشارات:

۱۴. دانش پرور ـ الهام، کتابخانه ملی ایران، ۲۰۰٦سال.

پوهنیار عبیدالله اغېـز

# د میرزاخان انصاري په غزل کې د عقل مقـام

# The position of intellect in Meza Khan Ansari's ghazal

**Assistant Prof، Obaidullah Agheez**

## Abstract

Mirza khan has special place in Rokhani' movement and has a written book and he is a Sufi lyric poet who explore his grandfather Bayazeed rokhan' views. His poems and lyrics have highly disciplined valued his peoms and lyric both are have colorful arts. Despite Sufism views he also described other logical aspects.

Logic is that power which with inner feeling differentiate beauty and ugliness, right and wrong, good and bad which other don't have.

Logic and mind is a specialty and favor upon some people while others don't have it.

It is human inner power controlled by human himself and it guidance human in all ways of his life.

Scholars divided logic in different kinds.

Islam also appreciates logic and valued it therefore it is cited in Quran more than 50 times. There are many views about logic, some says it is human natural specialty others think it is related to Sufism and other relates it with philosophy.

In Sufism and mysticism logic has its own place and love and hearth has their own different steps and stages. There are two centers in human spirit once name is logic and other is heart each has inner activities and spiritual lights 'sign because minds' light is important for heart if it is not existed the human remain ignorance and involve in his sorrow and sadness. Sufism and Mysticism pretend that logic light is from heart. It's meant they belief that logic will obey heart but heart should not obey logic. Which mean when heart start beating logic have to obey and instruct.

Mirza khan has his own view and perspective about logic when he talks about logic, love and sprite it seems that both are in opposition because somewhere he values logic while in other places logic is burning because of heart, spirit and love and in some places both recover one another's.

## لنډيز

ميرزاخان انصاري په روښانـي ادبي او تصوفي ښوونځي کې د ځانګړني مقام او د دېوان خاوند صوفي غزلبول شاعر دی چې د خپل نيکه بايزيد روښان افکار يـې ځلولي. د ده د پنځونو فکري اړخ لوړ ارزښت لري. شعر او غزل دواړه يې لوړ هنري رنګونه لري. په تصوفي افکارو او اصطلاحاتو سربېره نور فکري اړخونه يـې هم بيان او انځور کړي دي.

عقل هغه قوه ده چې د باطنـي احساس په وسيله په ښو او بدو، سم او ناسم، ښکلي او بدرنګه تمييز او توپير کوي. عقل د انسان لپار ځانګړې نعمت دی چې نور ترې بې برخې دي. دا د انسان باطنـي ځواک دی چې کابو کول او رهبري يـې په خپله انسان دی او د انسان د ژوند د ټولو پړاوونو لارښود دی.

اسلام هم عقل او عقلانيت په ډېر درانه کاهـي تلي، څکه خو په قرآن کريم کې نږدې (۵۰) ځله د عقل يادونه شوې. د عقل په اړه ډېر اندونه وړاندې شوي، څکه عقل د انسان فطري ځانګړنه ده، خو دا ځانګړنه ځوک د تصوف خوا ته ورکاږي او ځوک يـې د فلسفې اړخ ځرګندوي. په تصوف کې عقل خپل مقام لري او د عشق او زړه مقام بيا بېل پوړيز مدارج لري.

د انسان په روح کې دوه مرکزونه دي چې د یوه نوم عقل او د بل زړه دی چې هر یو یې د یو ډول دروني فعالیت او روحي رڼاګانو نښې دي، ځکه د زړه لپاره د عقل روښنایي مهمه ده،که دا نه وي، انسان د ناپوهۍ په پوله درېږي او د ځان په غم او ربړه کې ډوبېږي.

په تصوف کې د عقل رڼایي له زړه نه ګڼلی شي؛ یعنې دوی په دې عقیده دي چې عقل باید د زړه ومني او نه  دا چې زړه د عقل منونکی واوسي، په دې معنا چې د زړه نه خوځښت پیلېږي او عقل یې په منښتې او لارښوونې اړ کېږي. میرزاخان انصاري د عقل په اړه خپل فکر او لید لري او یو مقام ورکوي، خو کله یې مقام راټیټوي. که دی عقل، عشق ، روح او زړه یادوي، خو په خپل منځ کې یو ډول تقابل لري، یعنې یو ځای کې عقل ته ارزښت ورکوي، بل ځای د زړه، روح او عشق په جذبو کې عقل سوځوي او بل ځای بیا دواړه یو د بل بشپړوونکي ګڼي.

## سریزه

د انسان عقل او عقلانیت په اړه خبرې او بحث کره او ژوره مطالعه او څېړنه غواړي، په تېره بیا عقل د فیلسوفانو، ساینس پوهانو او عارفانو له انده او لیده کتنه او ارزونه یې سخته  او کړکېچنه چاره ده. په دې کې بیا د عقل او عشق او د عقل او زړه ترمنځ تقابلي تاویلې ماویلې چې ډېره پخوانۍ مخینه لري چې، د دوی ترمنځ د بحث وړ موضوع وه او یوه ربړه او ستونزه بلل شوې ده. په دې لیکنه کې هڅه شوې چې په اسلام کې د عقل مقام جوت شي، د عقل او عشق، د عقل او زړه ترمنځ اړیکې په پرله پسې توګه سپړل شوي. په بله برخه کې یې د میرزاخان انصاري په غزلیزه شاعرۍ کې د عقل مقام څرګند شوی او د انساني عقل د مقام ارزونه او سپړنه یې ترسره شوې ده. دلته موږ هڅه کوو چې د عقل مقام ، ارزښت او لوړښت یواځې د میرزاخان انصاري تصوفي لید او فکر پر بنسټ څرګند کړو چې د ده د غزلیزو بیتونو  په رڼا کې عام انساني او تصوفي عقل ارزونه او سپړنه ترسره کېږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د عقل اړخونه او مقام وپېژنو. د ژوند او ژواک په چارو، کړنو او پرمختګونو کې د عقل او عقلانیت په راز او ارزښت ښه وپوهېږو. د عقل په اړه د میرزاخان انصاري فکر او لید وګورو چې په خپله غزلیزه تله کې یې د

عقل ارزښت او مقام په څومره درونده کاږي تللی. دی خپلو مخاطبینو ته د عقل ارزښت او مقام په اړه څه ډول لارښوونې کوي او کومې سپارښتنې ورته لري، دا کار په دې خاطر کوي چې عقل د انسانـي ژوند په ټولو پړاوونو کې یو اړین لارښود دی. همدا راز د عقل او زړه په اړیکو به هم وپوهېږو.

## د څېړنې موخې

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې د عقل مقامي اړخونه راوسپړل شي. عقل د ژوند او ژواک په ټولو کړنو او کارونو کې څومره لوړ مقام او ارزښت لري، په دې کې د عقل او زړه ونډه څومره ده، ایا دواړه په انساني پرېکړو کې اړین دي او که عقل د زړه او که زړه د عقل ومني. اهل تصوف په خپلو تګلارو او کړنلارو کې د عقل مقام او که د زړه او عشق مقام لوړ ګڼي او که دواړو ته یو ډول ارزښت ورکوي. که له عقل او عقلانیت نه کار واخیستل شي، نو ځان او خلکو ته خیر او ګټه رسېږي او ستونزې او ربړې حل مومي. د عقل په اړه د میرزاخان انصاري لارښوونې څومره اغېزمنې بللی شو چې دا د نوموړي اړینه موخه ګڼلی شو.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي، تحلیلي او په ځینو برخو کې له کره کتنیز میتود څخه استفاده شوې ده.

## د مقالې متن

**عقل څه ته وایي؟** عقل عربـي کلمه ده چې لغوي معنا یې سیندونو پوهه، پوهېدنه، ادراک، هوش، تمییز او د حس قوه راوړې ده او د عقل ضد او تقابل جهل، ناپوهي او بـې عقلـي ده. په آریانا دایرة المعارف کې یـې په اړه لیکل شوي: « د عقل لغوي معنا پایـبند ده، لکه څرنګه چې د اوښ پایـبند ته عقال ویل کېږي.»(۱۰: ۱۷۸) دلته عقال په پښې پورې بند تړل دي او په عربـي کې عقال هغه پړي ته وایـي چې د اوښ ګونډه پرې تړلی شي، نو ویلی شو چې عقل هغه پړی دی چې مست اوښان پـرې تړي او نه یې پرېږدي چې هر ځای ته په خپل سر اوښ لاړ شي او یا سر ووهي، خو کله چې اوښ دا پړی وشکوي، نو بیا خرابـي او ګډوډي رامنځ ته کوي، د خپل خاوند او د بل ځمکه نه پېژني او هر څه چې په مخه ورځي، هغه خپلې خېټـې ته وراچوي. دلته آر موخه له عقل نه سم کار اخیستل دی.

د عقل لغوي او اصلاحـي معنا په اړه بیا پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس کې داسې لیکل شوي:« سد، هوش، د ښو او بدو د تمییز او بېلولو قوه یا هغه قوه چې د یوه آنـي او باطنـي احساس په وسیله په ښو او بدو، سم او ناسم ، ښکلي او بدشکله تمییز کوي. د صحیح قضاوت استعداد، د استدلال کولو استعداد، د مفاهیمو او فقرو د یو ځای کولو استعداد په دې معنا عقل یوه مخصوصه انساني ملکه ګڼل شوې ده.»(۵: ۲۱۴۳)

عقل هغه ذهنـي ځواک دی چې فکري کچه، غوره درک او د انسان ښکلي معنوي کړو وړو او داسې نورو ته لارښوونه کوي. عقل د خیر او شر، د ښه او بد، د حق او باطل او داسې ټولو متضادو اړخونو د تمییز« بېلولو او پېژندلو» ځواک او توان لري او وګړي یې د همدې ځواک په مرسته پېژني. دا پېژند یـې په هر وګړي کې سم دی، خو په ټولیـز او جمعي ډول سم نه دی، ځکه عقلي کچه او عقلانیت د هر وګړي بېل دی.

عقل یو ادراکي او حسي ځواک دی چې په مرسته یې په شعوري توګه هر څه درک او حس کولی شو. د همدې عقل په مرسته له منطق او استدلال نه کار اخېستلی شو. واقعیتونه پـرې درک کوو او ډېر څه پـرې رهبري کوو. عقل په عام ډول د انسان طبیعي ځانګړنه بللی شو چې د انسان د ټولو کړنو، چارو، کارونو او فعالیتونو سره اړیکې پالي. په اړه یـې لولو:« د عقل ځرنګوالی او وړتیا نه په پایلو کې دی، بلکې یوازې په فعالیت سره پېژندل کېږي. تر ټولو مهم فعالیت یې یو له بل سره تړل او خلاصول دي. عقل ټول تجربـي، سنتـي او حیاتي او د اقتدار له مرجع نه اخیستل شوي.»(۱۰: ۱۷۸)

عقل د انسان باطنـي او دروني ځواک دی چې کنټرولر او رهبر یـې په خپله انسان دی. عقل، فکر او حس د فلسفي پېژندنې درې سرچینې او منابع بلل شوي او په ارواپوهنه کې هم عقل، دماغ، حافظه او ذهن د بحث او مطالعې موضوع ده. په حقیقت کې عقل د ښو او بدو د پېژندنې ځواک دی چې د انسان په وجود کې ځپـې وهي. که فکر وکړو، نو د نړۍ ټول ژوندي موجودات مغز لـري، خو دې کې یواځې انسان یې د درک او هوش ځواک لري چې هغه ته عقل ویل کېږي او دا یواځې انسانـي ځانګړنه ده.

دا سړی په علم و عقل ښایسته دی
د حیوان هډو ماغزه شته ګوشت و چرم
(۲: ۲۵۸)

که وګورو، نو ټول« هغه ژوي چې موږ يې وينو، هغه درک، شعور او فهم لـري چې په حقيقت کې هغه د خپلو ځانګړو ژوو مغـزي تنه« ساقه» لري چې د خپلو فعاليتونو او کړنو له اجرا نه وروسته د وخت او زمان له تېرېدو سره سم د ژوند په هر پړاو کې له منځه ځـي او يوازې د انسان عقل دی چې ډېر علوم او شيان ترلاسه کولی شي او د هغو د پېژندنې وړتيا لري.»( ۱۷:۳)

عقل د پوهې، تمييز ، د ښو او بدو د بېلولو هغه ځواک دی چې د باطنـي او دروني احساس په مرسته د ښو او بدو، سم او ناسم، ښکلاوو او بدرنګيو تمييز او توپير کوي، عقل ګڼه او تاوان سنجوي او د انسان ټول کړه وړه اداره کوي. په فلسفه کې بيا عقل د حقيقتونو او واقعيتونو د پلټـلو او پيداکولو ځواک دی.

**په اسلام کې د عقل ارزښت او لوړوالی:** اسلام د عقل او عقلانيت ارزښت او لوړښت ته په درانه کتلي دي، نو ځکه د الله تعالی په سپېڅلي کلام قرآن کريم کې نږدې(۵۰) ځله د عقل يادونه شوې ده،( « عقلون» يو ځل، « تعقل» يو ځل، « يعقلها » يو ځل ، « يعقلون» ۲۲ ځله، او « تعقلون » ۲۴ځله)، خو پر عقلانيت د قرآن کريم له دومره ټينګار سره سره په دغه سپېڅلي کتاب کې هېڅکله د عقل کلمه په مطلقه او مشتـقات يـې د اسميه صيغې په بڼه نه دي استعمال شوي، بلکې د دې پر خلاف د فعليـې صيغې په بڼه کارول شوي، څو د دې مسئلې يادونه وکړي چې عقلانيت په يوې پېښې، وخت او متن پورې اړه لـري.» (۱۰: ۱۷۹)

دا څرګنده شوه چې عقل او عقلانيت په اسلام کې ستر ارزښت لري؛ځکه د عقل او عقلانيت مقام يـې ستايلی او په ټولو چارو کې يې د تعقل سپارښتنه کړې او تعقل پوهې او ځيرکتيا ته وايـي، نو « قرآن کريم په څرګند ډول، هغه کسان يـې چې له تعقل( پوهې) کار نه اخلي، هغه کاڼه او ګونګيان ګڼـي چې دا په خپله تر حيواناتو ډېر بد خلک دي، نو د قرآن کريم د انفال سورة، ۲۲ آيت کې داسې ليکل شوي دي:« لَا يَعْقِلُونَ ــ چې له پوهې کار نه اخلـي.» (١٦: ۲۲آيت)

همداراز د قرآن کريم د البقره سورة، ۲۴۲ آيت کې داسې ليکل شوي: « لَعَلَّكُمْ تَعقِلُونَ ــ تاسې له پوهې او ادراک سره کار وکړئ.»(١٦: ۲۴۲آيت)

په قرآن کريم کې عقل او د هغه مشتـقات د پوهې، فهم او ادراک په معناوو سره ياد شوی چې د البقره، لَعَلّكُمْ تَعقِلُونَ،۷۳ آيت. ــ البقره، ما عَقَلوُه ،۷۵ ايت. ــ البقره ،

أَفَلَا تَعقِلُونَ، ٧٦ آيت. ـ البقره ، تَعقِلونَ، ٢۴٢آيت. ـ العنكبوت سورت، يَعقِلُهَآ،۴٣آيت. ـ العنكبوت ، لَا يَعقِلُونَ، ٦٣ آيت. ـ ال عمران، آفَلَاتَعقِلُونَ،٦٥ آيت. همداسې په نورو آيتونو کې ورته اشارې شوي دِي چې په عقل، پوهې او ادراک سره اړوندېږي.

په اسلام کې عقل الهـي لوريېنه ده چې اسلامي سنت او ارزښت بلل شوی او هم يـې مقام او منزلت په کې ډېر ستايل شوی چې الهـي ذاتي صفت او پيغمبري ځانگړتياوې گڼل شوې، ځکه عقل انساني ځانگړنه ده او نور ټول موجودات ترې بـې برخې او محروم دي. د انسان په وجود کې عقل ارزښتمنه لوريېنه ده، ځکه « ابن عباس رضي الله عنه ويلي دي چې کله الله تعالی عقل پيدا کړ، نو ورته يـې امر وکړ چې شاته شه، نو هغه چې شاته شو، بيا يـې ورته امر وکړ چې رامخکې شه، هغه راوړاندې شو. الله تعالی وفرمايل: زما دې په خپلې لويـې قسم وي، له تا نه ښايسته مې بل مخلوق او شی نه دی پيدا کړی، ځکه ستا له امله لورومه، ستا له امله به يـې رانيسم او ستا له امله به عذاب ورکوم.» (١ : ۴)

عقل په درجو سره اندازه او ازمويل کېږي او د ودې او بشپړتيا گرځندنه او دورانـي اړخ لري او هغه وخت د ښو او بدو پېژندنې دنده ترسره کوي چې د لوړتيا او کمال حد بشپـړ کړي چې دا بيا ځانگړی معياري توازن او درجه خپلوي. د پای په توگه وايو چې په اسلام کې عقل او عقلانيت ته لوړ ارزښت ورکړل شوی او په دې ډېرو نامتو پوهانو او علماوو خپل اعترافونه کړي دي.

**په تصوف کې د عقل او عشق تقابليت**: که لږ ځير شو، نو عقل او عشق دواړه د الله تعالی له لوري حضرت انسان ته ورکړل شوي دي. په تصوف او عرفان کې عقل خپل ځای او مقام لري او د عشق مقام خپلې جذباتـي څپـې، شهودي او کشفي رڼاگانې لـري. په تصوف کې د عقل په پرتله د عشق جذبـې او ولولې په خورا لوړ انداز سره په څپو ښکاري. د دې دواړو خپل خپل مقام او ارزښت څرگند دی، خو عشق ته په کې ډېر لوړ مقام ورکړل شوی او په ډېر درانه کاڼـي تلل کېږي. کله بيا صوفيان عقل دومره لوړو پوړيو او مرتبو ته رسوي چې ان له عشق هم ورته د لوړښت درجه ورکوي، دلته له آر انسانـي عقل نه ها خوا يو بل عقل شته چې عقل کُل او د عقول عالم يـې بولـي، يعنې دا داسې عقل دی چې د ناسوت عالم پر وړاندې کاربږي، خو دا حالت او شببـې لنډ مهالې وي او کله بيا دواړه په يوه رنگ، يوه معنا

او مفهوم کاروي، یعنې عقل د عشق په ځای کاروي. په تصوف کې یو شمېر صوفیان بیا عشق بېل ګڼـي او عقل بېل شی بولـي، ځکه د دوی په کلامونو او ویناوو کې یو ډول تضاد لیـده شي.

د عشق او عقل( شهودي او کشفـي معرفت او علمي معرفت) تر منځ متقابلې خواوې له ډېر پخوا راهیسې، د صوفیانو، فقهاوو او فلاسفه وو په مجلسونو کې د بحث وړ موضوع بلل کېده. که د نړۍ فیلسوفانو اندونو ته ځیر شو، نو د عقل او فکر تر خوا له عشق سره هم یو ډول تړاو ورکوي، خو بیا هم د عشق او عقل تضاد په حقیقت کې د عرفان او فلسفې تقابلـي اړخونه بللی شي، خو که فلسفه په ځیرتیا سره ولوستل شي، نو ډېرې خبرې یـې د صوفیانو سره ګډ اړخونه او مشترکات هم لري.

عقل د عشق په مرسته د پیاوړتیا پړاو ته په ښه انداز رسېدلی شي، عقل هله د تعقل درجې ته رسي چې تفکر یـې د حقیقت په لټه کې شي، دا هله کېدای شي چې زړه د عشق له انوارو ډک وي، ځکه عقل او فکر د زړه جذبو پورې اړه لري، یعنـې دواړه له زړه پرته نیمګـړي دي، « په دې ډلبندۍ کې صوفیان خپل ځانګړی ځای لري، ځکه چې عقل د عشق لپاره رښتینی امر منونکی دی. دا سمه ده چې په سیر او سلوک کې لومړی نفس د عقل په مرسته یو عاشق سالک او مرید بـې لارې کوي، خو کله چې د عشق سوځنده لښکر نفسانـي تمایل او غوښتنو ته ماتـې ورکړي او هغه ښه وځپـي، نو د عاشق او مفتون سالک عقل د صوفـي( مرشد) لپاره یو رښتینی خدمتګار دی.» (۱۷: ۲)

همدغه خبره میرزاخان انصاري داسې کوي:

عشق په عقل ښایسته دی

عقل بې عشقه مه وینه

(۲: ۱۹۰)

یو شمېر اهل تصوف په دې اند دي چې عقل هر څه کابو او تسخیرولـی نه شي او نه هر شي درک کولی شي، یعنې د حس ځواک یې دومره پیاوړتیا نه لري چې د نړۍ ټول شیان دې درک کړی شي، په همدې بنسټ صوفیان او عارفان د یوې داسې روحانـي پوهې او علم، کشف او شهود په لټه کې وي او یا ورسره ځانګړی سر و کار لري چې د عقل له مخې یې درک کول سخت کار دی او هغه د عشق حقیقـي جلوې او جذبـې دي چې ډېر نور څه ورباندې حس او درک کېدای شي، یعنې صوفیان په

ټوله کې پر شهود ډېره تکیه او باور لري او عقل یې پر وړاندې نیمګړی او کمزوری بولي، ځکه د وحدت پړاوونه د انسانـي عقل له حدودو ډېر لوړ ښکاري. دلته بیا عقل د لوړو پوړیو او مرتبو نه راغورځېږي، نو ځکه د صوفي عشق د وحدت او معرفت اړینه ځانګړنه، بلکې د عشق په وسیله د حق معرفت او جلوې موندلی شي او میرزاخان انصاري هم عشق د عقل پلار او مـور ګڼـي:

معرفت ځنې پیدا شو

عشق د عقل پلار او مور دی

(۲: ۲۰۱)

په عرفانـي او تصوفي کړنلارو کې نظـري عقل د اهل تصوف له خوا سزاوار، ګناهګار او شریر ګڼل شوی او د محکومیت په سترګه ورته ګوري. د دې خبرې درې اړخونه ځرګندوي: « په لومړی اړخ کې د معرفت د ځانګړتوب ادعا کېږي او په خپله سالک په کې ځان داسې ښيـي چې ګنې زما لاره یوازینی لاره د حقیقت د لاسته راوړنې لپاره ده. همدلته ده چې استدلال قوي او ځواکمن کېږي او د عقل او عشق تر منځ تقابل او تضاد پېدا کېږي.

عقل گوید شش جهت حدَست و بیرون راه نیست

عشق گـویـد راه هست و رفـته ام مـن بـار هـــا»

(۱۱: ۲۵)

د دې لوړ بیت د شرحـې په اړه وایو چې دلته عقل په خپله د شپږو لورو خبره کوي، دا شپږ لـوري په دنیا کې ختیځ، لوېدیځ، جنوب، شمال، پورته او ښکـته دي او یا د صوفیانو په اند هغه شپږ تنزلات دي چې د حق تعالی انواراتو د مظاهرو مظهر دي چې له دې نه اَخوا ته نور څه نه شته او نه یې درک کېدای شي، که عقل د دې لورو او تنزلاتو په اړه نور څه او یا بل څه ګومان کـوي، نو ترې عاجز پاتـې کېږي، ځکه د عقل په مرسته څه نـه شي لیدل او کتل کېدای، خو عشق بیا خپله خبره کوي او د عقل په تقابل کې دریږي او له هغه نه پورته د نورو ډېرو شیانو خبره کوي چې هغه په عقل سره نه شي حس کیدلی او نه لیدلی او کتلی شي. دلته په تصوفي عشق کې د کشف او شهود د شپېـو او تجربـو حالت څرګندوي، ځکه دا داسې یو حالت دی چې د دنیایي شپږو لورو نه ډېره لوړه مرتبه ده او دومره لوړ پوړ دی چې اهل تصوف یـې

حس کولی شي، نو د دوی په اند عقل د عشق په وړاندې عاجز او بې وسه دی او هغه څه چې په حقیقي عشق، کشف او شهود سره حس کېږي او لیدل کېدای شي، هغه د عقل په توان او وس کې نه شته. فلاسفه بیا هر څه په عقل باندې ثابتوي، خو عارفان او صوفیان بیا هر څه په کشف او شهود سره ویني او یا یې حس کوي.

عارفان او صوفیان په دې عقیده دي چې حصرت محمد صلی الله علیه سلم ډېر لوړ انسان و ، نو د حقیقي عشق په مرسته معراج، عرش معلی او افلاکو ته وخوت، په اسمانونو، جنتونو او دوزخونو وگرځول شو، یعنې دا د هغه صلی الله علیه وسلم د حقیقي عشق جذبې او ولولې، نورانیت او مقام ښیي چې فلسفي عقلونه یې په وړاندې سرونه ټیټوي. دا ځکه د پښتو نامتو صوفي او مقبول شاعر رحمان بابا وایي:

چې په یو قدم تر عرشه پورې رسي

ما لیدلی دی رفتار د درویشانو

(۹: ۲۴۹)

« دویم اړخ یې تصوفي خیال دی چې په خوب او ویښه کې د حق په نورانیت او حقیقي عشق کې ډوب وي چې ډېر څه په حقیقت کې ویني او د کشف او شهود په حالتونو کې هغه څه لیدل او کتل کېږي چې عقل ترې عاجز او کمزوری دی، نو د دغسې خیال په وړاندې عقل ماتې خوري چې په سیر او سلوک کې صوفیان او عارفان یې له عقل نه مخکې او وړاندې گڼي.

غرق گشته عقلهای چون جبال

در ضلال وهم و گرداب خیال»

(۱۱: ۲٦)

د دې پورتني بیت په اړه ویلی شو چې دلته عقلونه غرق او ډوب شوي، لکه غرونه، د وهم په گمراهۍ او د خیال په گرداب کې په ځپو دي، نو لنډه شرحې بڼه یې داسې ده. دا چې غر نیم لاندې په ځمکه کې مېخ وي او نیم لوړ په ځمکه ولاړ وي، نو د شاعر خبره دا ده چې عقل د خپل مقام لرلو تر خوا چې لوړ مقام او ارزښت لري، د غرونو په څېر غرق او ډوب شوي دي، خو د عقل دغه غرقېدنه د وهم گمراهي او د خیالونو گرداب کې شوې ده، یعنې د نړه عقل د تبارز ستر خنډ دا دی چې انساني تعقل د وهمونو په گمراهۍ کې چې وهم د گمراهۍ او هلاکت لاربښود دی او د خیال

گرداب کې چې خیال انسان په خپلو تخیلاتو کې راګیروي او خلاصون ترې سخت دی، غرق او ډوب شوي دي. دا ځکه یې صوفیان کمزوری او بې وسه ګڼي او عشق ترې غوره او لوړ بولي او عشق او محبت په عقل غالب او بریمن بولي. په همدې اړه میرزاخان انصاري خپل اند داسې بیانوي:

محبت یې پر دا عقل غلبه شي

د دانش وېره یې نه شي له اياغه

(۲: ۱٦۲)

« درېم اړخ یې هغه مهال دی چې شخص د عیان ( شهود او قلبي رؤیت) په مرتبه او پوړ کې وي یا په همدغه متعالي پړاو کې ځان راوستلی شي، خو چې د عقل « خبر» د زړه د « مشاهدې» ځای ناستی کړي. په دغه حالت کې چې ( له عین الیقین نه علم الیقین ته) یو ډول شا تګ ګڼل کېږي، د عارفانو او صوفیانو په اند عقل باندې، سزاوار، ګناهګار، ملامت او بد انګېرل کېږي.» (۱۱: ۲٦)

په تصوفي او عرفاني نړۍ کې عشق داسې یو پایښتي حالت او شېبه نه لري، بلکې په تصوفي پړاوونو کې ځپې ځپې د خوځښت او بدلون په حالت کې اوړي را اوړي، نو همدلته ده چې د عشق په جذبو او ځپو کې عقل کمزوری او بې وسه ګڼي او یو سالک نه شي کړی چې د عقل په مرسته د عشق ځپې او جذبې ارزیابي او راکابو کړي. په همدې بنسټ مصري څېړونکی او فیلسوف عبدالله صلواتي یادونه کوي چې ( عقل د فلسفې ژبه او عشق د عرفان ژبه ده.) دی عشق او عقل یو ډول راپېژني او عشق د عقل لوړه رتبه او پوړ ګڼي. د ده په عقیده عارفانو او اهل تصوف په آثارو او پنځونو کې ژور حکیمانه او فلسفي فکرونه موجود دي چې تر اوسه په بشپړه توګه نه دي څېړل او راسپړل شوي. دی پسې زیاتوي: ( چې عقل مست او یاغي شي، نو نوم یې عشق شي)، نو عشق یوه داسې عرفاني او تصوفي تجربه ده چې د جذبو او ځپو شور یې نه شي کابو کېدلی او د دې بیان څه اسانه کار هم نه دی، نو دلته د عشق ښایست عقل پورې تړل شوی او هم عقل په عشق باندې شیدا ګڼل شوی، نو میرزاخان انصاري په لاندې بیتونو کې عقل او عشق یو د بل بشپړوونکي بولي او یا یې یو د بل لازم او ملزوم ګڼي، دلته شاعر یو ډول عرفاني او تصوفي تجربې او شېبې بیانوي او یا یو ډول فلسفي خبره کوي.

عشق په عقل ښایسته دی
عقل بې عشقه مه وینه
(۲: ۱۹)

دغه عقل چې پر عشق باندې شیدا شو
د عرب په مینه ګوره چې عجم مري
(۲: ۲۰۹)

**په تصوف کې د عقل او زړه اړیکې**

د عقل په اړه پوره پوره بحثونه او اندونه وړاندې کړی شول، دلته د زړه فزیکي اړخ په اړه کاږو چې زړه په فزیکي لحاظ د موټې په بڼه د انسان په چپې خوا پورې اړه لري، وینه پمپ کوي او د بدن ټولو برخو ته یې رسوي، خو له دې پرته نورې اړینې چارې هم ترسره کوي. د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کې زړه د ټولو کړنو، عملونو، احساساتو، جذباتو او فکرونو مرکزي ټکی بلل شوی، لکه په قرآن کریم کې یې په اړه ځینې یادونې داسې راغلي دي:« فِـي قُـلُوبِهِم،( د دوی په زړونو کې)، البقره، ۱۰آیت. ـ آثِمُ قَـلْبُـهُ( د هغه زړه په ګناه خیرن دی)، البقره،۲۸۳ آیت. ـ لَهُم قُـلُوبُ( هغوی زړونه لري، خو نه پـې پوهېږي)، الاعراف، ۱۹۷آیت. ـ وَجِلَتَ قُـلُوبُهُم، ( اوري، نو زړونه یـې لړزېږي)، الحج، ۳۵آیت. ـ عَلَى قُـلُوبِهِم( د دوی زړونه خیرن کړي دي)، المطفِفین،۱۴آیت.» (۷: ۲)

د قرآن کریم په دې وړو وړو برخو کې د زړه ارزښت او مقام څرګند شوی او زړه د پوهې مرکز ګڼل شوی. بله داچې په قرآن کریم زړه ته روح هم ویل شوی دی. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ژباړه: « خبردار! بېشکه په بدن کې یوه ټوټه ده چې دا سمه او اصلاح شي، نو ټول بدن سم او اصلاح وي او که چېرې هغه بده او ناوړه شي، نو بیا ټول بدن بد او ناوړه شي.» ( ۷: ۳)

دلته د غوښې ټوټـې نه موخه زړه دی، که چېرې دا سم وي، نو د بدن ټول غړي به سم کار کوي او که دا زړه بد او ناوړه شي، نو ټول غړي به ورسره بد او ناوړه وګرځي او په فزیکي لحاظ سره هم که زړه ودرېد، نو ټول بدن ورسره له کاره او خوځښت نه ولوېږي. دلته هم د زړه ارزښت او مقام څرګند شو او د ټول بدن مرکز او څارګر وګڼل شو. په قرآن کریم او احادیثو کې د زړه د ارزښت او د زړه د پوهې په اړه دغسې ډېرې برخې راغلې او زړه

لومړی د ایمان ټـینګ مرکز ګڼل شوی، په دې ټولو کې د زړه ارزښت او مقام څرګند دی چې هم د ایمان، مینې، عشق، عقل، شعور او د هر څه مرکز بلل شوی. په پخوانـۍ فلسفه کې پوهان او فیلسوفان په دې باور او عقیده وو چې زړه یواځې وینه پمپ کوي او ټولې پـړې ته په منظم ډول وینه ورسوي او آر مرکز دماغ او عقل دی، خو اوسني ساینس دا هم ورسره د تجربو له مخې ثابته کړه چې زړه د انسان په فکر او عمل کې بنسټیز ارزښت لري. په دې اړه ډېرې څېړنې ترسره شوې او د څېړنو او تجربو په پایلو کې څرګنده شوې چې زړه هم د یوې پرېکړې حکم کولی شي، یعنې د ټول بدن او پړې نه معلومات را اخلي او بیا له عقل سره همغاړې خپله اخـري پرېکړه کوي.

« د کاناډا لومړني ساینس پوه ډاکټرانډریو ارمر (Dr .J. Andrew Armour) د دې بنسټ کېښود او د طب یوه نوې څانګه یـې د انسان د زړه عصابـي سیستم (Neurocardiology) سره یادېږي، رامنځ ته کړه. ډاکټر ارمر زیاته کړه چې د انسان په زړه کې یو وړوکی دماغ موجود دی او ده دا اصطلاح (A little brain the Heart) ورته وکاروله. ډاکټر ارمر د خپلو تجربو په پایلو کې وویل چې په زړه کې(۱۴۰۰۰۰) عصابـي ژونکې او حجرې (Nerve cells) موجودې دي او دا هغه حجرې دي چې د ماغ ورنه جوړ شوی، په دې اندازه حجرې په زړه کې دا ثابتوي چې زړه خپل دماغ لري او بل دماغ ته اړتیا نه لري. د زړه دماغ له ټول بدن نه معلومات اخلي او د دې دماغ له فیصلې نه وروسته حکم ټول بدن ته او حتا ټول دماغ ته لاربښوونې کوي. له دې علاوه په دماغ کې یوه وړه او کوچنۍ حافظه هم شته چې ورته (Short Term Memory) وایي. د زړه د ضربان لپاره لوی دماغ ته کومه اړتیا نه لري او هم دا وجه ده چې کله موږ یوه ناروغ ته زړه لګوو او حال دا چې عصابـو ټولې رښتې پرې شوې وي، خو بیا هم زړه ضربان جریان لري چې اوس موږورباندې پوه شوو چې زړه خپل ځان ته بېل عصابـي سیستم لري او د هغه سیستم په مټ سره هر څه کولی شي.» (۷: ۴)

دلته دا څرګنده شوه چې د زړه فزیکي جوړښت یو ځانګړی دماغ لري او دماغ یې هماغه د پرېکړې مرکز دی، څکه زړه د ذخیره کولو او خوندي کولو او د پرېکړې وړتیا لري، د فکر کولو ، لوستلو او ویلو وس او توان هم لري او ځینې نور اړین کارونه او کړنې هم ترسره کولی شي او هغه کارونه او کړنې چې عقل یـې کولی شي، نو زړه یـې

هم بشپړ او ترسره کولی شي، نو د انسان ټول احساسات او عواطف په زړه کې راټول دي او دا عامه اصطلاح ده، دا زړه مې غواړي چې دا او یا هغه کار ترسره کړم، دلته زړه حکم ورکوي چې کار باید پیل او بشپړ شي، خو عقل هم ورسره د منښت په پوله ولاړ شي او د لارښوونې لاس ورغځوي، دا ځکه دغسې خبره چې څوک کوي، د هغه زړه غواړي چې خپل کار بشپړ کړي. دلته زما په اند زړه په یواځې ځان کار نه شي ترسره کولی، بلکې زړه لارښوونې ته اړتیا لـري، که د عقل لارښوونې ته اړتیا ونه لري، نو مست زړه به د رسوایـي په ډګر پاتـې شي. دا خبره د یادونې ده چې که په تصوف کې دماغ، ذهن، عقل او عقلانیت کلمو یادونه کېږي، نو موخه ترې پوهه، علم او ځیرکتیا ده. دا څرګنده ده چې د انسان په روح کې دوه اړین مرکزونه روښنایـي او رڼایـي ځلوي چې د یو نوم زړه او د بل عقل بللی شو چې هر یو یـې د یو ډول درونـي فعالیت او روحـي رڼاګانـو نښه ده، ځکه د زړه لپاره د عقل روښنایي او څراغ مهم دی،که دا نه وي، انسان د ناپوهۍ او جهل په پوله درېږي او د ځان په غم او درد کې ډوبېـږي، یعنې عقل لارښودونکی دی او زړه یې درک کوي چې د تېروتنو په کنده کې ونه غورځېږي. دې فکر او اند ته ډېر اروا پوهان او فیلسوفان عقیدتمن ښکاري، خو په تصوف کې د عقل روښنایـي او رڼایـي له روح او زړه نه ګڼـلی شي؛ یعنې دوی په دې عقیده دي چې عقل باید د زړه ومني، نه زړه د عقل منونکی واوسي، په دې معنا چې له زړه نه جذبه او خوځښت پیلېږي او عقل یـې په منښتې او لارښوونې اړ کېږي. انسانـي« زړه د عقل تر خوا په ژوند کې د حقیقت او درک له اړینو نښو ګڼل شوی چې د انسان د وجود یو غړي پورې اړه نه لري، بلکې په ټول وجود پورې اړوندېږي. زړه په عرفانـي کړنلارو کې د حقیقي محبوب د جلوو او د عشق پیدا کېدو مرکز دی چې انسان د روح په ډېر لطافت او نرمۍ سره د زړه په سترګو د هستۍ حقایق درک او حس کوي او د ظاهري سترګو پرته د باطن د خلقت پیداکېدو باندې خبرېږي.

دل با راه عشق آشنا می گردد

با عقل قرین این وفا می گردد

چون جلوه عشق می نشیند در دل

هر نکته چنین به دل روا می گردد»

(۱ : ۱۹)

دلته خبره داده چې زړه د عشق اشنايـي پالي او د هغې په حقيقي لار ښه پوهېدای شي او کله چې عقل ورنږدې او ورسره مل شي، نو بيا ورسره خپله وفا ټينگوي او يواځې يـې نه پرېږدي او کله چې د حقيقي عشق جلوې او جذبـې په زړه کېنې او هغه په خپله ولکه کې راولي، نو بيا زړه ته هر څه روا ښکاري او عقل ترې عاجـز پاتې کېږي، دلته عقل د زړه په چار هېڅ کار نه لـري او عقل بايد د زړه خبره ومني چې همدا د عارفانو او اهل تصوفو خبره ده.

يو شمېر اروپوهان او فيلسوفان چې فکر، اند، نړۍ ليد، راکړه ورکړه، استدلال، منطق، پوهه ، علم، فلسفه او نور په عقل پورې اړونـدوي او غوښتنـې، شهوتونه، هيلې او نور سلگونه خوځښتونه په زړه پورې اړوند بولي، خو دا هر څه عقل راکابو کوي، دلته د عقل او زړه ترمنځ د يو ډول تقابليت سرې کرښې راکاږل کېږي، يعنې عقل زړه او غوښتـنې راکابو کوي او کله بيا زړه عقل تر خپلې ولکې لاندې راولي؟!

په تصوف کې کله چې د زړه يادونه وشي، نو د نفس، روح او يا د عقل ارادې خبره رامخې ته شي، ځکه زړه يو جامع او کامل حقيقت دی چې د وجود په جسمانـي حقيقت، مزاجـي ځواک، په روحانـي حقيقت او په نفسانـي خويونو کې راونغاړل شي چې دا د زړه آرې معناوې دي او نورې ټولې معناوې يـې مجازي بلل شوي دي. اهل تصوف او« عارفان په روحي لحاظ انسان کله په نفس، کله په قلب « زړه»،کله په روح او کله په سر تعبيروي. کله چې الهي معرفت وممومي قلب بلل کېږي او چې الهي مينه په کې ځپانده شي روح يـې بولي او چې د شهود شېبو ته ورسي، سر ورته وايي، البته عارفان له سر نه تر پورته پوړۍ هم قايل دي چې « خفـي او اخفي» يـې بولي.»(۱۸: ۵۰)

دلته په زړه کې الهي معرفت پيداکېږي او چې الهي مينه او عشق په کې په ځپو شي، نو روح مست شي، له دې وروسته د شهود پړاو او شېبه رارسي چې د سر« عقل» پورې اړونديږي، نو اهل تصوف روح « عشق» پاچا او عقل وزير بولي. همدا اند ميرزاخان انصاري هم لري:

غير خوی تغيير کړه
روح پادشاه عقل وزير کړه
(۲: ۱۱)

زړه په عرفانـي اصطلاح د الله تعالی د پېژندنې یو ښکلی، روحانـي او معنوي نرم او عاطفي جسم دی چې قلب یې بولي او کله چې زړه د حقیقي عشق له انوارو راډک شي، نو بیا عقل د زړه نـه پرته نیمګړی ښکاري. بله دا چې یو شمېر حکماء او فلاسفه یـې ناطـق نفس بولي او باطني روح او حیوانـي نفس د هغو ترکیب ګڼـي، خو همدا زړه چې علم او ادراک هم لري، مخاطب او ملامت کوونکی هم دی. همدا راز زړه په تصوف کې یو واحد نورانـي جوهر دی چې د روح او نفس ترمنځ وي او د دې جوهر په مرسته انسان حقیقت او معرفت حاصلوي.

که د پښتو ادب منځنۍ دوره په ځیر سره ولولو، نو د ډېرو شاعرانو په شعرونو کې د عشق او عقل مقام څرګند دی. په دې کې یو شمېر یـې د عشق سوز او ګـداز ته لوړ مقام ورکوي او ځینې یـې بیا عقل دومره لوړو پوړیو ته رسوي چې عشق د عقل منونکي بولـي او کله بیا عقل د عشق پر ځای کاروي او کله بیا دواړه په یو مفهوم او معنا سره راوړي. د دوی په شعرونو کې داسې ډېر متضاد او متقابل بیتونه په ځپو دي چې یو ځای کې عقل لوړوي او بل ځای عشق لوړو درجو ته رسوي او کله بیا د دې دواړو ترمنځ یـې د جګړې سرې کرښې راکاږلې وي. دا خبره د یادونې وړ ده چې په تصوف کې زړه د حقیقي مینې او د حقیقـي عشق مرکز دی، کله چې زړه د مینې او عشق له انوارو او جذبو راډک شي، نو بیا عقل له زړه نه پرته نیمګړی وي.کله چې زړه ته الهي معرفت لار وومي او بیا په کې مینه او عشق شور ګډ کړي، نو روح په مستـۍ او جذبـو واوړي، نو اهل تصوف روح په انسان او یا روح په زړه تعبیروي او عشق هم د زړه په مستۍ او ولولو تفسیروي او زړه په اصل کې د ټول بدن پاچا بولي او عقل د زړه وزیر ګڼـي.

په روښانـي پړاو کې د تصوف او سلوک مخکښ او نامتو غزلبول شاعر میرزاخان انصاري هغه متصوف شاعر دی چې په روښانیت کې د وحدت الوجود ځلوونکی ګڼل شوی. ده په خپله غزلیزه شاعرۍ کې د عقل په اړه او په خـوا کې یـې عشق هم ورسره همغاړی یاد کړی او عشق د زړه په جذبو او روح یې په مستۍ تعبیـروي، که دی عقل، روح ، عشق او زړه یادوي، خو دا یادونه یـې په خپل منځ کې یو ډول تقابلیت لـري، یعنې یو ځای کې عقل ته ارزښت ورکوي، بل ځای د زړه، روح او عشق په جذبـو کې عقل سوځوي او بل ځای بیا دواړه یو د بل لازم او ملزوم ګڼـي. له دې بیتونو ښکاري

چې شاعر د تصوف کره مشاهده، پخه تجربه او د فلسفي ځیرلې لوستنه لرله، یا ترې په نا ارادي ډول داسې بیتونه پنځول شوي او یا یې په ارادي ډول د عرفان او تصوف په موخه راپنځولي. دی کله عقل ته د شریف عقل، قېمتي عقل، نوراني عقل، د ځراغ عقل، معرفتي عقل، شیدایي عقل، حقیقي عقل، د کمال عقل، بېگانه عقل، ښایسته عقل مقامونه ورکوي او هم یې په نورو نومونو یاد کړی دی. دغه ټول متضاد اړخونه به یې په بیتونو کې څرگند کړو او هڅه کوو چې له هر بیت سره یوه لنډه شرحه هم وړاندې کړو.

که د بایزید روښان خیراليبان پاڼو ته ځېر شو، نو د عقل او عقلانیت د ویښولو فرمان ورکوي چې انسان باید د عقل وېښتیا په مرسته د ښو او بدو، د حق او باطل توپیر او تمییز وکړی شي. دی د عقل ویښولو په اړه داسې لارښوونه کوي:

« گوره! عقل خوبولی دی په آدمیان، ترو بویه چې خپل عقل دې ویښ که، ترو دې نںباسي په خپل زړه کښې ځما او ځما د عذاب ډار، ځما او ځما د راحت محبت آدمیان.» (۱۲: ٦٩)

کله چې انسان ویده شي او د خوب په حالت کې وي، نو هېڅ کار نه شي کړی، خو چې ویښ وي، هر څه ښه ترسره کولی شي. په همدې بنسټ عقل هم ویده کېدای او ویښېدای شي. که د انسان عقل ویښ وي، د کایناتو، مخلوقاتو او ځان په اړه ښه فکر وکړي، نو کاینات پرې تسخیرولی شي، مخلوقاتو ته ښېگڼه رسولی شي او د پرمختگ او پرمخیون په لوري گامونه اخېستلی شي. موږ دغسې عقل ته ویښ او د کار عقل ویلی شو.

میرزاخان انصاري د خپل وخت یو عارف او صوفي سړی و او د خپل پیر بایزید روښان په څېر د عقل ویښولو لارښوونې کوي او وایي چې د دې دور او وخت له ستونزو، فتنو او فسادونو نه مه غافله او بې پروا کېږئ، د دغسې کړنو په وړاندې خپل لوړ او ارزښتمن عقل له خوبه پاڅوئ او هر څه د عقل په وېښتیا سره ترسره کړئ. د قیمتي عقل د وېښېدو او پاڅېدو لارښوونه کوي او که چېرې یې څوک وېښ نه کړي، نو په خوی بوی کې به د ناخلفه، ناصالحه او بد حیوان په څېره کې را ښکاره شي. په غوړ وجود کې د سړو مومو د وېلي کېدو او د خوځنده او محرک عقل د ویښېدو سپارښتنه کوي. په پای کې د عقل نورانیت او رڼایي د ارزښت خبره کوي، یعنې

عقل روڼ وي او باید وېښ واوسي، نو د دواړو جهانونو د ستونزو او ربړو حل او بریا په کې نغښتې او که چېرې عقل نوراني او وېښ نه وي، نو ستونزې او ربړې به ورځ تر بلې وېده او غافل عقل ته راکږه کېږي.

غافل مه شه د دې دور له آشوبه
دا شریف عقل دې پاڅوه له خوبه
(۲: ۱۰٦)

قېمتـي عقل دې پاڅوه سړی شه
د غفلت په خوی حیوان یې ناخلفه
(۲: ۱٦۴)

عقل به څه کړې چې ویښ یې نه کړې
وجود دې غوړ دی په ساړه موم دی
(۲: ۲۰۷)

تا به عقل نوراني له خوبه ویښ کا
ستا به حل د دواړو کونو مشکلات شي
(۲: ۲۱۵)

دا جوته ده چې په ورځني ژوند او ژواک کې عقل هغه بله ډیوه او روڼ څراغ دی چې انسان ته لارښوونه کوي. که څوک دا غواړي چې ژوند او ژواک د یو دلیل له مخې تېر کړي، نو اړتیا ده چې د عقل تر رهبرۍ او مشـرۍ لاندې ژوند وکـړئ. دلته زموږ متصوف غزلګو شاعـر په ژوند کې د عقل ارزښت او مقام څرګندوي، خو نورو ځایونو کې بیا دا په ډاګه کوي چې له عقل نه ښه لارښوونه، ښه زړه کولی شي، ځکه زړه د ټول بدن پاچا ګڼلی شي.

اول عقل دې څراغ درسره واخله
ترو رهبر دې د دې لارې خپل دلیل کا
(۲: ۳٦)

په تصوف کې معرفت الهي صفت او پېژندنه ده چې حسـي او عقلـي( حسي معرفت او عقلي معرفت) باندې پېژندوی دی. په حسـي معرفت کې د ظاهري حواسو په نسبت باطنـي څېزونه او شیان درک کېږي او حاصل مومي او په عقلي معرفت سره د

عقل په وسیله ټول ادراکات حس او پېژندل کېدای شي. په تصوف کې بل معرفت( شهودي معرفت او کشفـي معرفت) دی چې شهودي معرفت په هر څیز کې د یوه حق ذات مشاهده کوي او په کشفـي معرفت سره په هر ډول حالتو کې ټول شکـونه او شبهات له منځه ځـي او حق حاصل مومي، یعنې د حق جلوې رڼېږي، دلته د ابد رڼا د ازل رڼا سره ګډېږي. په دې معرفت سره د زړه تصدیق کېږي او په دې کې د ذرې هومره شک هم زړه ته نه لوېږي، دا داسې یو حالت دی چې د حق قرابت په کې ترلاسه کېږي چې دا ټول د حقیقـي عشق په جذبو او شور سره پړاو په پړاو حاصل مومي چې عقل او عقلانیت ترې عاجز پاتـې کېږي او د حق ذات لویي او عظمت بـې شانه او بې پایانه دی چې عقل او عقلانیت یې د یوې ذرې هومره حقیقت ته رسېدی نه شي. په لاندې بیت کې شاعر همدا څرګندوي چې د حق ذات معرفت پای نه لري او د ( حد پایان) ترکیب ورته کاروي چې هېڅوک او هېڅ څېز یـې څرک او پتـه نه شي لګولی، دلته هم د عقل عاجزیت ښیـي چې د عشق په وړاندې یـې کمزوري په ډاګه کـوي.

حد پایان به یې  څوک چرته پسې غواړي
چې یې عقل تمام شوی په اغاز دی
(۲: ۲۰۳)

یو شمېر اهل تصوف په دې اند دي چې عقل په هر څه منګولې نه شي ښخـولی او نه د هر شي حس څرګندولی شي، یعنې د عقل حس کمزوري لري چې د طبیعت ټول شیان دې سم درک کړی شي، په همدې بنسټ اهل تصوف او عرفاء د یوې داسې روحانـي شېبـې او پوهې، کشف او شهود  په لټه کې وي او یا د ریاضت پړاو کې ډوب وي چې د عقل له مخې یې درک کول سخت کار وي، خو همدا شېبـې د حقیقي عشق جلوو او جذبـو په سوز او ګداز کې مومي او د حق معرفت ترلاسه کوي، یعنې په دغسې شېبو کې عقل له لوړو مرتبو نه راغورځېږي، نو ځکه زموږ غزلګو شاعر عشق د معرفت اړینه ځانګړنه بولـي، بلکې معرفت د عشق په جذبو او شور کې وینــي او هم حقیقي عشق د عقل پلار او مـور ګڼـي:

معرفت ځنې پیدا شو
عشق د عقل پلار او مور دی
(۲: ۲۰۱)

کله کله په تصوف او عرفان کې عقل ارزښتمن وګڼل شي او عقل هم د خپل ځانګړي دریځ په بنسټ د ښو او بدو لار ورښیي او اهل تصوفو ته د یوه لارښود په توګه لارښوونه کوي. په لاندې بیت کې شاعر عقل ته د شریف او ارزښتمن په سترګه ګوري، ځکه همدا شریف او ارزښتمن عقل دی چې اهل تصوف او عارفان په خپلې رڼایي سره ځلوي. دغو حقیقي عاشقانو ته په خپل ځای کې سمه لارښوونه کوي چې د هغو زړونه د حق او معرفت په جلوو نوراني کوي. دلته د عشق په وړاندې د عقل ارزښت ته قایل او له هغه منندوی ښکاري:

و عرفان ته رسېده عقل شریفه!

عاشقان دې ښایسته کړه له تشریفه

(۲: ۱٦٥)

د ژوند او ژواک په ټولو چارو او کړنو کې د ناسم عقل په وسیله انسان د ځان او د ټولنې په وړاندې ناسموکارونو ته لاس اچوي، خو سم او پالل شوی عقل انسان د ښو او اړینو کارونو په لوري ورکاږي. په ټولنه کې ښه سړی هغه سړی بللی شي چې د ښه او روغ عقل درلودونکی وي او د جوش په ځای هوش نه کار اخلي او د زغم ټټر یې پراخ وي او ټولې چارې او کړنې د ښه او سم عقل تر امر لاندې سرته رسوي او نور خلک یې له زیان او فساد نه په امن او سکون کې وي. زموږ شاعر د دنیا په چارو کې هر سړی عاقل بولي چې عامه عقل یې بللی شو، خو سړی هغه سړی ګڼي چې یادې ځانګړنې د ښه او روغ عقل په وسیله مختـه وړي او د سړیتوب مقام خپلوي چې دا فعال عقل دی. دلته دا خبره هم د یادونې وړ ده چې د نوموړي موخه د عاقل او عقلمن سړي نه دا بللی شو چې په زړه کې یې د حق ذات جلوې رڼې ووسي او د داسې روغ او منونکي زړه په نغوته مخته لاړ شي.

هر سړی مې د دنیا په چار عاقل دی

چې سړی پرې سړی کېږي عقل بل دی

(۲: ۲۰۵)

عقل د درک او حس ځواک دی چې په لارښوونه یې د ښو او بدو، د ښکلاوو او بدرنګیو او د حق او باطل تمییز او توپیر کېدای شي. په لاندې بیت کې شاعر هم د عقل لوری ټاکي او ادراکي او فکري کچه او اندازه یې څرګندوي او لارښوونه کوي

چې د همدې ادراکي او فکري ځواک په مرسته په ښه انداز سره حق او باطل سره وپېژنـئ او هغه سره بېل کړئ چې بریا او سرلوړي مو په برخه شي:

عقل لور دی په خاطر کې
حق باطل وبله تفریق کړه
(۲: ۵)

که فکر وکړو، نو ژوند کې ډېر کارونه، ستونزې او خبرې را پیداکېږي چې له ځان سره ځینې ربړې، لوړې او ژورې هم لري، خو د مبارزو، هلوځلو، پلټنـو او څېړنو په پایله کې آر حل، جوړجاړی او سموالی یـې راوځي، بله خبره داده چې د غلبېل دنده او کار چاڼول دي، یعنې له ښو، خراب او یا له خرابو نه ښه بېلول دي، دلته په لاندې بیت کې د شاعر لاربښوونه همدا ده چې د عقل په غلبېل سره هر څه او په ځانګړي ډول د حق او باطل چاڼول په کار دي.

حق باطل یې په تحقیق وځبله بېل کړه
د دې عقل په غلبیل کې یې وچاڼه
(۲: ۱۹۳)

د عشق او عقل( شهودي معرفت او علمي معرفت) ترمنځ تقابلیت او کړکېچ یوه پخوانـۍ ربړه او ستونزه بلل شوې چې د عارفانو او فلاسفه وو ترمنځ پـرې تل تأویل تر سره شوی دی. اهل عرفان او تصوف په سیر او سلوک کې د بصیرت او قلبـي معرفت جرس کړنګوي او د ظاهري او ساینسـي علومو څېړونکـي او پوهان خپل اندونه لري. د اهل تصوف قلبـي بصیرت نه آر موخه یو ډول معرفت دی چې دغه معرفت د حسي، کشفي او شهودي تجربو په مرسته تر لاسه کوي، نو عشق یوه داسې تصوفي تجربه، مشاهده او شېبه ده چې د جذبو او جرس کړنګ یـې چوپتیا نه لـري او بیان یـې هم څه اسانه کار نه ښکاري، نو دلته د عشق ښایست عقل پورې اړوند ښکاري او هم عقل په عشق باندې شیدا ګڼل کېږي، نو په لاندې بیتونو کې عقل او عشق یو د بل بشپړوونکي بلل شوي او یا یو د بل لازم او ملزوم ګڼل شوي، دلته شاعر وایـي دا عشق چې دومره ښکلا او رنګیني لري، دا ورته عقل وربښلي دي او پسې زیاتوي چې عقل هم بـې له عشقه نیمګړی دی. دې پسې بیا د عقل شیدایـي څرګندوي او د هغه رسوا مینه او عشق بولـي، دې ته مدعاالمثل راوړي، هغه دا چې حضرت محمد صلی الله

علیه وسلم عربـي او قریشي و چې نه یوازې عربان پـرې مینان او عاشقان دي، بلکې د هغه صلی الله علیه وسلم په مینه او عشق کې عجمیان هم داسې ډوب ډوب دي چې سرونه یـې هره شېبه د ایثار او سربښندنې په ډګر ایښي وي. دلته یو ډول عرفانـي او تصوفـي تجربـې او شېبـې بیان شوي او یا یو ډول فلسفـي خبـرې په کې ویل شوې دي.

عشق په عقل ښایسته دی

عقل بې عشقه مه وینه

(۲: ۱۹۰)

دغه عقل چې پر عشق باندې شیدا شو

د عرب په مینه ګوره چې عجم مري

(۲: ۲۰۹)

په تصوف کې داسې پړاوونه، حالتونه او شېبـې په ځېر وي چې د عشق په جذبو او ځپو کې عقل د بـې وسی لاسونه جګوي، ځکه محبت او عشق یې په خپلو سوځندو لمبو کې رانغاړي او وربانديې غلبه مومي، زموږ صوفي شاعر همدغه شېبـې او سوځنده لمبې انځـوروي. په لاندې بیت کې یـې محبت او عشق په عقل غالب او بریمن ګڼلی او تصوفي فهم او پوهه یې په عمل او فعل کې هېڅ ډول وېره او ډار نـه لري.

محبت یې پر دا عقل غلبه شي

د دانش ویره یې نه شي له ایاغه

(۲: ۱۶۲)

دا جوته شوې چې انسانان د وراثت، ټولنیزو او نورو شخصیتـي کیفیتونو او ځانګړنو له امله په خوی، عادتونو او کړنو کې تغییر او بدلون منلی شي، دا بدلون ګڼ اړخونه لري، خو یو یـې د فکري تولید زېږنده بللی شو، ځکه تېرې تجربـې راسره په حواسو کې خوندي وي. په لاندې بیت کې صوفـي شاعر هم سالک ته لارښوونه کوي چې غیرو خویونو او عادتونو کې تغییر او بدلون راوله، یعنې حال او ځانـي حالتو کې یو غوره بدلون راوله، دا بدلون پاچا« زړه» کې د وزیر« عقل» غوره او نیکه مشوره ښه راوستلی شي:

غیر خوی تغییر کړه

روح پادشاه عقل وزیر کړه

(۲: ۱۱)

په تصوفي پوړیو کې حقیقي عشق د درونــي کېفیتونو او شېبــو پورې تړاو لري او د ځانګړو تجربو او ریاضتونو په وسیله تر لاسه کېږي، دلته سالک هڅه کوي چې ریاضت او زهد کې ډوب شي چې حقیقي عشق په سوز او ګداز کې ورننوځــي، کله چې ښه په کې ډوب شو، نو بیا عقلانیت سره ډېر کار نه لري. په لاندې کنایوي او سمبولیک بیت کې شاعر په حقیقي عشق کې د ډوبېدو او د عقل د پردیتوب خبره کوي، دلته یو ډول تقابلي خـودي حس کېدای شي او د ولاړو اوبو ډنډوکی عقل او کاریزعشق بولـي، یعنې هغه وصلت او روحانیت چې په عشق سره حاصلېږي، په حقیقت کې هغه عقل سره نه شي حس کېدای. دلته خبره په اصل کې د زړه او عقل ترمنځ ښکاري:

په لومړي اثر له عقله بېګانه شو

د ولاړ ډنډوکي څه دي له کارېزه

(۲: ۱۴۸)

په حقیقت سره په تصوف کې عقل ډېرې عشقي تجربـې او مشاهدې نه شي ترسره کولی او په دغسې عرفانــي تجربو او مشاهدو کې پاتې راځي، ځکه دوی داسې انګېري هغه څه چې د زړه په سترګو او محبت سره حس کېدای شي، له هغه عقل بې برخې دی، خو د یوه لارښود په توګه یــې له لارښوونو نه سترګې نه شي پټولی. لاندې بیت کې شاعر لارښوونه کوي، که عقل د عشق په خوښه او رضا سره کابو کړی شي، نو هله به د محبت او عشق تاوجنــې لمبې په سمه بڼه رهبري شي. دلته د عقل ارزښت څرګند شوی، هماغه خبره ده چې عقل مست او یاغي شي، نو نوم یــې عشق بللی شــي.

محبت به دې د عقل پیروي کا

که دا عقل ته د عشق په رضا بند کړی

(۲: ۲۲۷)

دا څرګنده ده چې د دنیا د ټولو ښو او بدو کړنو او چارو حس کول، معلومولو او توپیرکولو اندازه د حقیقي تلـې په غاړه ده چې دا حقیقي تلـه عقل دی او دا هر څه د عقل په وسیله او مرسته بېلیدای شي، نو په لاندې بیت کې شاعر هم عقل حقیقي

تلـه ګڼـي چې ټولې چارې، کړنې او کارونه پــرې تلل او څرګندېږي. دلته بیا هم عقل ته ارزښت ورکړل شوی او دا عام عقل بللی شو:

عقل تله حقیقي ده
دلې چاره په کې تلینه
(۲: ۱۹۰)

که د ژوند په ټولو کارونو کې د خبیث او پلیت اماره نفس خوښه او غوښتنه ومنل شي او له عقل نه کار وانه خیستل شي، نو ګڼـې ستونزې او ربړې به وزېږوي، سړی به کړاوونو، غمونو او دردونو کې راونغاړل شي. زموږ صوفـي شاعر همدا خبره کړې او وایـي چې که څوک له عقل نه کار وانخلي او د خپلې خوښې غوښتونکی شي، نو داسې دی لکه څوک چې په خسو او خاشاکو باندې رود او سیند تړي، خو هېڅ وخت په خسو او خاشاکو سیند او رود نه شي تړلی، تر هغو چې د سم او روغ عقل نه کار وانخلي، داسې چارې او کارونه ناشوني وي، خو د عقل او فکر په تدبیر داسې چارې او کارونه شوني دي:

چې د خپل رضا طالب شي غم به مومي
په کوم عقل به په خسو رود تړل شي
(۲: ۲۲۲)

په هر انسان کې چې اماره نفس ته واک او اختیار ورکړل شو، نو دلته عقل خپل مقام او ارزښت له لاسه ورکوي او که هر څومره پوهه او علم ولري او د عقل ونډه او تومنه په کې کمه وي، بیا هم په هېڅ کې حسابېږي، ځکه همدا پوهه او علم دی چې د روغ او سم عقل په پیاړوتیا کې مرستـندوی کېږي او د هر ښه او بد فهم او درک پـرې تر سره کېدای شي. په لاندې بیت کې شاعر اشاره کوي، که چا پوهه، درک او فهم نه درلوده، نو بیا څه اړتیا ده چې ځان په عقلمندو کې شمېري، نو دغسې خلک د نورو بــې عقلو مخلوقاتو په څېر ګڼـي، ځکه عقل او عقلانیت انسانـي ځانګړنه ده او نور ترې بې برخې او محروم دي:

له دانشه بې نصیب شو
عقل غواړي له انعامـه
(۲: ۱۸۰)

که چېرې يو څوک د نيمګړي او ناقص عقل خاوند واوسي او عقل يې تکامل او بشپړتيا ونه لري، نو سم کارونه او کړنې به يــې په لويی لاس خرابــېږي، ځکه چې نيمګړی عقل يــې دغسې رهبري کوي او ده ته خپل بد کارونه ښه ښکاري، خو په اصل کې يــې کارونه بد او ناوړه وي. زموږ صوفي شاعر همدغسې يوه خبر کوي چې پسرلی په خپلې ځوانۍ او مستۍ کې ډوب وي او خمار خمار زنګېږي او له هر څه بــې پروا وي، دی لا همداسې مست او زرغون وي چې خزان ورته سترګګ ووهي او ځواني يــې ترمې ترمې کړي. دلته د ناتمام عقل يادونه کوي او بشپړ عقل ته په ارزښت باندې قايل ښکاري:

نا تمام عقل دې هسې رهبري کا
چې خزان وته په مينه د بهار ځي
( ۲: ۲۴۲)

هر انسان د علم، پوهې او عقل په ګاڼه باندې ښايسته کېږي، يعنې د انسانيت او سړيتوب په جامو کې رانغاړلی شي، په همدې ځانګړنو انسان له نورو مخلوقاتو ځانګړی شوی، که يو څوک دغسې ځانګړنې ونه لري، نو د انسانيت او سړيتوب له معيار نه غورځي، دی به يوازې د انسان په څېره کې ښکاري او بس. زموږ شاعر هم په همدې اند دی او پسې زياتوي، که څوک يادې ځانګړنې ونه لري، نو ماغزه، غوښه، هډوکي، پوستکی او هډونه، خو حيوانات او ژوي هم لري، خو توپير د عقل او پوهې په وسيله کېږي:

دا سړی په علم و عقل ښايسته دی
د حيوان هډو ماغزه شته ګوشت و چرم
(۲: ۲۵۸)

کله چې په اهل تصوفـو او عارفانو حقيقي مينه او عشق دومره غالبه شي، زړه په تصوفـي مستــۍ کې مست شي، نو دوی په يو ډول روحاني، معرفتـي او شهودي څپو او جذبو کې لاهو کېږي او په هغې نړۍ کې له حقيقي محبوب او حق ذات پرته بل څه نه وينــي، يعنې يوه بله روحاني نړۍ کې ګرځي. دلته بيا له عقله بېګانه او پردی کېږي، ځکه دوی په يو بل پړاو او پوړۍ کې وي او په روحاني درياب کې بــې لنګري کښتيـو او بېړيو کې ګامونه اخلي او په الهي مينه او عشق کې لامبو وهي. په لاندې

کنایوي او سمبولیک بیت کې شاعر همدې خبرې ته نغوته کړې. د سالک او عارف د حقیقي لېونتوب شېبه انځوروي. دلته یې پر عقل د عارف او سالک حقیقي عشق ته ارزښت ورکړی او دا هغه عشق دی چې ډېر څه پې حس او درک کولی شي او له هغو نه عقل عاجز ښکاري:

دېوانه له خپله عقله بېگانه شو

په دریاب باندې قدم ږدي بې پتـنه

(۲: ۱۹۰)

په هر انسان کې چې د اماره نفس او هوا ته د چارو او کړنو د رهبریت واگې ورکړل شوې، نو عقل خپل مقام او ارزښت راټیټـوي او د یو بندي په څېر حس کوي، یعنې زړه، عقل او نور حواس خپل مقام له لاسه ورکوي او هر څه د اماره نفس په منښت سره تر سره کېږي، که رهبري پاچا« زړه» او وزیر« عقل» ته ورکړل شي، نو بیا دا هر څه برعکس تر سره کېږي. بله خبر داده چې د زړه لپاره د عقل رڼایـي او څراغ په کار دی، که دا نه وي، انسان د ناپوهۍ په تېغر کېني، د ځان غم او د ټولنې لپاره سرخوږی جوړېږي. همدا زړه دی چې د نورو انسانـي حسونو ارزښت او مقام جوتـوي. په لاندې بیتونو کې زموږ صوفـي شاعر همدغه مفهوم او انځـور داسې څرگندوي:

په هر تن کې چې امیره شوه هوا

د هوا اسیر له عقله بېنوا

چې په زړه باندې څراغ د عقل نه وي

د نادانو ناپوهي د ځان غوا

(۲: ۲۵۴)

په حقیقت کې ډېر داسې شیان شته چې عقل یې درک کولی نه شي، کله چې انسان هر څومره د پوهې، علم او تجربو لوړې پوړۍ ته ورسي، که څومره فکر وکړي چې څومـره پوهېدلی؟ څومره پوهېږي؟ نو بیا به هم داسې انگېري چې په هېڅ نه دی پوهېدلی او نه پوهېږي!. په لاندې بیت کې شاعر هم وایـي چې د حقیقت پوړۍ او مدارجو ته په کم دلیل، استدلال او په کم عقل سره نه شي رسېدلی. په بیت کې د لگلگ یادونه شوې، دا یو ډول مرغه دی چې اوږده غاړه او اوږدې او دنگې نرې وچې وچې پښـې لري، کله چې خپلې دنگې وچې پښې په اوبو کې کېږدي، نو داسې

انګېري چې نور ژمی نه راځي او تل به د اوړي نرم او ملايم موسم وي، دلته يوه کنايه موجوده ده، هغه داچې د مرغه ناپوهي او کم عقلي په کې څرګندوي.

حقيقت ته به هېڅ رنګ رسېدای نه شي
کم دليل په عقل کم دی له لګلګه
(۲: ۱۷۷)

دا جوته ده چې اصليت، جوهر، ماهيت، عقلانيت او داسې نورې ځانګړنې، خويونه او ښېګڼې يوازې حضرت انسان ته ورکړل شوي، دا د هر انسان په باطني او دروني نړۍ کې خوندي دي، د همدې ځانګړنو له مخې انسان پېژندلی شي. د عقل او پوهې کچه او د لوړتيا انداز يې څرګندېږي. د انسان جوهر او اصليت هغه وخت لوړېږي چې د عمل په جامو کې پټ وي، يعنې نېک عمل او غوره خوی خپل کړي چې د هغه په عقل او عقلانيت پورې اړه لري. د ښو او بدو کړنو په وسيله د انسان ماهيت او عقلانيت د لوړتيا او ځوړتيا پړاو ته رسي، که له ناسم او نيمګړي عقل نه يې کار واخيست، نو خپل ځان ته به غم او بلا وګرځي. زموږ شاعر په همدې اند دی چې د هر چا عقل د خپل اصليت او جوهريت تابع دی، که داسې نه شي، نو لکه د ونې ښاخونه به خپل لور ته رامات شي او په ستونزو او کړاوونو کې به ډوب شي:

د هر چا عقل د اصل متابع دی
لکه ښاخ و خپلو وليوو ته مات شي
(۲: ۲۱۷)

## پايله

عقل هغه ذهني قوه ده چې فکري کچه، ښه حس او د انسان معنوي کړو وړو او نورو اړخونو ته لارښوونه کوي. عقل د خير او شر، د ښه او بد، د حق او باطل او د ټولو متضادو اړخونو د تمييز« بېلولو او پېژندلو» ځواک لري او انسانان يې په مرسته هر څه پېژني او د انسان ټول کړه وړه اداره او رهبري کوي، نو په کار ده چې انسانان ترې سمه ګټه واخلي. په فلسفه کې بيا عقل د حقيقتونو د پلټنو او پيداکولو ځواک دی. په تصوف کې اهل تصوف عشق « د زړه جذبه» بېل او عقل بېل شی ګڼي. د عشق او عقل تضاد په حقيقت کې د عرفان او فلسفې تقابلي اړخونه بللی شي، خو د فلسفې ډېرې خبرې د اهل تصوفو سره ګډ اړخونه هم لري.

په قران کریم او احادیثو کې د زړه ارزښت او مقام هم څرګند دی. زړه د پوهې مرکز او د ایمان ټینګ سنګر بلل شوی چې هم د ایمان، مینې، عشق، عقل، شعور او د هر څه مرکزي برخه ګڼل شوې ده. بله خبره داده چې زړه په عرفانـي اصطلاح د الله تعالی د پېژندنې یو روحانـي او معنوي نرم او عاطفي موټـي ته ورته شی دی چې قلب یې بولـي او کله چې زړه د حقیقي عشق له انوارو او جلوو ډک شي، نو بیا عقل د زړه نـه پرته نیمګړی شي، یعنې عقل چې مست او یاغي شي، نو نوم یـې عشق وګڼل شي. دلته باید عقل د زړه ومني، نه زړه د عقل منونکی شي، په دې معنا چې له زړه نه جذبه پیلېږي او عقل یـې په لارښوونې اړ دی، خو کله کله په تصوف کې عقل ارزښتمن شي او لوړ مقام خپلوي، دلته بیا عقل کمزوری وبلل شي، خو ځینې وخت بیا عقل هم ارزښت پیدا کړي او عقل هم د خپل ځانګړي دریځ په بنسټ د ښو او بدو لار ورښـیـي او اهل تصوفو ته د یو لارښود په توګه لارښودونکی شي .

د میرزاخان انصاري دېوان د معنوي او ښکلاییزو پنځونو استازیتوب کوي چې زیاتره برخه یې تصوفي اړخونه بیانوي. د ده په افکارو کې د عقل مقامـي موضوع د پام وړ ده، ځکه دی د عقل په اړه خپل نړی لید لري. دی د عقل مقام ته ارزښتمن دی، خو عشق د زړه په جذبو او روح یې په مستـۍ تعبیـروي، که دی د عقل، عشق، نفس، روح او زړه خبره کوي، خو په خپل منځ کې سره په تقابل کې ولاړ وي، یعنې یو ځای کې د عقل ارزښت څرګندوي، بل ځای زړه د پرېکړې مرکز ګڼـي او بل ځای دواړه یو د بل بشپړوونکي او همغـاړي بولـي چې له یو بله پرته پرېکـړه نه کوي او نه یو کار په خپل سر بشپړولی شي.

## وړاندیزونه

۱ .د روښانـي پړاو شاعرانو په شعرونو کې دې د عقل، عشق او زړه اړیکـې او مقام باندې څېړنه ترسره کړی شي .

۲ .د پښتو دویمې دورې په دېوانونو کې د عقل او عشق متضادو خواوو ډېره یادونه شوې، نو په کار داده چې په پرتلیز ډول دې تېزس پـرې ولیکل شي.

## مأخذونه

۱ .ابن الجـوزي، امام. د مجازي عشق تباهیانـې. د زاهد افغان پښتو ژباړه. لومړی چاپ، جلال اباد: مومند خپرندوی ټولنه، (۱۳۹۴ل).

۲ .انصاري، میرزاخان. دیـوان. د ځېړنمل دوست، سریزه، سمون او لمنې.کابل: پښتو ټولنه،( ۱۳۵۴ل).

۳ .ایوبـي، محمد نادر. فلسفه، چاپ، کوټه: صحاف نشراتي موسسه ، ( ۱۳۸۹ل).

۴ .ایوبـي، محمدنادر. روحیات. دویم چاپ، کوټه: صحاف نشراتي موسسه،(۱۳۸۸ل).

۵ ـ پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس. دویم چاپ، کابل: میدیوتیک« د افغانستان لپاره د ټولنیزو رسنیو مرکز.» (۱۳۸۳ل).

٦ـ الجباري، محمدعابد. نقد عقل عربـي. د محمدآل مهدي پارسي ژباړه، دویم چاپ، تهران: نشرنسل آفتاب، ( ۱۳۹۴ل).

۷ـ جبیـر، عبدالغفار.( ؟). زړه او دماغ، لیکنه. آنلاین: تعلیم الاسلام ویبپاڼه .

۸ ـ جمعه، محمد بشیـر. اغېزناکه شخصیت جوړونه. د فریداحمد هلال پښتو ژباړه، دویم چاپ، جلال اباد: مومند خپرندوی ټولنه، ( ۱۳۹۸ل).

۹ ـ خلیل، حنیف. د رحمان بابا کلیات. پنځم چاپ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، (۲۰۱۵م).

۱۰ـ دایرة المعارف، اریانا. د افغانستان د علومواکاډمي، پنځم ټوک، دویم دور، کابل: د دایرة المعارف مرکز ریاست، ( ۱۳۹۲ل).

۱۱ رحیمیان، سعید. مباني عرفان نظري. لومړی چاپ، تهران: وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي انتشارات، (۱۳۸۳ل).

۱۲ـ روښان، بایزید. خیرالبیان« پښتو برخه»، سریزه، ترتیب، مقابله، سمون او لمنلیکونه د محمد معصوم هوتک. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه، ( ۱۳۹۹ل).

۱۳ـ شینواری، امیره حمزه. انسانـي انا او پوهه. دویم چاپ، پېښور: جدون پرنټنګ پریس، (۲۰۰۲م).

۱۴ـ کارل، یاسپرس. عقل و ضد عقل در روزګار ما. د ضیاء تاج الدین فارسي ژباړه. دویم چاپ، تهران: نشر چشمه، ( ۱۳۹٦ل).

۱۵ـ کرګر، محمداکبر. د میرزاخان انصاري فلسفي او عرفاني نړۍ لید،لومړی چاپ،کابل: دانش مطبعه، (۱۳۹۴ل).

۱٦ـ کشاف ، قیام الدین.(؟). القـران. د قران کریم پښتو ژباړه او تفسیـر.آنلاین: سافټویر، . MQB APPs

۱۷ـ محمد جواد (؟). نگاهی به سه‌گانه دفتر عقل و آیت عشق. تهران : همشهـری آنلاین، ویبـپاڼه .

۱۸ـ ناگار، فضل ولـي. عرفان او د پښتو په لرغونې دوره کې یې څرکونه. جلال اباد: ناگار خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ل.

۱۹ـ هدایتي، ملیحه. عرفان و خداشناسي، ایران سایټ: مدیریت سایت خرداد. ۱۳۹۸ل.

ځیړندوی فضل الرحمن علیزی

# په کره کتنه کې د ژبې او الفاظو د کارونې څرنګوالی

# The manner of using language and words in literary criticism

**Assistant prof. Fazal rahman Alizai**


## Abstract

Literary criticism indeed gives literature a new life, and literature without literary criticism can not survive it is because it needs a considerable attention.

There are some principles, procedures and ethics to be taken into account. Literary critic must take care of the words and senses to avoid anything harmful to the author and the literary manuscript or to avoid disrespect manner. In this study, the ways is using the language and words during literary criticism have been pointed out that are not yet considered while crticisimg some books and this will be certainly good criticism if keep such points in mind.

## لنډیز

کره کتنه په حقیقت کې ادبیاتو ته ژوند ورکوي، له کره کتنې پرته ادبیات پایښت او بقا نه لري، نو په همدې خاطر باید ډېره پاملرنه ورته وشي او وده ورکړل شي. په کره کتنه کې ځینې اداب، اصول او معیارونه شته چې باید جدي پاملرنه ورته وشي او په پام کې ونیول شي. کره کتونکی باید د خپلې کره کتنې په وخت کې خپلو ټولو خبرو او الفاظو ته متوجه شي، داسې څه ونه وايي چې د اثر لیکوال ته زیان ورسېږي یا خدای مه کړه

تحقیر شي. په دې لیکنه کې د کره کتنې په وخت کې د ژبې او الفاظو د کارونې ځینې داسې لارې چارېپه گوته شوې دي، چې د کره کتنې په نامه په لیکل شوو کتابونو کې نه دي را وړل شوې او که د کره کتنې په وخت کې په پام کې ونیول شي، پرته له شکه چې یوه بریالۍ کره کتنه به یې تر سره کړې وي.

## سریزه

کره کتنه پر لیکل شوو آثارو د قضاوت لپاره لاره هواروي، د یو اثر له لیکوال، لوستونکي، د علم له پرمختگ او پراختیا سره مرسته کوي. کره کتنه د یو اثر د معنوي او لفظي ارزښت او د هغه اثر د ماهیت، ښېگڼو او بد گڼو په را برسېره کېدو کې له موږ سره مرسته کوي، چې باید د یوه اصل په توگه ومنل شي او له ارزښت او اهمیت څخه یې سترگې پټې نه شي. کره کتنه په حقیقت کې ادبیاتو ته ژوند ورکوي، له کره کتنې پرته ادبیات پایښت او بقا نه لري، نو په همدې خاطر باید ډېره پاملرنه ورته وشي او د لیکل شوو آثارو د ښېگڼو د معلوملو او د نیمگړتیاوو د پوره کولو په برخه کې کار ځینې واخیستل شي او عمومیت ورکړل شي.

کره کتنه په خپل ذات کې ځینې آداب هم لري، کله چې د یوه چا پر اثر باندې خبرې کېږي یا یې اثر ارزول کېږي، نو لازمه ده چې هغه په پام کې ونیول شي، تر څو د ارزونې په وخت کې یو بل چاته ضرر ونه رسېږي. د کره کتنې له آدابو څخه یو هم دا دی چې یو اثر په داسې توگه وارزول شي چې لیکوال هغه ارزونه د ځان لپاره یوه نېکه مشوره وگڼي او په راتلونکي کې ورباندې خپلې تېروتنې اصلاح او سمې کړي، خو دغسې ارزونه تر ډېره د کره کتونکي له لوري په کارېدونکې ژبې او الفاظو پورې اړه لري، که چېرته کره کتونکي د خپلې کره کتنې یا د یوه اثر د کره کتنې په وخت کې دې برخې ته پاملرنه وکړي،نو پرته له شکه چې یوه بریالۍ کره کتنه به یې کړې وي او که په یوه اثر باندې د کره کتنې په وخت کې له خپلو الفاظو او د ژبې له کارونې سره احتیاط ونشي، نو بیا به یې نتیجه معکوس، ځکه وي چې لیکوال، لوستونکي او د علم پراختیا ته به یې د گټې پر ځای زیان اړولی وي. په دې لیکنه کې په کره کتنه کې د ژبې او الفاظو د کره کتنې څرنگوالي باندې بحث شوی او په دې برخه کې ځینې مادي وړاندې شوې دي چې باید د کره کتنې په وخت کې ورته پاملرنه وشي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

کره کتنه یو ګټور عمل دی، چې باید عمومیت ته یې پاملرنه وشي او په دې برخه کې شعوري او اګاهانه کارونه تر سره شي، د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت هم په دې کې دی چې موږ په خپله ټولنه کې د کره کتنې د عاملو لپاره لاس په کار شو او په دې برخه کې ځینې داسې اصول او لارې چارې هم په پام کې ونیسو، چې د کره کتنې په کتابونو کې نه دي را وړل شوي، په ځانګړي ډول د ژبې او الفاظو د کارونېځرنګوالی چې دلته ورته اشاره شوې ده.

## د څېړنې موخې

په دې څېړنه کې زموږ موخه د کره کتنې عمومیت ته کار کول دي، خو څرنګه چې دا کار د کره کتوونکو له لورې د ژبې او الفاظو په کارونې پورې اړه لري، نو له دې لیکنې څخه هم موخه دا ده چې کره کتونکي باید د یوه اثر د کره کتنې په وخت کې خپلې ژبې او الفاظو ته ډېره پاملرنه وکړي، تر څو د کره کتنې د فرهنګ رواجولو او پراخولو کې سره  مرسته وکړي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ ـ د کره کتنې په وخت کې د ژبې او الفاظو سمه کارونه څومره اړینه ده؟

۲ـ  د ژبې او الفاظو په وخت کې باید کوم ټکي په پام کې ونیول شي؟

۳ـ آیا په کره کتنه کې له استعارو، تشبهاتو او طنزي ژبې څخه کار اخیستل څومره اړینه ده؟

## د څېړنې میتود

د څېړنې میتود تشریحي- توضیحي او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## د مقالې متن

ځینې لیکوال کله نا کله د ځینو د کره کتونکو له بې باکیو او توندې ژبې څخه ګیله کوي، د کره کتونکو په ځوابي کره کتنو کې یوه مهمه خبره او اصـل دا دی چې کره کتونکی باید یو څه اخلاقي برید پولې په پام کې ولري. د کره کتنې په نوم چې کوم کتابونه لیکل شوي دي، په هغو کې دې برخې ته مستقل عنوانونه ورکړل شوي دي، لکه، «د ادبي کره کتنې آداب  یا د کره کتنې ادبونه» په دې ډول عنوانونو کې،

تر ډېره د کره کتنې آداب په ګوته شـوي وي او ځينو اندېښـنو ته په ډېر ښـه ډول ځوابونه ورکول شـوي دي. که څه هم په ټوله کې کره کتنې له ژبني او ادب ته له پايبندي اړخه د منلو وړ دی، مګر دا خبره هم د حقيقت يوه برخه ده، چې ځينې وخت د کره کتونکي په ځوابي کره کتنو کې ناسـم الفاظ او کليمات ليدل کېږي، چې د کره کتونکي د ځورېدو سبب کېږي.

پر يوه کتاب باندې چې کره کتنه ليکل شـوې ده، کره کتونکي د کتاب د نثر او منځپـانګې پـه اړه يې دا ډول حکم کړی دی: « د حـاضر کتـاب نثر خوږ نـه دی، عبارتونه يې بې ګټې، ترکيبونه يې بدرنګه، مترادفونه يې بې ډوله، جملې يې ا ضافه، د جملو نامرتبوالی، د ګرامر په برخه کې ښـکاره تېروتنې، په ليکدود کې نه يووالی، ناسـم اسـتعمال ، په ټول کتاب کې د خندا وړ او نه ښېـونکي ښـوېدنې تر سـترګو کېږي[...] دا ټول[...] د بې ګټې او هوايي خبرې ليکلو ښـکارندويې دی. د دې کتاب په نثر کې تر ډېره ملا نصـــرالديني ژبه تر سترګو کېږي، دا سړی په دې ټولو شيانو نه ارزي، لکه څرنګه چې يې زه د ناسمو ځايونو په سموالي ستړی او ستومانه شوم. هغه څه چې په دې کتاب کې د ارزښت وړ دي، هغه د نورو دي، چې ليکونکي را اقتباس کړي دي، د ليکوال ټول ليکل شوي شيان بې ارزښته دي[...] دا يو بې ارزښته او بې بنسټه کتاب دی.»(۱: ۹۴ مخ)

دغه ډول ژبه کارول د کره کتونکي د ادعاوو او مقبوليت بې اغېزې کولو سـبب ګرځي، که څه هم چې دا ټول ويل يې سـم هم وي، دا نه يواځې ليکونکي، بلکې د ټولو مخاطبينو پاملرنه هم د اثر د اصـلي متن پر ځای د کره کتنې منځپانګې ته اړوي، په متن کې د فکر کولو پر ځای په کره کتنه کې فکر کوي.د کره کتونکي هدف د کتاب اغېزمنتيا، د کتاب او مطالعې د فرهنګ اصـلاح او سـمون دی او دا هدف په دغه ډول ژبه او نثر کې نه تر لاسـه کېږي، که څه هم د کره کتونکي کار يو څوک په شخصي د ښمني او کينې سره تعبير کړي. که ليکوال دغه ډول کره کتنې تـه ځواب ورکړي، کره کتونکی پر بې ادبۍ، کينې او پـه بـد اخلاقۍ تورن کړي، کېدای شي چې تېروتنې به لري او ځوابونه به يې منطقي نه وي، مګر له عاطفي اړخه کېدای شي حق ورکړل شي چې د دغه ډول تورې مخنيوي ته توره را وکاږي او

د کره کتونکي لوتې ته دې په زېږه تيږه(ډبره) بانديې ځواب ورکړي، چې د نورو د منلو وړ وګرځي. د دې ډول کره کتنې تر ټولو مهم ډول، د هغې سپوره ژبه ده چې په بېلابېلو شکلونو خپل ځان را څرګندوي، له دې ډلې څخه ناسم ويل، سولېدلي عبارتونه، شاعرانه ښودنه، له خندينو تشبيهاتو کار اخيستل، له موضوع پورته خبرې کول او تر ټولو مهم يې د ليکونکي سپکاوی دی.

په کره کتنه کې ژبه په بشپړ ډول د اثر د منځپانګې او بيان په خدمت کې وي، په پايله کې بايد له علمي ژبې څخه ګټه واخيستل شي، له هر هغه عمل نه چې په دې کار کې د ګډوډۍ سبب کېږي ډډه وشي. په دې برخه کې بايد ژبه ډېره روښانه، پرېوللې، مؤدبانه، له نامناسبو ويلو څخه پاکه، غير شخصي او هېڅ ډول استعارې، تشبيهات او کلامي سينګارونه بايد پکې نه وي. د ادبي قطعې او کره کتنيزې مقالې تر منځ يو بنسټي توپير وي؛ په ادبي قطعه کې ليکونکي ته روا ده چې له ټولو ژبنيو (ادبي او معنوي) ښکلاوو څخه کار واخلي، له بديعي ښکلاوو په ګټې خپله ليکنه يا ژبه ښايښته کړي، ځمکه او اسمان سره و اوډي، چې خپل نثر ته د لوستونکي نظر را واړوي، په دې کار کې په برياليتوب سره به يې يو شهکار را منځته کړی وي او په ناکامۍ سره به يې ليکنه بې ارزښته او د خلکو له پامه لوېدلې وي.

مګر په کره کتنه کې دغسې نه ده. کره کتنه له يوې مخې کره کتونکي ته متوجه وي، له يوې مخې د ليکنې غوښتنې او ناغوښتنې را څرګندوي او ليکونکي د کره کتنې همدا غوښتنې او ناغوښتنې ځوروي، نو په دې برخه کې لږ بې پامي هم، د ليکونکي پر حقونو تېری او د هغه شخصيت ته سپکاوی دی. دا سې نه ده چې کره کتونکی دې ځان ته د يو متن د سموالي لپاره د هر ډول ژبې او لهجې د کارولو حق ورکړي او د متن د ناسموالي په برخه کې د خپل سم منطق د وړاندې کولو لپاره، ناسمه ژبه وکاروي او د دې ادعا وکړي چې زه حق لرم، ماته د حق ويلو په برخه کې د هر ډول ژبې او لهجې کارولو اجازه ده. د کره کتنې د رښتينوالي لپاره لازمه نه ده چې هر ډول ژبه او لحن دې وکارول شي. اخلاق او د نورو حقونو ځان ته د داډول حق ورکول محدودوي.

## په کره کتنه کې د کارونې ژبې ځانګړتیاوې

کره کتونکي ته د خپل هر ډول فکر او ســوچ بیانول روا دي، خو د اخلاقو په چوکاټ کې او له اخلاقي اصــولو سره له برابرې ژبې او الفاظو دې کار واخلي، مګر پاکه او ښایسته ژبه څه شی ده او کومې ځانګړنې لري؟

ښکلې او پرېوللې ژبه هغه ده چې:

١. له ښکنځلو لرې وي؛

٢. ژبه باید له بد ویلو وساتل شي؛

٣. سپک تشبیهات او استعارې پکې نه وي؛

٤. له کوڅه یي خبرو او کلمو څخه پاکه وي

٥. ځان او ادبي قلم ښودنه پکې نه وي

٦. له طنز څخه پاکه، نرمه او خوږه وي.

البته په دې برخه کې ځینې نورې ځانګړنې هم را وړلای شو دلته موږ پر پورته را وړل شوو ځانګړنو بسنه کوو. دلته زموږ هدف د کره کتنې په برخه کې د ښکلې ژبې کارول دي. له کره کتنیزو لیکنو پرته په نورو لیکنو کې شـــاعرانه ژبه او خواږه الفاظ کارول روا دي، مګر په کره کتنیزه لیکنه کې دا سې نه ده. وا ضح خبره ده چې خپله ژبه او قلم باید له نا سمو خبرو او ښکنځلو وساتو، له پاکې او ښکلې ژبې څخه همدا تمه کېږي چې باید د ناوړه خبرو او الفاظو له کارولو څخه ډډه وشي. زموږ دیني او اخلاقي سنت هم ادب ګڼل کېږي.

### ١ . د کره کتنې ژبه باید له ښکنځلو لرې وي

د کره کتنې برخه، د اخلاقي ښــوونې، علم او پوهې د رواجولو په برخه کې کار کول دي او دا کار لیکوال یا ژباړونکي ته په سپکو خبرو او ښکنځلو نه تر لاسه کېږي. کوم کره کتونکی چې په خپله لیکنه کې ژبه په ښـــکنځلو پایته رســـوي، په حقیقت کې د نومورې د د نننی شخصیت ښکارندویي کوي. په کیسو او دا ستانونو کې را غلي دي چې یوې ډلې خلکو حضرت عیســی(ع) ته ښـــکنځل وکړل، حـــضرت عیســـی(ع) هغه په ښـــه نامه یا نیکي یاد کړل، ملګرو او یارانو یې د دغه ډول عکس العمل غوښــتنه وکړه، نومورې په ځواب کې ورته وویل:«کل ما عنده ینفق»، ژباړه: هر څوک له خپلې زېرمې مصرف کوي.(٧: ١٨۴ مخ)

یو شمېر خلکو د ناسمو دلایلو له مخې دا زده کړې ده چې پر یوه لیکنه باندې د کره کتنې په وخت کې له هر ډول ژبې څخه کار اخیستلای شي او ښکنځلې کول د خپلې رښــتینولۍ لپاره دلیل گرځوي، دا چې دوی په حقه دي، نو د ښــکنځلو حق هم لري، ښکنځلې او سپکې سپورې کولای شي. له بده مرغه چې د ځلوېښتمو او پنځوسمو لســیزو په جریان کې موږ د ځینو دغه ډول کره کتنې شـاهدان یوو، چې له غیر اخلاقي کړنلارې څخه یې گټه پورته کړې ده. دغه ډول کړنلاره چې د هر دلیل له مخې کارول کېږي، خپله کره کتونکي ته یې زیان رســېږي د ده د بې باورۍ ســبب گرځي او علمي ټولنه ترې مخ اړوي. که کوم کره کتونکی په دین درد‌ېږي، نو هغه باید په دې پوه شي چې ښــکنځلې د دین او اخلاقو خلاف هم دي او همدارنگه که چېرته په ټولنه کې د اعتبار، علمي او ټولنیز حیثیت غوښــتونکی وي، نو ښــکنځلې د دې شــیانو ضــد گڼل کېږي، نو غوره ده چې خپله ژبه او قلم په ناسمو خبرو ککړ نه کړي.

**۲ . ژبه باید له بد ویلو وساتل شي**

په کره کتنه کې د ژبې د ښــکلا دویمه ځانگړنه، له غندنې، تېري او متل تېرولو څخه ډډه کول دي،کله چې کره کتونکي په کوم شـاعر کره کتنه ولیکله، هغه شـاعر وځورېدو او ویې لیکل نه غواړم کره کتونکی زما یا زما د لیکنې په اړه یو څه ولیکي. کره کتونکي ځواب ورکړ:« زه د هر هغه شاعر او لیکونکي له بې ځایه خبرو، لیکنو او خیالونو څخه بېزاره یم چې زموږ د قیمتي وخت د ضــایع کېدو ســبب گرځي.» دغه ډول هجوه لیکنه د کره کتنې د اخلاقو خلاف او له ښــایســته ژبې او الفاظو سره په ټکر کې ده. دا خبره کافي وه چې کره کتونکي لیکلي وای چې کره کتنه لیکل زما حق دی او د شاعر اجازې ته اړتیا نشته.

**۳ . سپک تشبیهات او استعارې پکې نه وي**

په کره کتنه کې د ژبنۍ ښکلا دریېمه ځانگړنه، له ناسمو استعارو څخه ډډه کول دي. د عا لمانه کره کتنې ژبه، علمي ژبه ده او علمي ژبه د ادبي او عادي ژبې پر وړاندې درېیږي یا کارول کېږي. په علمي ژبه کې اصــل دا دی چې له تشــبیهاتو او اســتعارو څخه ډډه وشي. ښـــاغلي ناصر نیکو بخت د علمي ژبې لپاره پنځلس ځانگړنې را وړې دي، چې یوه یې هم (له استعارو، کنایوو او مجاز څخه لرېوالی دی)

یا په ټولنیز ډول له «کمزورو، سپکو، د ادب او ټولنې له رسمي او مروجو کلمو) څخه باید پاکه او ستره ژبه وکارول شي.(۹: ۲۳مخ)

د علمي ژبې مهمه ځانګړنه څرګندوالی او ښکاره والی دی، چې په ا صل کې له استعارو، تشبیهاتو او کنایو څخه پاکه وي. د استاد احمد سمیعي خبره:« علمي ژبه، هغه ژبه ده چې څرګنده، مسـتقیم تعبیر او منطقي نظم او جوړښـت لرونکې وي. په دې ژبه کې لفظونه باید په خپلو حقیقي معناوو یا په یوې مشهورې معنا سره وکارول شي، چې ټول لوستونکي ورباندې وپوهېږي. (۵ : ۴۴مخ)

کله چې علمي ژبه له څرګندتیا څخه وغورځول شي، هغه د علمي ژبې له منطق سره په ټکر کې ده. په علمي ژبه کې، کلمې د اصـل مقصـد بیان ته ځانګړې شـوې وي، په هغې کې ځانښـودنه او د نامناسـبو لغاتونو کارونه، نه ځایېږي: «ادبي ژبه، په تېره د شعر ژبه، ځانښودونکې ژبه وي، خو په دا سې حال کې په علمي ژبه کې باید هڅه وشي چې ډېره عاجزانه وي او له هر ډول ځانښــودنې څخه پکې ځان وســاتل شي.»(۸ : ۱۸ مخ)

په ژبه کې د اســتعارو کارول، له علمي ژبې سره نه ښـایي. تر دې ډېره بده لا دا چې له ناسمو او سپکونکو استعارو څخه پکې کار اخیستل شوی وي، چې نه یوازې ژبه له څرګندتیا څخه باسي، بلکې لوســـتونکو ته د لیکونکي روح او روان هم تیاره کوي، چې دا د ادبي ژبې او د لیکوالۍ د اخلاقو خلاف کار دی. په کره کتنه کې د تشـــبیهاتو کارونه مثبت کار نه دی، یوازې د خپلو مخاطبینو د پارولو لپاره ده چې ګواکې کره کتونکي د ژبې حریم ته پاملرنه نه ده کړې، نو پر دې اساس کره کتونکی چې د ادب او ژبې د ښکلا شور او زوړ لري، باید د هر ډول ناسمو استعارو او ناسمې وینا څخه ډډه وکړي.

### ۴ . له کوڅه یي خبرو او کلمو څخه پاکه وي

په کره کتنه کې د ژبې د کارولو څلورمه ځانګړنه، له زړو او ســـولېدلو کلمو څخه لریوالی دی. څرنګه چې علمي ژبه د ادبي ژبې په مقابل کې درېږي، همدارنګه د کوڅې او بازاري ژبې سره هم توپیر لري، دلته زموږ موخه د کوڅې او د بازاري ژبې بې اعتباره کول نه دي، بلکې هدف دا دی چې دغه ډول ژبه د یو ځانګړي کار لپاره رغېدلې ده او د اســتاد ســمیعي په خبره:«دا ژبه پېچلتیا او د بل چا د زده کړې لپاره

څه نه لري.»(۵: ۴۴مخ) باید په علمي بحثونو کې پر هغې تکیه ونه شي یا ونه کارول شي. ســتونزه هغه وخت پیلېږي، چې کره کتونکی خپله لیکنه یا ژبه د ټولنې د نالوســتو خلکو له لغتونو، کنایو او اســتعارو څخه ډکه کړي او هغه بیا د مخاطبینو د زده کړې لپاره وکاروي.انتقادي لیکنو کې د کوڅه یې ژبې او ادبیاتو کارول د فکر او اندېښــنې د فقر، د کره کتنې اخلاقو او نقش ته د بې اعتنایي څرګندونه کوي یا د علمي ټولنې د ټیټوالي په معنا ده.کله چې کره کتونکی د خپل کار پر وړاندې د مسؤولیت احساس کوي او د ژبې پر سپېڅلتیا باندې باور لري، نو باید له دغه ډول غیر فرهنګي او یا د فرهنګ ضد له تعبیرونو او اشارو څخه ځان لرې وساتي.

### ۵ . ځان او ادبي قلم ښودنه پکې نه وي

د کره کتنې ژبه، علمي ژبه ده، روښښــت او څرګندتیا یې له مهمو اړتیاوو څخه دی، چې باید ښــایســته او څرګنده وي، په همدې دلیل د ژبې د ښــکلا پنځمه ځانګړنه له شاعرانه الفاظو او کلمو څخه ځان ساتل دي. یعنې په کره کتنه کې باید ډېر لوړ شاعرانه الفاظ را نه وړل شي چې په لوی لاس د لوستونکو فکر د کره شوي متن د سم یا نا سم قضاوت په اړه بل لوري ته ولاړ شي. البته که له موضوع او ځای سره ســم ځینې متلونه وکارول شي ښــه خبره ده، خو له په ټوله کې باید له داســې شاعرانه الفاظو څخه ډډه وشي چې د اصلي لیکنې د لوستولو پر ځای لوستونکی د کارول شویو کلمو د معنا او مفهوم په پوهولو کې سوچ او فکر کولو ته اړ ایستل شي.

### ٦ . له طنز څخه پاکه، نرمه او خوږه وي

په کره کتنه کې د ژبې د ښــکلا شــپږمه ځانګړنه، له طنز څخه ډډه کول دي. د کره کتنې مقام په پوره ډول کرکېچن او اندېښــمنوونکی دی او د یو شــمېر لیکوالو عکس العملونو ښودلې ده چې باید په دې برخه کې سم دقیق او بشپړ لیکل وشي. هر ډول تېری او تر اندازې ډېر خوش طبعي هم د لیکونکو منفي عکس العملونه را پاروي. لازمه نه ده چې په کره کتنه کې دې څوک وخندول شي یا ټوکې وکړو. په کره کتنه کې لازمه ده چې علمي فعالیت تر سره شي او د اثر او لوســتونکي ترمنځ منځګړیتوب وشي. کره کتونکی باید په خپله کره کتنه کې هڅه وکړي چې له طنز څخه لرې و اوسي او خپله طنز لیکنې ژبه او لیکنه دې په کوم بل ځای کې و ازمویي. البته کره کتونکی په هغه صورت چې کره کتنه یې چا ته متوجه نه وي او یو

کلي بحث یې را پیل کړی وي له طنزي ژبې څخه کار اخیستلای شي او په معکوس ډول خپل کره کتنیز بحثونه مخته بیولای شي. د بېلګې په ډول د « غابښــماتي ځواب»( ۳: ۱ مخ)او « کره کتونکي څرنګه پر سر ودرو» (۲ : ۱۲۲مخ) مقالو کې په کره کتنه کې یې نیمګړتیاوې په طنزي ژبه ویلې دي. «د دې دوو مقالو اساسي ټکي دا دي چې مســتقیماً یې کوم کتاب یا مقاله نه ده نقد کړې او د هېڅا نامه پکې نه دی اخیســتل شــوې. په هغه ځای کې له طنز څخه ګټه اخیســتل چې د هېڅا د ځورېدا سبب نه کېږي پروا نه لري.»(۱ : ۹۵مخ) یعنې کله چې کره کتنه مشخصه چاته متوجه نه وي،که له طنزي ژبې څخه کار واخیستل شي، نو پروا نه لري.

خرمشــاهي په دې اړه یو ځانګړی نظر لري. دی د ملنډو او طنز تر منځ توپیر ته په دې باور کړی دی چې په کره کتنه کې طنزي خبرې کول روا ګڼل کېږي، په دې اړه یې لیکلي:«چېچونکي لیکل، ادبي او غیرې ادبي ښکنځلې لیکل په هېڅ دود روا نه دي او هېڅ یو کره کتونکی د دغه ډول ژبې د کارولو حق نه لري. څرنګه چې د کره کتنې په کار کې ډېر احتیاط په کار دی، خو لږه طنزي ژبه کارول هم بده خبره نه ده البته له تمســخر سره توپیر لري او د دې دواړو ترمنځ پر نازک توپیر پوهېدل اړین دي.»(۳: ۱۰مخ)

دلته د طنز او تمســخر کارولو په برخه کې قید را وړل شــوی دی، چې یو پکې د حجم مراعاتول او دویم له مسخرې یا تمسخر سره توپیر ته په کتو طنز کارول روا ګڼل شـوي دي. اصـلي سـتونزه د دې دواړو پېژندلو کې ده. که د دې دواړو ترمنځ توپیر را منځته کړای شو، خو د کره کتنې په وخت کې عملاً زموږ طنزي ژبه د تمسخر په نامه تفسیرېږي.د کره کتنې فضا او د کره کتنې جدیت ته چې هر هغه څه زیان اړوي، هغه طنز که تمسخر وي، باید له کارولو یې ډډه وشي. لنډه دا چې کره کتونکی باید د یوه اثر د کره کتنې په وخت کې د کره کتنې ټول آداب په نظر کې ونیسي:«په یوه لیکنه او یا هم اثر باندې د کره کتنې په وخت کې خپل شخصي تمایلات یوې خواته کړي او د هغه اثر په کره کتنه کې بېطرفانه قضـاوت وکړي؛ داسـې قضـاوت چې د شـخصي- عقدو څرګندول په کې نه وي ځای شوی.»(٦: ۴٦مخ)

## پایله

څرنگه چې کره کتنه په هر ډگر کې د علم او پوهې له پرمختگ سره مرسته کوي او باید ډېره پاملرنه ورته وشي، خو په کره کتنه کې باید تر ټولو مخکې د کره کتنې آداب، اصول او د کره کتنې ژبې ته پاملرنه وشي، ځکه په کره کتنه کې د ژبې ښکلا او د الفاظو کارول،خورا ډېر مهم او له ارزښت څخه برخمن دي. په کره کتنه کې تر ټولو غوره خبره دا ده چې باید د کره کتنې له اخلاقو سره سمه داسې ژبه وکارول شي، چې په هغه کې په هېڅ ډول ځانښودنه نه وي، له هر ډول طنز راوړلو او ځانښودنې څخه پاکه وي. داسې الفاظ پکې وکارول شي چې هغه ژبې ته ښکلا ورکوي او هغه څه چې د ژبې د ښایستوالي لپاره لازم دي هغه نرم لیکل دي. د کره کتنې په وخت کې باید یو چاته له پیغور ورکولو څخه ډډه وشي، داسې الفاظ ونه کارول شي چې د یو چا د ځورېدلو سبب وگرځي، کوښه یې خبرې پکې ونه کارول وشي، ډېره لوړه شاعرانه ژبه هم باید ونه کارول شي، ځکه په کره کتنه کې ډېر شاعرانه الفاظ راوړل، د لوستونکو ذهن د متن ښکلاییز اړخ ته وړي او د کره کتونکي او کره کتنې اصلي هدف څخه یې لرې کوي. کره کتنه باید په داسې ډول تر سره شي، چې هم لوستونکي ته د منلو وړ وي، هم لیکونکي پرې قناعت وکړي او هم د اثر د منځپانگې په را برسېره کولو کې مرسته وکړي او دا بیا هغه وخت شونې ده چې ښایسته او له هر ډول تصنع څخه پاک او پربوللي الفاظ او کلمې وکارول شي.

## وړاندیزونه

کره کتنې ته د علومو په ټولو څانگو په ځانگړي ډول د ادبیاتو په برخه کې ډېره اړتیا لیدل کېږي، نو وړاندیز کېږي، چې له علومو اکاډمۍ څخه په خپرېدونکو نشراتو(مجلو او جرېدو) کې دې کره کتنې ته ځانگړې پاملرنه وشي او د کره کتنې د ټولو اصولو، اخلاقو او معیارونو په پام کې نیولو سره دې عملي کارونه پیل شي، تر څو کره کتنې ته وده ورکړل شي.

## مأخذونه

١. اسلامی، سید حسن. چگونه منتقدان را کله پاک کنیم؟ آینه پژوهش، شماره ١٢٢، خرداد و تیر ماه ١٣٨٩ هـ ش.
٢. اسلامي، سید حسن. آیین و اخلاق نقد، تهران: خانه کتاب، ١٣٩١ هـ ش.

۳. خرمشاهی، بهاءالدین.هستی شناسی حافظ، در ذهن و زبان حافظ، (ویراست سوم)، ناهید، تهران، ۱۳۸٤هـ ش.
٤. روهي، محمد صديق. ادبي څېړنې، دانش خپرندويه ټولنه: پېښور، ۱۳۸٦ ل کال.
۵. سميعي، احمد.نگارش و ويرايش، تهران: سازمان مطالعه وتدوين کتب علوم انسانی دانشگاه ها(سمت)، ۱۳۸۷ هـ ش.
٦. عليزی، فضل الرحمن. په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاريخي بهير، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، ۱۴۰۱ ل کال.
۷. عوفی ، محمد سيد الدين. جوامع الحکايات و لوامع الروايات، به کوشش جعفر شعار، تهران: انتشارات و آموزش انقلاب اسلامی، ۱۳۷۲
۸. فرهنگ علوم انسانی، داریوش آشوری، ویراست دوم، تهران: نشر مرکز، ۱۳۸۱هـ ش.
۹. مبانی درست نویسی زبان فارسی معیار، ناصر نیکوبخت، تهران: چشمه، ۱۳۸۵
۱۰. همدانی، حسین معصومي. پاسخ دندان شکن، نشر دانش، سال ۱۹، شماره ۳ پآییز ۱۳۸۱ هـ ش.

جاوید آفتاب

# د مجذوب په شاعرۍ کې رومانتېسېزم

# Romanticism in the Abdul Rahim Majzoob's Poetry

**Javed Aftab**

## Abstract

In this article, the concept and identification of romanticism, its differences and characteristics have been discussed.

Romanticism is an world literary movement, which has its own characteristics. This movement has reached its peak in poetry and first time it started from England. I have attempt after some study on the poetry of late Romanian Pashto poet Abdul Rahim Majzoob

In Majzoob's poems, there is a hint of romanticism and he is an inventor of a unique style in this field. After deep study and influence in English literature, he has written Romantic Poetry in Pashto language. Some scholars call him a rival poet of Pashto language like English poets Shelley, John Keats and others. we can get enjoy from the sweetness of Majzoob's Romantic Poetry when we study like him.

## لنډيز

په دې مقاله کې د رومانټسېزم مفهوم او پېژندنې، له رومان سره توپير او ځانګړنو باندې خبرې شوې دي. رمانټسېزم يو منل شوی نړيوال ادبي غورځنګ دی، چې خپلې خاصې ځانګړتياوې لري. ياد غورځنګ د شعر په اډانه کې خپل اوج ته رسېدلی او پيل يې له انګلستان نه شوی دی. ما د پښتو ژبې وتلي روماني شاعر عبدالرحيم مجذوب په شاعرۍ کې په دې اړخ له يو څه مطالعې وروسته نيمګړې هڅه کړې ده. د مجذوب په نظمونو کې د رومانټسېزم څرک اوځار او په دغه برخه کې د ځانګړي طرز ايجادګر شاعر دی. هغه په انګرېزي ادب کې له ژورې مطالعې او اغېزمنتيا وروسته په پښتو ژبه روماني شاعري کړې ده. ځينې صاحب مطالعه ليکوال نوموړی د انګرېزي شاعرانو شېلي ، کيټس او نورو په څېر د پښتو ژبې سيال شاعر بولي. د مجذوب د روماني شاعرۍ له خوږو هغه وخت خوند اخيستی شو چې د هغه په ځير مطالعه کړو.

## سريزه

د نولسـمې پېړۍ پيل د اروپا د ادبياتو د نوي عصــــر ښـه پيل دی. دغه دور ته د رومانتيک عصــر نوم ورکول کېږي، چې د بورژوازي طبقې عصر بلل کېده. په دې دور کې تجمل او اشرافي ژوند، خپل اهميت او نفوذ له لاســه ورکړ، د ادبي آثارو قلمرو پراختيا مونده، له دې نه وروسته شاعران او ليکوال د ټولنې له بېلابېلو طبقو څخه وو. رومانتيک ادبياتو په اروپايي هېوادونو کې په نولسمې پېړۍ کې، پر يو بل پسې ظهور وکړ. د غرب په تاريخ کې ښايي دا سې بل مکتب د رومانټسېزم په څېر نفوذ او وده نه وي کړې. کله چې د رومانټسـېزم يا رومانټيزم خبره کېږي، معمولاً د ټولو په تصـور کې د عشق او عاشقۍ کيسې را تازه کېږي، ځکه د دې کلمې پيوند او خپلوي له رومان او رومانټيک سره ده. خو رومانټســـېزم بيا له دې سره په متفاوته معنا يو نړۍوال ادبي مکتب دی، چې پراخ مفهوم په ځان کې را نغاړي. بلکې په دې مکتب کې ټول، افکار، عقايد، ټولنيزې او سياسي نظريې او مذهبي غورځنګونه هم شامل دي، په دې خاطر رومانټســـېزم يواځې يو ادبي غورځنګ نه، بلکې يو ټولنيز - ســياسي حرکت هم بلل کېږي، چې دا برخه يې يوې جامع او ژورې مطالعه ته اړتيا لري.

رومانټسېزم د یوه فلسفي او هنري - ادبي مکتب په توګه د اتلسمې پېړۍ په وروستیو او نولسمې پېړۍ پیل کې په انګلستان کې رامنځ ته شو او بیا آلمان، د اروپا شمال او فرانسې ته خپور شو. په عامه توګه هغه دورو ته ویل کېږي چې په هنر او ژوند کې پر عاطفي او تخیلي کیفیت ټینګار شوی وي. د دې غورځنګ د اوج دوره د نولسمې پېړۍ لومړۍ نیمایي او انګلستان دی. ځانګړنې یې له طبیعي بکر او منظرو سره مینه، د تېر غربت په اړه غم او حسرت، له آزادۍ سره شدید تمایل، روایتي مسایلو خلاف مزاحمت او داسې نورې دي .

په پښتو ادب، په ځانګړې توګه پښتو شاعرۍ کې چې کله د رومانټسېزم یا روماني شاعرۍ په اړه خبره کوو، نو د څو د ګوتو په شمار شاعرانو کې د عبدالرحیم مجذوب نوم اوځار برېښي. د مجذوب نظمونه د رومانټسېزم ښې بېلګې دي. هغه، روماني فکر له انګرېزي شاعرۍ او د هغې ژورې مطالعې نه په تأثر سره پښتو ته راوړی دی؛ د مجذوب روماني طرز او سبک د کیفیت او کمیت له پلوه خپل ځانګړی اغېز او رنګ لري، د هغه سیمه¬ییزې سوچه لهجې که د نوموړي شاعرۍ ته د پسرلي په څېر تازه¬والی او رنګونه ورکړي دي، خو ځینو شعرونه یې بیا نورو پښتنو ته مبهم کړي هم دي. په دې مقاله کې په روماني رنګینیو او ښکلاوو خبرې شوې دي.

## د څېړنې ارزښت او اهمیت

رومانټسېزم یو نړیوال غورځنګ دی، د نړۍ مشهورو شاعرانو د دې غورځنګ په اډانه کې د شعر په ژبه خپل فکر بیان کړی دی او د دغې ځانګړنې له مخې شهرت ته رسېدلي دي. په پښتو ژبه کې هم دا ډول شاعران ډېر دي، چې په هغو کې یو ډېر مستحق انسان عبدالرحیم مجذوب دی. د مجذوب په شهرت کې هم روماني شاعري ستره ونډه لري، د ده د شاعرۍ دا اړخ چې څومره په¬کار و، هومره نه دی څېړل شوی، خو بیا هم ځینو لیکوالو خپله برخه خواري کړې ده. د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په همدې کې دی چې نن د یوه داسې حقدار پښتون شاعر روماني فکر او تجربې را سپړو او دا مو دې ته اړ باسي، چې په دې اړه خپلو نورو نوو څېړنو ته دوام ورکړو.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې اساسي موخه دا ده چې په پښتو کې د یوه نړیوال مکتب فکري بحث ته پراختیا ورکړو، د خپلې ژبې شاعرانو ته د دغه مکتب له کړکۍ وګورو، په دې تله یې وتلو، د هغو دغه هنري انداز ته د قدر په سترګه وګورو او په دې پوه شو چې ګنې د پښتو روماني شاعري هم د یاد غورځنګ یا مکتب له ځانګړنو خالي نه ده.

## د څېړنې پوښتنې

۱ - رومانټسېزم څه ته وایي او کومې ځانګړنې لري؟

۲ - رومانټسېزم کله او چېرته رامنځ ته شو؟

۳ - عبدالرحیم مجذوب څوک دی او هغه یو رومانټېسټ شاعر دی؟

۴- د عبدالرحیم مجذوب په شاعرۍ کې د رومانټسېزم کومې ځانګړنې شته؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## د مقالې متن

رومانټېزم له لوېدیځ ادب نه پښتو ته راغلې اصطلاح ده چې په اصل کې دا یو باقاعده فکري تحریک دی، چې د کلاسېزم پر وړاندې د ۱۸مې پېړۍ په پای او د نولسمې پېړۍ په سر کې په اروپا کې رامنځ ته شو. (۱)

رومانویت د انګرېزۍ د Romanticism ترجمه ده، کوم چې د انګرېزۍ Romanceنه او په خپله Romance بیا د فرانسوي ژبې Romanz نه مأخوذ دی، چې لغوي معنا یې د خلقو خبرې دي او د رومانس لغوي معنا حکایت، داستان او افسانه ده.(۲) خو په اصطلاح کې، رومانټسېزم له لغوي معنا څخه بېخي په جلا معنا او مفهوم کارول کېږي. د یوه مکتب یا غورځنګ په بڼه را مخ ته شوی چې ډېر خصوصیات په ځان کې رانغاړي.

"عمید فرهنګ" یې داسې را پېژني: یو ادبي او هنري مکتب دی چې د اتلسمې پېړۍ په دویمې نیمایي او نولسمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې په اروپا کې رواج و او د فردپالنې یا انفرادیت او آزادۍ په اصولو تکیه کولو سره د انسان د دروني احساساتو، شخصي عواطفو او د عادي وګړو ژوند د څرګندولو غوښتونکی و. (۳)

رومانتېسېزم د اتلسمې پېړۍ د وروستيو او نولسمې پېړۍ د لومړيو وختونو غورځنګ دی چې په ادب، فلسفه، هنر او سياست کې د پخوانيو شکلونو پر ضد يو عکس العمل بلل کېږي. د رومانتېسېزم لپاره يو مشخص او د ډاډ وړ تعريف نه شو موندلی، خو ځينو پوهانو او اديبانو يې ځانګړنې وړاندې کړې دي. (۴)

انګليسي نقاد والټر پاټر رومانتېسېزم د ښکلا او حيرانتيا مجموعه وبلله. د يوه امريکايي پوه په باور د رومانتېسېزم جوهر الهام دی چې مبدا يې په رمز او حيرت کې ده. د رومانتېسېزم عمومي ځانګړنې په دې ډول ښودلی شو: حساسيت، له پخوانيو وختونو سره علاقه، ملي ماضي، محلي رنګونه، خاص ته په عام ترجيح ورکول، خيالي ارزوګانې، مافوق الطبيعت، شپه، مرګ، تباهي، هديره، شيطان، د کليوالي ژوند ستاينه، د نااشنا شيانو خوښول، بې کنټروله تخيلات، د حيواناتو له ژوند سره همدردي، په افسانه کې هيجاني روحيات، رومانټيک قهرمان يا ژوند څخه ستړی وي يا د ټولنې په مقابل کې متمرد وي. هيجاناتو ته پر عقل او خيال ته پر حقيقت ترجيح ورکوي.(۴) فکري آزادي، بغاوت، مقصديت او انفراديت.

يعنې رومانتېسېزم د فلسفې په څېر هيڅ اصول، قوانين او حدود نه مني، بلکې د بشپړې شخصي - فکري آزادۍ په پايله کې هر ډول بغاوت، د فکر او خيال اظهار، مبالغه او عواطف بيانولی شي.

د رومانتېسېزم او روماني شعر په اړه نور بحث څخه مخکې اړينه ده چې د عبدالرحيم مجذوب پېژندنې په اړه لنډ وليکم چې: عبدالرحيم مجذوب د عبدالکريم خان زوی، د ۱۹۳۵م. د جنورۍ په څوارلسمه د خيبر پښتونخوا د سوبل په لرې پرته سيمه د لکي مروت په نار صاحب ادميدادخېلو کې زېږېدلی دی. مجذوب له مولانا عالم لنګرخېل نه قرآن کريم، فقه، د سعدي مشهور کتابونه «ګلستان او بوستان»، د نورالدين عبدالرحمان جامي «يوسف او زليخا» او د نظامي ګنجوي «سکندرنامه» لوستي دي، لومړنۍ زده¬کړې يې په نورنګ دولتي ښوونځي او لوړې زده¬کړې يې د قانون په څانګه کې د پېښور په اسلاميه کالج کې کړې دي.(۵) مجذوب يو څه موده د وکالت دنده کړې ده .

د پښتو معاصر ادب، د رومانټيک غورځنګ دغه نماينده شاعر د ۲۰۲۱م. د اکتوبر پر ۲۳مه له نړۍ سترګې پټې کړې. مجذوب د شلمې پېړۍ په سرخېلانو کې جوت نوم

دی، د پښتو نظم د یوه ځانګړي سبک روماني شاعر دی او همدارنګه ښه لیکوال او ژباړن دی، چې یوه جلا لار، فکر او شعري نړۍ لري. هغه په پښتو نظم کې د فکر او فن له پلوه نوې رنګ رنګ تجربې وړاندې کړې دي، پښتو شعر ته یې نوې ژبه، نوي موضوعات او نوی نړۍوال تحریک را وړی دی او موږ ته یې ځان یو رومانسټ او موډرنسټ شاعر را پېژندلی دی .

د مجذوب په اړه ایوب صابر لیکلي: «مجذوب د پښتو په اوچتو شاعرانو، محققینو، مقاله نګارانو او ادیبانو کې شمارلی شي. خاص طور سره پښتو نظم او افسانه د جدید ترینو اقدارو په سانچه کښې په اچولو کښې د هغه ژور لاس دی او چه هر کله د پښتو د ساهو نظم ګو شاعرانو ذکر کېږي، نو هغه څوک نظر انداز کولی نه شي. (٦)

ډاکټر نسیم اقبال په خپله مقاله «د مجذوب انفرادیت» کې د یوه بل لیکوال له قوله چې نوم یې نه دی یاد کړی، لیکي: «مجذوب یو فطرتي او روماني شاعر دی او په نظم کښې خصوصي رنګ او انفرادیت لري. د ده کلام ډېر سلیس، روان، فصیح، بلیغ او له ده سره د پښتو د نازکو او شایسته الفاظو بې¬اندازې ذخیره ده، د ده انداز بیان ډېر خوندور او مؤثر دی.

شېر زمان طایزی وایي: «مجذوب صاحب هغو یو څو سرزوره مخکښانو کښې شمېرلی شي چې په پښتو کښې یې د انګرېزۍ په رنګ نظم ته رواج ورکړی دی او د پښتو لرغونې روایتي بڼه یې نوې کړې. د ده دا نوښت ډېر لږ وخت کښې مقبول شوی دی. دی هیئتي نوښت نه علاوه مجذوب ډېره درنه، ارزښتناکه او رنګینه نظریاتي او توهماتي پانګه هم پښتو ته را اړولې ده. هغې سره نوي الفاظ، اصطلاحات، تلمیحات او محاورې هم د پښتو په زمکه وټوکېدې. (٧)

رحمت الله درد مجذوب ته «قادرالکلام شاعر خطاب کړی» هغه وایي، د مجذوب په شاعرۍ کې چې کوم مکمل ابلاغ او اظهار دی، هغه ما د قلندر مومند نه سېوا ډېر کم پښتو شاعرانو کې لیدلی دی.

هغه د مجذوب د شاعرۍ په اړه زیاتوي: «تشبیه او استعاره د شاعرۍ ګاڼه ده خو د مجذوب فنکارانه کمال دا دی چې یو خو یې نوې نوې تشبیه¬ګانې او استعارې استعمال کړې دي او بل د شاعرۍ حسن یې دوچند کړی دی او بل خوا یې له دې دواړو د ابلاغ او د مکمل اظهار کار اخیستی دی. پورنیما د مجذوب ماشومه ورېره، د

ځنکدن په حال له تندې او درده بې قراره پرته ده. مجذوب د دې حالت ترجماني کول غواړي، د تشبیه کمال وګورئ.

د کب غوندې به لکې سترګې ځای کې تلېدله
ځاځکي شـان اوبـــو ته بـــه عاجزه کړېدله

(۷)

محب وزیر وايي: «مجذوب د طرزِ ادا او اسلوب په لحاظ خو رومانویت خپل کړی دی، ولې په فکري لحاظ هغه یو مترقي پسند شاعر دی، د هغه رومانونیت ترقي پسندی ته او ترقي پسندي يې رومانویت ته ورننوتې ده، نو د ده په شاعرۍ کې د هغه رومانوي رجحان او ترقي پسند فکر په خپله کې سره بېلول که ممکن نه دی، نو اسان هم نه دی.»(۲) د بېلګې په ډول: کله چې د «مس پروین» نظم لولو، نو د محب وزیر پورتنۍ خبره به مو ټیک ذهن ته را وګرځي .

زه د پورته پوهانو او لیکوالو نظرونو سره موافق یم، مجذوب په پښتو نظم کې یو پېژندل شوی نوم دی، هغه پښتو شعر ته نوی روح، نوې ژبه، نوي موضوعات او نوي نړۍوال تحریکونه راوړل. مجذوب د خپل فکر جوهر، تجربې او پنځونې په نظم او غزل کې وړاندې کړې دي، خو د نظم تله يې پر غزل درنه ده. د مجذوب نظمونه د کمیت او کیفیت له پلوه ډېر اوچت او جدید انداز لري، چې د ډېر خوږوالي او نوښت له کماله يې ځینې نظمونه انګلیسي ژبې ته په نظم کې ژباړل شوي دي، چې د نوموړي د ښې شاعرۍ ښه ثبوت کېدای شي.

زما د معلوماتو له مخې، تر دې دمه د مجذوب څلور شعري ټولګې (زېړ ګلونه، لعل او کُتي لعل، د مینې تنده او دارالاوهام) خپرې شوې دي، چې یادې ټولګې او د هغه نوره ناچاپه شاعري یو ځای په «د مجذوب کلیات» کې راټوله او په ۱۹۹۹م. کال چاپ شوی دی. دا چې دا کلیات د مجذوب په حیات کې چاپ شوی، نو نوې شاعري يې په ۲۰۰۸م. کال کې «د مجذوب کلیات – دویمه برخه» په ۱۲۴ مخونو کې چاپ شوې ده او له دې وروسته نوو شعرونو او نظمونو لیکلو او خپرولو په اړه يې معلومات نه لرم.

په یادو اثارو کې «د مینې تنده» د شیکسپیر د مشهور نظم «وینس ایډوینس» پښتو منظومه ژباړه ده، چې د مثنوي په قالب کې په ۸٦۸ بیتونو کې ژباړل شوی دی. مجذوب له شاعرۍ ورهاخوا علمي- څېړنېزې مقالې او لنډې کیسې هم لیکلې دي .

استاد زلمي هېوادمل په خپله مقاله کې د مجذوب د دوو نورو آثارو «د نور مظهرونه او دو آتشه» یادونه هم کړې او وایي چې په «دو آتشه» کې د قصه¬یي نظمونو منظومې پښتو ترجمې راغلي او همدارنگه مجذوب په لومړي ځل د «مروتو کسرونو» د متن سمون او تحشیه په ډېر زیار ترسره کړل او پر ۱۹۵۹م. دا مجموعه چاپ شوه او د پښتو ادبي څېړونکي لومړی پلا د کسرونو له نامه خبر شول .

مجذوب په پښتو معاصر ادب کې یو منفرد او د ځانگړي سبک لرونکی رومانسټ شاعر دی، اکثر لیکوال هغه د روماني شاعر په نوم یادوي، ځکه چې د هغه شاعري د رومانیت په خوږو را ټوله ده او د ده په شاعرۍ کې د سحر غوندې اغېز دی. که تاسې د مجذوب دا نظمونه ولولئ: «مس پروین، پورنیما، زېږ حسن، کوه مري، زما زړه انیا وه، د برگ بنین څښتن او شیخ بدین»، په دې نظمونو کې له روایاتو نه د بغاوت جذبه ده، په واقعاتو کې د تخیل رنگیني او ابهام دی، له پېړیو راهیسې راغلي قیوداتو نه آزاد سوچ، نوې نکته نگاه او فلسفیانه تجزیه ده؛ د لهجې پُر اسراریت دی او په تېره د شاعر د رسا ذهن جدیت او د هغه د ژور شخصیت انفرادي چاپ دی.( ۸)

مجذوب رومانوي اثر له انگرېزي شاعرۍ نه اخیستی دی، بلکې په شعوري ډول یې دا هڅه کړې ده چې د شلمې پېړۍ پښتو شاعري د نولسمې پېړۍ د انگرېزي شاعرۍ له سویې سره برابره کړي او په انگرېزي شاعرۍ کې هم هغه له شیلي، کیټس، بائرن او ورډزورتهـ نه زیات متأثره دی.

**د مجذوب روماني شاعري:**

د مجذوب په روماني شاعرۍ باندې خبرو نه مخکې د روماني شعر لنډ تعریف کوم : روماني شعر هغه شعر ته ویل کېږي چې د کلاسیکیت له ښکلا سره سره په رومانیزو زېوراتو، لکه فکري آزادي، د خیال ندرت، بغاوت، انفرادیت، منظرکشي او موسیقیت سمبال وي. (۱)

د دې نظم تر پایه لوستلو سره به د شاعر تنده، خیالي هیلې او بې کنټروله تخیلات درمعلوم شي، چې شاعر د دې نرسې څنگه مبتکرانه انځورگري کړې او د خپل کاري چاپېریال هغه حقایق یې بیان کړي چې د نننې انسان فطرت او په زړه کې خښې خبرې دي، خو اظهار یې هر څوک نه شي کولای.

منظرکشي په روماني شعر کې د طبیعت د ټولو موجوداتو په ځانګړي ډول د غرونو رغونو، صحراګانو، ځنګلونو، د سیندونو شرشرو، څپو او سیلیو او له اړوندو طبیعي منظرو څخه ډول ډول ذهني حسي او عیني تصویرونه جوړول د روماني شاعرۍ یو عمده خصوصیت ګڼل کېږي.

په «زلفې» نظم کې د مجذوب د منظرکشۍ قوت پوره په زور کې دی. د خپلې منظرکشۍ په ترڅ کې یې که یو خوا له مشاهدې نه کار اخیستی دی، نو بل خوا یې د مطالعې څرکونه هم په¬کې جوت کړي دي. مجذوب د زلفو مختلف مشابهتونه وړاندې کړي دي، کله ورته د ګمبیلي په دلن کې کیلې کیلې شګې د زلفو په رنګ لیدل شوې دي، کله ورته شاعر په خوا کې شنه لوخړه د خپلې محبوبې زلفې یادوي، کله ورته په سنبل او ریحان کې بدلې شي، کله ورته د افریقې ګڼ ځنګلونه د چا د زلفو سیورۍ ښکاري او کله ورته د ختکو له غرونو غونډۍ غونډۍ وربځ چې د لکۍ په لوري په شتاب را روانې وي، د زلفو عکس وړاندې کوي. د نظم په بین السطور کې اصل مقصد او پیغام د فطرت ښایست او ښکلا پېش کول دي، چې زمونږ پام یې ورته د محبوبې د زلفو په تناظر کې را اړولی دی. (۲)

چې د شپې زلفې وزانګي
تروږمۍ شي
د غره خوا کې له شاعر به شنه لوخړه شي را پورته
تور لوګی شي
ما ته ستا ګړګوتي زلفې را په زړه شي
بې قراره مې بدن شي
هر وېښته را باندې لک
لکه میږي شي
(۲)

د مجذوب په نظمونو کې «زبږ حسن، زبږ تصویر» ډېر لوړ نظم دی، په دې نظم کې د شاعر لوړ تخیلي ځواک او لفظي انځورګري کتلی شئ، دلته تصویرونه فزیکي وجود نه لري، بلکې له لفظونو یې تصویرونه جوړ کړي دي. په دې نظم کې پر منظرکشۍ سربېره د رومانیت نورې ځانګړنې شته. د مجذوب په ځینو شعرونو کې کله کله په دې

پوهېدل هم سخت وي، چې د دې شننه اوس څنګه وکړو. د دې نظم متني سپړنه نعمت الله صديقي ډېره ښه کړې ده. په دې نظم کې د الفاظو دومره رنګيني پرته ده، چې يواځې په همدې يو نظم ليکنې کېداى شي. پيل يې داسې شوى دى :

دا تصوير دې څله پنځولى ده

رنګ دې دومره زېړ ولې ورکړى ده

ظلم مصوره درنه شوى ده

رنګ خو د ګلابو په ګلشن کې و

رنګ په فلک خور د شفقونو شته

رنګ خو د آفتاب د الوانونو شته

يو کرښه دې بله کرشولې وى

څړيکه دې د لمره شوکولې وى

فن سره دې بخل ولې کړى ده

رنګ دې دومره زېړ ولې ورکړى ده

ظلم مصوره درنه شوى ده

(۹)

«نقشې» د مجذوب بل نظم دى. په دې نظم کې هغه د خپل ماضي منظرکشي کړې ده، د خپلې مينې او عشق انځورګري يې په ډېر ښکلي روماني انداز انځور کړې ده، زړه راښکونکې مصوري يې کړې، حسن او جمال يې اوس هم د هوس او ضمير دروازې ټکوي، دغه تېر ياد دى يو ډول د مازوخېزم( رماني اختلال) حالت کې را ايسار کړى دى او د ډېر عجيب کيفيت احساس بيانوي .

ماضي پرستي د رومانويت حصه ده. کله کله رومانوي شاعران له ماضي نه هغه کردارونه او واقعات را اخلي، کوم چې د خپل وخت د مروجو عقيدو او قاعدو په خلاف د مزاحمت علامتونه ګڼل کېږي او په داسې رنګ يې وړاندې کوي چې د شاعر د خپلې زمانې رسمونو، رواجونو، روايتونو، عقيدو، توهماتو او قاعدو په وړاندې کلک ودرېږي او په ولس کښې[کې] جوش او مستۍ د را اوچتولو او مزاحمت ته د تيارولو سوب ورګرځي . د مجذوب په نظمونو کښې ماضي پرستي يا تاريخي شعور ښېخي ډېر جوت دى، هغه د وړاندې تګ په دوران کښې[کې] قدم قدم په شا کتلي دي او د

خپل ماضي او خپل تاريخ نه يې کومک اخيستی دی. (شيخ بدين غره ته خطاب، د مروتو اپالو ته خطاب، د رمې شپونکيه څه شوې، پښتو ته، د آزادۍ ښاپېرۍ ته او نور) دا قسمه نظمونه مونږ ته په لاس راځي.

په دې نظمونو کې «د رمې شپونکيه څه شوې؟» خان عبدالغفار خان ته هغه مهال ويل شوی، کله چې هغه زندان کې و. د دې نظم له عنوانه ښکاره معلومېږي چې شاعر د پښتنو هغه ستر رهبر او د سر سړي ته غږ کوي چې په هغه خپل ټول ټبر او ولس راټول و. هغه په رښتنيې معنا يو داسې مشر او پښتون و، چې د پښتون ولس ډېر ناخوښ او بې¬ځايه روايتي مسايل يې نفي کړي وو، پښتون ته يې د نړۍ نوي دور د ژوند اصولو درس ورکاوه، هغه يې د کاروبار، اقتصاد، تعليم، نړۍ سره سيالۍ او په هغو مسايلو باندې يې پوهاوه چې د هغه وخت پښتون ترې يا ناخبر و، يا يې ځان ته شرم باله. شاعر شپونکي (رهبر) پسې غږ کوي چې ته څه شوې؟ له رمې(پيروپانو) دې بيا لاره غلطه ده، بيا تار په تار شوه، د رڼا لار ترې ورکه ده، په تيارو يې سر دی، ته چېرته د غفلت په خوب ويده يې، ولې مې غږ نه اورې.

د دې نظم پيل په دې بيتونو شوی دی :

نمر خو لاړو مازيگر شو لوگه درگه وران گودر شو
د رڼـــا پـانـه زيړيږي ورځ مـرگـونـې معـــلوميـــږي
په مخ شپه خوف و خطر دی د شرمخو شور و شر دی
زمـــا دوه ستـرگې ځلور دي په کتو کتو اوبـه شوې
ولې ته را ښکاره نشوې د رمې شپونکيه څه شوې؟

(۹)

په «پښتو ته» نظم کې په تېر تاريخ کې د پښتنو غفلت او آواره گۍ ته اشاره کوي، د خپلې ژبې په اړه حسرت کوي، چې پېړۍ پېړۍ د پښتنو د ډېرو سترو پاچاهانو په دورو او واکمنيو کې، ته بيا هم هماغسې خواره پرته يې. پښتو يواځې ژبه نه ده، بلکې پښتو د يوه ستر قوم هويت، کلتور، فکر، مېړانه او د نړۍ په تاريخ کې د يوه پېژندل شوي ستر ملت جوت نوم او د آسيا زړه دی، چې ټوله نړۍ ورته په ځانگړي ارزښت قايله ده. زه د دې نظم څو بيتونه دلته راوړم:

زما پښتو زما شيرينې پښتو

غم مې دې وچې کړلې وينې پښتو
تا سره خوا کې بادشاهان تېر دي
آهم له تا نه غافلان تېر دي
مغلو هر څه دي لوټلي د تا
کالي يې واړه دي ايستلي د تا

(۹)

په مينه کې عاشق په يو عجيبه کيفيت کې وي. د دې مينې کيفيت او د عاشقانه رمز اظهار شاعر په لاندې شعر کې په ډېر ښکلي انداز کړی دی:

په نه ليدو يې تر ليدو ښه يمه
مينه کې داسې مرحلې راغلې
ستا له حياناکو سترگو وگرځم
خپله ست کوي خپله منکرې شي

(۱۰)

مجذوب په خپله څلورمه ټولگه «دارالاوهام» کې نوې ډول شاعري کړې ده، په دې ټولگه کې يې روماني تصوف ليدل کېږي. ځينو ليکوالو د ده تصوفي شاعرۍ په اړه هم ليکل کړي او د ده په شعر کې د وحدت الوجود تصوفويني او وايي چې تصوف يې هم روماني دی. چې «ما ته نه و پېژندلی، کارساز، ياران، باغ، ماشوم او...» يې ښه مثالونه ورکوي. دا شاعري چې لولې، ربښتيا هم انسان احساس کوي چې تصوفي شاعري هم ډېره ښکلې او له رومانيته ډکه ده. خو مجذوب خپله په يوه مرکه کې وايي چې: «زما په شعر کې ربښتينی تصوف نشته، بلکې زباني يا د الفاظو تصوف په کې دی، زه صوفي شاعر نه يم.»(۱۱) دلته يې د نمونې په ډول يو څو شعرونه راوړم . مجذوب په «معمه» نظم کې د انسان د راتگ په اړه پوښتنه کوي، په کوم لور روان دی، چېرته ځي، څه کوي...؟

گل له کومه را ټوکېږي
کوم خوا لاړ شي او رژېږي
ورځې شپې ولې بدلېږي

د گل تخم کې گل چېرته دی څه چل دی
دا عقده لږه راته وا کړه
د دې غوټې چېرته ول دی
(۱۰)

بل ځای وایي:

د هجر د وصال قصه ده ډېره مختصر
موجود و په هر ځای چې کوم مکان ته رسېدم
((
دا د وجود دی چې رڼا پکې جوته شوه
ودې ښایي څوک دی دا رڼا ته پته نه لګي
(۱۰)

له خپل خالق سره د تلپاتې مینې اظهار په ډېر عجیب انداز کوي:

خدای خبر دی چې دا مینه به په څه مري
عزرائیل به ومري مینه به ونه مري
(۱۰)

یا وایي:

فرق د ظاهر او باطن دغه وه
پټ چې له سترګو شه نزدو راغی
(۱۰)

## پایله

معاصره نړۍ ورځ تر بلې د نویوالي او موډرن کېدو خوا ته زور څه چې چټک ګامونه اخلي او اخیستي یې دي، په ټولو علومو، فنونو او هنرونو کې ډېر پرمخیون شوی او لا هم چټک مزل کوي، خو زموږ غوندې دربیمه درجه ملتونه له دې کاروانه په ټولو برخو کې ډېر وروسته پاتې یو او په هیڅ لحاظ له دوی سره د سیالۍ جوګه نه یو. منظور دا دی که له دوی سره په ټولو برخو کې په یوه صف کې نه شو درېدلی، لږ تر لږه په شعر او ادب کې خو پسې ګامونه اخیستلی شو، یعنې نړۍوال ادبي غورځنګونو په صنف کې باید د یوه لایقه او چمتو شاګرد په توګه خو لاس اوچت کړو. لکه څنګه چې د پښتو

رومانسټ شاعر عبدالرحیم مجذوب نن د رومانټسېزم په غورځنګ کې لاس پورته کړی دی. اوس د کلاسیکیت دور تللی دی، رومانټسېزم، کوبېزم او نورو نوو حرکتونو ته ترجیح ورکول په کار دي .

رومانټسېزم او نور نړیوال غورځنګونه، چې له هر ځای یې سرچینه اخیستې وي، د تل لپاره هماغه ځای او اشخاصو پورې محدود نه پاتې کېږي، بلکې د هرې ټولنې وګړو چې ښه رنګ او سینګار ورکړ، نوښت او تخلیق یې په کې وکړ، ښه ریاضیت او مزل یې په کې وکړ، بیا یې صاحب همدا خلک بلل کېږي، بیا د دې غورځنګ په سرخېلانو کې د همدې ټولنې او وګړو نومونو یادېږي. د خپلې خبرې د اثبات لپاره له موضوع بهر یوه ښه مثال وړاندې کوم. د کرېکټ نړیوالې لوبې ایجادګر انګلستان دی، خو په نړیوال کچ دا لوبه اوس هندوستان خپله کړې ده او له نېکه¬مرغه افغانستان هم په ډېر لنډ وخت کې په دغه نړیوال ډګر ځان ثابت کړ .

د رومانټسېزم ادبي غورځنګ د ایجاد مرکز هم انګلستان دی، خو نن د نړۍ د هېوادونو وګړو دغه غورځنګ ته نړیوال نوم ورکړی چې له نېکه¬مرغه پښتو ادب کې هم د مجذوب په نوم یو ستوری شته چې نن یې د خپل شعري وړتیا له کبله په دغه غورځنګ کې پښتو ته غړیتوب ورکړی دی .

مجذوب د پښتو معاصر ادب د رومانټسېزم مکتب په سرلارو او هنرمندو شاعرانو کې یو مخکښ شاعر دی، د ده شعري کیفیت او سبک له نورو جلا رخ او رنګ لري. د ده په ځینو شعرونو کې مو د رومانټسېزم په ځانګړنو خبرې وکړې. دا چې شاعري یې لکه د نورو شاعرانو په اوس وخت کې یا ډېره رسنیزه او بحث شوې نه ده او یا د لیکوالو او څېړونکو ور پام شوی نه دی؛ ښایي یو لامل یې دا وي چې د مجذوب د شاعرۍ په مختلفو اړخونه باندې هومره بحث نه دی شوی، چې باید شوي وای، خو بیا هم د لرې پښتونخوا ځینو محدودو لیکوالو پرې لیک او بحث کړی دی. د دې بل دلیل دا هم کېدای شي چې د ده په شعر کې سیمه¬ییزې کلمې او خپله مروتۍ لهجه ډېره کارولې او دا به لوستونکو او لیکوالو ته یو څه د ابهام لامل شوې وي. په ډېرو لهجوي کلماتو یې زما سر هم نه خلاصېده، خو ځینو شعرونو ته یې ښکلا ورکړې ده او د دې بله ګټه دا ده، چې د یوې سیمې او قبیلې هغه سوچه کلمې او توري په شعر کې ښه خوندي کېږي، چې له دې سره د ژبې لغوي پانګه هم زیاتېږي .

په هر صورت د مجذوب روماني فکر د ده په شعر کې داسې جوت دی لکه د شودو په سر پېروی. نور درنه د مجذوب په دې بیتونو سره اجازت اخلم چې :

د زنې خال دې د خلیل نخښه ده
چې ورسره چاه د زمـزم وختـو
زمـانه قــدر د چــا څـه پېـژني
هر ځـای یوسف په بها کم وختو

(۱۰)

## مأخذونه


۱- ځپانــــد، عبــــدالجبار، رومـــــاني سرود، ۱۳۹۷هــــــ.ش کــــال، سروش کتابپلورنځی- کابل، ۱۰، ۳۸، ۳۹ مخونه.

۲- وزیـر، محـب، د مجـذوب د شـاعرۍ تنقیـدي مطالعـه، ۲۰۰۹م. کـال، باچـا خان ریسرچ سنټر- پېښور، ۱٦، ۱۸، ۳٦ مخ.

۳- عمیـد، حسـن، فرهنـگ فـارسي عمیـد، نهـه ویشـتم چـاپ، چاپخانـه سـپهر: تهران، ۱۳۸۳ لمریز کال.

۴- آزمــون، لال پاچــا، شــعرپوهنه، ۱۳۹۹هــ. ش کــال، د افغانســتان د علومــو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، ۱۹۲مخ.

۵- خویشـکی، سـیدالامین حسـن، عبـدالرحیم مجـذوب ژونـد، شخصـیت او فـن، د ۲۰۲۰م. جولای ۲۸، وحدت ورځپاڼه، پېښور.

٦- خټــک، اقبــال نســیم، د مجــذوب انفرادیــت، ۱۹۸۴م. کــال، پښــتو مجلــه، پښتو اکیډیمي، پېښور پوهنتون، ۵، ٦ مخ.

۷- مجــذوب، عبــدالرحیم، د مجــذوب کلیــات، ۱۹۹۹م. کــال، دانــش کتــاب پلـورنځی، پېښـور، د کتـاب پـر شـا پښـتې بانـدې د شـېر زمـان طـایزي نظـر، ح او ط مخونه.

۸- مجــذوب، عبــدالرحیم، د مجــذوب کلیــات، ۱۹۹۹م. کــال، مجــذوب د پښــتو گیټس، د رحمت الله درد لیکنه، و مخ.

۹- مجـــذوب، عبـــدالرحیم، د مجـــذوب کلیـــات، ۱۹۹۹م. کـــال، ۱۱، ۴۵، ۵۱، ٦۵ مخونه.

۱۰- پورتنی اثر، د داراهام برخه، ی، ۳۲۳، ۲۹۵، ب، ۳۲۴، ۳۷۸ مخونه.

۱۱- /https://www.mashaalradio.com/a/٦٤٦٥٦٢٥٢html.

څېړندویه نازو کمال

# په وروستۍ نیمه لسیزه کې د ځینو لنډو کیسو موضوعي او تخنیکي شننه

# Thematic and technical analysis of short stories in the last half decade

**Assistant Prof. Nazo Kamal**

## Abstract

The short story of each era has its own characteristics. Thematic and technical changes are also felt in the short stories of the last half decade. The story writer has made all kinds of topics part of the short story, which is a difference and a positive change from the previous and current stories. Also in the technical section, current short stories have gone through stages of development, considered on based of the volume of the article, if not in all section, then some sections have been discussed and examples are given.

## لنډیز

د هر دور لنډه کیسه خپلې ځانګړنې لري. د وروستۍ نیمه لسیزې یا وروستیو پنځو کلونو په لنډو کیسو کې هم موضوعي او تخنیکي بدلونونه محسوس دي. په اوسنۍ لنډه کیسه کې تر هر بل وخت موضوعي رنګارنګي ډېره لیدل کېږي، پخوا په شعر کې هر ډول موضوعات بیانېدل، اوس په لنډو کیسو کې هم هر راز موضوعات بیانېږي چې له پخوانیو کیسو سره یې یو توپیر او مثبت بدلون همدا دی. همدارنګه په

تخنیکي برخه کې هم اوسنۍ لنډې کیسې د پرمختګ پړاوونه وهلي، یا یې وهي چې د مقالې حجم ته په کتو، که په ټولو برخو نه وي، نو په ځینو برخو یې بحث شوی او بېلګې یې هم وړاندې شوې دي.

## سریزه

هر کله چې په یوه ژبه او ادب کې کوم نوی فورم یا ژانر رامنځ ته کېږي، یا له کومې بلې ژبې څخه یوې ژبې ته داخلېږي، یا به په ډېر ابتدایي حالت کې وي، یا به ځینې نیمګړتیاوې لري، خو د هماغه وخت یوه غوره لاســته راوړنه به هم ګڼل کېږي. لنډه کیسه هم همداسې ده چې له اردو ژبې څخه پښتو ته د ژباړې له لارې راغلې ده. که موږ د وروســتۍ نیمه لســیزې کیســې وڅېړو، نو بارز توپیرونه په کې احساسولی شو چې په دې علمي ـ څېړنیزه مقاله کې پرې بحث شوی دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

پر لنډو کیسو ډېر آثار لیکل شوي دي، خو داسې کار مې تر سترګو شوی نه دی، چې په وروستۍ نیمه لسیزه کې د لنډې کیسې پرمختګونه او بدلونونه راته په ګوته کړي، نو د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د وروستي وخت د لنډو کیسو بدلونونه او پرمختګونه څرګندوي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې هدف په وروستۍ نیمه لسیزه کې د لنډو کیسو پرمختګ او دا په ډاګه کول دي، چې په وروستۍ نیمه لسیزه کې پښتو لنډې کیسې په موضوعي او تخنیکي لحاظ څومره پرمختګ او بدلون کړی دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ لنډه کیسه څه ډول ژانر دی؟

۲ـ په وروستۍ نیمه لسیزه کې د لنډو کیسو موضوعات څه دي؟

۳ـ په وروستۍ نیمه لسیزه کې په پښتو لنډه کیسه کې د تخنیک له پلوه کوم بدلونونه رامنځ ته شوي دي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي ـ تحلیلي او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتوده هم استفاده شوې ده.

## د مقالې متن

هنر هم تخلیق دی او هم تفریح، لنډه کیسه چې د هنري ادبیاتو مهم ژانر دی، اوسنۍ بوختې زمانې ته په کتو کیسه هم بهترین تخلیق دی او هم د وخت د تېرولو لپاره تر ټولو غوره تفریح ده چې ډېر لوستونکي او مینه وال لري. کیسه له پیدایښته تراوسه په یوه حال پاتې نه ده، په هر پړاو او هر دور کې یې پرمختګ کړی دی. که موږ د هر دور کیسې ولولو، تر منځ به یې ډېر توپیرونه حس کړو. دا توپیرونه هم په تخنیکي او هم په موضوعي لحاظ د بحث وړ دي. د ادبیاتو د هرې پدیدې په څېر د لنډې کیسې د پېژندنې په اړه هم پوهان په یوه خوله نه دي، څوک یې یو ډول او څوک یې بل ډول تعریفوي. عبدالله الهام جمالزی د لنډې کیسې د پېژند په اړه لیکي: ((د یوې ځانګړې موضوع په چورلیځ، د سره تړلیو پېښو نثري روایت دی چې د لوستونکي د راکښلو په موخه په کې د په زړه پورې پیل، ښه تصویري روایت، کښښ، غوټو او په زړه پورې پای په څېر د لیکنې ځانګړي میتودونه کارول کېږي.)) (۱۰)
څېړنوال سید نظیم سیدي لنډه کیسه داسې تعریفوي: ((لنډه کیسه هغه هنري نثر دی چې په لږو الفاظو کې ډېرې خبرې وکړي او دومره اوچت پیغام وړاندې کړي چې لوستونکی پر اغېزمنېدلو سربېره پرېکړې کولو ته هم اړ باسي...)) (۱۵: ۱۹۲ مخ)

یو تعریف یې دا هم دی: ((لنډه کیسه هغه اثر دی چې په هغې کې لیکوال د یوې منظمې طرحې په مرسته یو اصلي شخصیت یا کرکټر په یوې اصلي پېښه کې څرګندوي او دغه اثر په ټولو یو ډول اغېزه کوي.)) (۱۸: ۳۸ مخ)

پورتنۍ پېژندنې مو څه نا څه له لنډې کیسې سره اشنا کوي. لنډې کیسې ته که هر ډول تعریف وکړو، خو په اوسني وخت کې د کیسې تر پېژندنې ورهاخوا د کیسې عناصر ډېر د بحث وړ دي. نن سبا ښایي کم کسان ووایي چې لنډه کیسه څه ته وایي؟ خو ډېر کسان په ځانګړي ډول کره کتونکي د کیسو پیل، منځ، پای، کرکټرونو، ډیالوګونو، تصویري ژبې او نورو ته پام کوي. په پښتو ادبیاتو کې له پیله د شعر برخه زیاته وه، د نثر په ځانګړي ډول داستاني ادب ته ډېر پام نه کېده، خو له هغه وخته

چې لنډه کیسه پښتو ادب ته داخله شوې ده، له پیله یې تر اوسه بېلابېل پړاوونه وهلي دي، چې په اوسني وخت کې د لنډې کیسې لیکوال او لوستونکي لا ډېر شوي او اوسنۍ کیسه نه یواځې په موضوعي، بلکې له تخنیکي اړخه هم د پام وړ ده. د ټولو کیسو څېړل بې له شکه چې د یوې مقالې له وسه وتلې خبره ده، خو په دې علمي څېړنیزه مقاله کې پر هغو بدلونو بحث کېږي چې یا د لوستلو پر مهال ورسره زه مخامخ شوې یم، یا هم هغه بدلونونه دي چې ډېر محسوسېږي.

په هره ژبه کې نوی ایجاد خامخا نیمګړتیاوې لري، د هماغه ایجاد یا ژانر ټولې ځانګړنې به نه شي پوره کولی. پښتو لنډه کیسه پړاو په پړاو مخکې تللې، پخوا یې که ډېرې نیمګړتیاوې لرلې، نن سبا دغه نیمګړتیاوې په کمېدو یا هم بشپړېدو دي، خو بیا هم په هر زمان کې ایجاد شوې کیسه د هماغه وخت غوره هڅه بلل کېدای شي، ځکه که هغه کیسې نه وای، اوس به پښتو لنډې کیسې دومره پرمختګ هم نه وای کړی.

یو وخت مو په کتابونو کې د شعر په اړه دا خبره ډېره لوسته، چې د فلاني شاعر، یا د فلاني دور په شعرونو کې هر ډول موضوعات موندلی شو، نن سبا د داستاني نثر یا د لنډې کیسې په اړه هم د دې خبرې جرات کولی شو. د اوسني وخت د لنډې کیسې یوه غوره ځانګړنه د موضوع رنګانګي ده، موږ د هېواد د روانو حالاتو ترځنګ، بېلابېل فکرونه، لیدلوري، فردي تجربې، خوښۍ، ستونزې آن تر دې چې د نړیوالو تجربې، مشاهدې یا په ټوله کې د نورې نړۍ د ژوند تجربې هم په پښتو لنډه کیسه کې لوستلی شو. لومړی به د لنډې کیسې پر موضوعي اړخ بحث وکړو. زموږ د جنګ ځپلي هېواد او خلکو په اړه یوه خبره چې نن سبا یې ډېره اورو، دا ده چې افغانان نور له جګړې سره عادت شوي دي. هر هغه حالت چې انسان بیا بیا ورسره مخامخېږي، ورسره عادي کېږي، همدا خبره په یوه نوې بڼه داسې لولو:

((ـ زه افغان یم، له جنګ سره عادت شوی.

ـ له جنګ سره څوک نه روږدي کېږي، هغه چې ځان ورسره عادت بولي، ځان غلطوي.)) (۲ : ٦۳ مخ)

په پورتني ډیالوګ کې بیان شوی مفهوم نن سبا په خبرو کې ډېر کارېږي، خو په داسې نوې بڼه به مو په لنډو کیسو کې نه وي لوستی. افغانان له جګړې سره لاس و ګرېوان دي، په دې لنډه کیسه چاودنه نه شته، د وینو بهېدا نه شته، بوږنوکي حالات

نه راباندې ويني، خو په دې مو پوهوي چې زموږ خلک له څه ډول حالت سره مخامخ دي او په عين حال کې دا هم راته وايي، چې هېڅوک له جګړې سره نه عادتېږي، بلکې په هر حالت کې انسان ته جنګ او پېښې يې د زغم وړ نه دي. ښايي تر دې دمخه دا موضوع په دې بڼه په لنډو کيسو کې تر سترګو نه شي. يوه بله موضوع چې نن سبا ډېره زموږ د لنډو کيسو برخه ده، هغه نوې ټکنالوژي او ټولنيزې رسنۍ دي. ډېرې لنډې کيسې شته چې ټوله موضوع يې پر ټولنيزو رسنيو راڅرخي. يوه کيسه د (زندان) په نامه راوړو چې د ټولنيزو رسنيو پر يو ډول يعنې (فېسبوک) راڅرخي:

((ـ په نوم دې فېسبوک کې اکونټونه جوړ شوي، خبره يې؟ هېڅ مې ونه ويل، وځورېدم، موبايل مې ترې بند کړ. دستکول مې راواخيست، د کور مخکې پارک ته لاړم. د شنو بوټو تر څنګ کېناستم، په پاڼو يې ګردونه پراته وو، لمس مې کړل. مخامخ څو هلکانو به ماته ګوته ونيوله، بيا به يې خپل منځ کې خبرې وکړې. پېغلې په خندا راغلې.

ـ کولی شو درسره عکس واخلو؟ غلې شوم، پاڅېدم. لمن مې څنډ وهله، کور ته راغلم، ترله مې راغلې وه، خوشاله وه، غېږ يې پرانيستې وه.

ـ نجلۍ خدا اوس به زموږ سلام اخلې کنه؟ موسکه شوم، ورغاړې وتم. د شهرت زندان مې يواځې ما احساساوه.)) (۱۱ : ٦٩مخ)

پورتنۍ لنډه کيسه د ټولنيزو رسنيو ناسمه کارونه انځوروي. د چا له اجازې پرته د خلکو په نومونو د فېسبوکي اکونټونو جوړول، خلکو ته يوه لويه ستونزه او سرخوږی دی چې ډېر خلک ورسره مخامخ دي، نو ليکوالې د ټولنيزو رسنيو دا ستونزه د کيسې په بڼه ټولنې ته وړاندې کړې ده، ښايي دغسې موضوعات پخوا زموږ د کيسو برخه نه وه، يعنې د اوسنۍ ټکنالوژۍ او ټولنيزو رسنيو منفي او مثبتې خواوې هم اوس زموږ د کيسو منځپانګه جوړوي. پښتو پخوانۍ لنډې کيسې په ټوله کې پر لويو ستونزو يا مسايلو راڅرخېدې، لکه: جنګ، جګړې، چاودنې، مهاجرت، خان، ملک، مزدور، مينه او مينه ييزې کيسې هم په دې ډول پنځول کېدې چې خوار، غريب يا مزدور به د مالدار يا خان پر لور مينېده او پايله به يې تراژيدي وه، خو پياوړی يا ځيرک کيسه ليکوال هغه دی چې د ژوند ډېرو وړو شېبو ته تم شي، وړې شېبې او فردي تجربې د کيسې په چوکاټ کې ځای او لوستونکو ته وړاندې کړي، ځکه د هر شخص فردي تجربه جلا او نوې وي، لوستونکي هم نوي موضوعات يا تکراري موضوعات له نوي زاويې خوښوي. د صفيې وردګ د يوې کيسې برخه رااخلو:

((ـ هر څوک کیسه لري.

ـ ډېر پرې غلي دي.

ـ ځینې یې وایي، له ځینو پاتې کېږي.

ـ ځینې کیسې د ویلو نه دي.)) (۱۹)

د انسان ژوند لکه داستان داسې دی، ډېرې ویلې نا ویلې لري، انسان رښتیا هم د خپل ژوند هره پېښه له چا سره نه شریکوي، پورتنۍ بېلگه همدا مسأله رانغاړي، ښایي داسې مسایلو باندې خلک بحث وکړي، خو د کیسې په چوکاټ کې به چا نه وي بیان کړي، نو نن دا او دې ته ورته موضوعات په لنډو کیسو کې لوستلی شو. د یوې بلې کیسې (د مړي په ورځ مینه) یو پاراگراف دی:

((د هغه تر څنگ د مرمرو ډبرې ته یوه کس څټک او میخ نیولي وو. ډبره یې توږله، د قبر شناخته یې جوړوله. یو خړ سپی بې انرژۍ پروت و. یوه سترگه به یې خلاصه کړه، لکۍ به یې ښوروله، لکه د ژوند شاهدي چې ورکوي. له هدیرې وتلی وم، د شیشو له یوې ودانۍ د موسیقۍ غږ راته. واده و، ژوند روان و.)) (۷ :۱۰۱ مخ)

یو انسان چې له دې نړۍ څخه سترگې پټې کړي، ژوند نه درېږي او پر مخ ځي، پورتنۍ کیسه پر همدې موضوع راڅرخي. بله لنډه کیسه ده: ((خوشحاله وم، مخکې به یې پلاستیک خرڅاوه، اوس کتابونه پلوري. ما هم ټول ترې واخیستل، غوړۍ مې ببرته کړه، د موټر په لور روانه شوم. د شا له لمنې کش شوم، وډاره شوم، مخ مې ورواړاوه. معصوم و، قلم یې راته په گوتو کې نیولی و. په ډاډ یې وویل: مور مې راته ویل که هر چا له دریو کتابونو ډېر واخیستل دا قلم ورکړه.)) (۱۱ : ۳٦ مخ)

د کتابونو خرڅول، د زیاتو کتابونو په پېرلو د قلم ډالۍ کول، هغه هم د داسې یو ماشوم له خوا چې پخوا یې پلاستیکونه خرڅول، یوه په زړه پورې موضوع ده، په پخوانیو لنډو کیسو کې د دې ډول موضوعاتو بیان کم سیاری دی. په دې لنډه کیسه کې یې د ټولنې د پرمختگ انځور وړاندې کړی دی. په وروستۍ نیمه لسیزه کې د لنډې کیسې لمن ډېره پراخه شوې ده، هر ډول موضوعات په کې بیانېږي، اوسني لیکوالان د نورې نړۍ له ادبیاتو سره تر پخوا ډېر اشنا دي، ژباړې ډېرې کېږي، له ټکنالوژۍ او ټولنیزو رسنیو سره بلد دي، نو زموږ د لیکوالانو لید لوري هم پراخ او لا دقیق شوي دي، آن تر دې چې د ژوند ډېرو وړو شېبو او تجربو ته هم تم کېږي، پښتو

لنډو کیسو ته یې هم د نړیوالو تجربې را انتقال کړي دي. دلته یې ځینې بېلګې بیانوو: ((ـ تا یو وخت نه ویل چې مور و پلار ته ډېر نه ورځم؟

ـ همدغه مشکل دا ګلونه راباندې اخیستي دي، ډېر وخت وشو چې نه یم ورغلی، اوس که له ګلونو سره ورشم، بیا ګیلې مانې نه کوي، نازوي مې. کله چې لږ ژر احوال پرې اخلم، بیا ګلونه نه وروړم.

ـ چې له رشوت سره ځې، له رشوته ځان خلاصوه، لږ ژر ژر حال پرې اخله.

ـ کله چې ورځم بیا مې لاس نه درېږي، کور ورته پاکوم او د همدې لپاره په ځنډ حال پرې اخلم چې مه کوه، خپله کور پاک کړي.

ـ مور و پلار خو یو څه حق لري. هاول یو څه جدي شو:

ـ زه هم د حق لپاره ژر نه ورځم

ـ فکر کوئ حق یې داسې ادا کېږي؟ هاول سر وخوځاوه، بیا یې وویل:

ـ کله چې په ځنډ ورځم، دوی خپل کارونه په همدې موده کې خپله کړي وي، دوی زاړه دي چې څومره ډېر ګرځي، هغومره به تر ډېرو راته ژوندي وي.)) (۳ : ۸۲ مخ)

مور ډېر اورېدلي چې په نوره یا غربي نړۍ کې اولادونه د مور و پلار په درد نه خوري، جلا ترې اوسېږي، هر څوک په خپل ژوند کې بوخت وي، آن دا چې هېڅ د مور و پلار په کیسه کې نه دي، خو دې کیسې یې بل ډول انځور وړاندې کړی دی، زوی د مور و پلار احوال په ځنډ اخلي، که ژر ورځي، د کور کار ورته کوي، مور و پلار یې له ډېرې ناستې ناروغېږي، دی په ځنډ ورځي چې مور و پلار یې خپل کارونه وکړي، حرکت ولري او تر ډېره ورته ژوندي وي، یعنې دا کیسه د بهرنیانو داسې انځور راته کاږي چې له پخوا اورېدل شوی نظر مو بدلولی شي. بل مثال دی چې لاره بنده وي، د کیسې کرکټر له موټره کښته کېږي او له دوکاندارې یې علت پوښتي:

((لاره ولې بنده ده؟ د پولیسو د موټر خواته یې اشاره وکړه:

ـ مخکې هلته موټر یو سړی وواهه

ـ سړی ډېر ژوبل شو؟ دوکاندارې خپلې وړې شنې سترګې سره وروستې: ګومان نه کوم چې ژوندی به پاتې شوی وي، ځکه چې د موټر بانټ ته راپورته شو او بیا سړی له مخکې نژدې دوه متره اوچت شو او کلک پر سړک ولګېد....

ـ نو موټروان ملامته و؟

ـ نه پوهېږم پولیسو تر اوسه څه نه دي ویلي.

ـ ستا له نظره څرنګه څوک ملامته وو؟

ـ زه څه پوهېږم، موټر تېز ښکارېده، سړی یې وواهه.

ـ دغه تېز تګ په خپله ملامتي نه ده؟!

ـ دا به پولیس معلومه کړي چې څه خبره ده.)) (۳ : ۱۰۱ ـ ۱۰۲ مخونه)

که څه هم دوکانداري موټر لیدلی و چې تېز و او یو کس یې وواهه، بیا هم د پولیسو تر څېړنو مخکې خپل قضاوت او پرېکړه نه کوي، خو زموږ په څېر هېواد کې بیا تر څېړنو او رښتیا معلوملو مخکې هر څوک خپله فیصله اوروي او آوازې خپروي، دلته ځکه دا متل کېږي (چې رښتیا راځي، دروغو به کلي وران کړي وي)، په دې کیسه کې لیکوال د لنډې کیسې له لارې د نورو نړۍ یوه مثبته تجربه رالېږدوي. پخوا به ویل کېدل چې ژباړه فرهنګونه سره نږدې کوي، یا د دوی کلتور او نور مسایل راپېژني، خو اوس په پښتو لنډو کیسو کې د بهرنیانو یا د نورو نړۍ د وګړو تجربې رااخیستل هم د دوی کره وړه، فرهنګ او نور راپېژني، نو همدا وجه ده چې پښتو اوسنۍ لنډه کیسه د موضوعاتو له پلوه ډېره غني او تر هر بل وخته اوس د موضوعاتو رنګارنګي په کې محسوسېږي، یعنې زما په اند تر سیاسي او ایډیالوژیکو مسایلو چې ادب ته شعاري بڼه ورکوي، نن سبا د لنډو کیسو لیکوال ټولنیزو مسایلو ته ډېر پام کوي.

بل بحث د وروستۍ نیمه لسیزې د لنډې کیسې تخنیکي پرمختیا ده چې پښتو اوسنیو لنډو کیسو د تخنیک له پلوه څومره او څه ډول پرمختګ کړی دی؟

که د وروستۍ نیمه لسیزې کیسو ته تم شو، نو دا جوتېږي چې د تېرو وختونو په پرتله لنډې کیسې ډېرې لنډې شوې دي، یعنې دا لنډون یو بدلون کېدای شي، البته د الفاظو کموالی یا د لنډو کیسو لنډون ښايي ډېر کسان پرمختیا ونه ګڼي، خو اوسني بوخت وخت ته په کتو یې د کیسو پرمختګونو او بدلونونو کې شمېرلی شو. مثلاً: ((د نغري په ایرو یې ځان غلطاوو، کرښې یې په کې ایستلې، د خوابښې خبره یې په ذهن کې تله راتله او له شرمه ډکه موسکا به یې په څېره کې څرګنده شوه.

ـ خان سبا راځي.

ناڅاپه وښوربېده، لکه ډاروونکی خوب یې چې لیدلی وي. سترګې یې رډې، رډې ووتلې. شونډې یې سپېرې شوې، ایره یې موټې کې کلکه کړه. له چپې سترګې یې

اوښکه تر اننګي راغله. د خوابښي له غږ سره یې زرغون پړونی سم کړ. توره لمن یې ور ټوله کړه. ډار یې زړه ته لار وکړه، خوابښي یې ویلي و، که دا وار یې هم څه ونه شول، خان ته بل واده کوي.)) (۱۱ : ۲۷ مخ)

پورتنی کیسه ډېره لنډه ده او زموږ د ټولنې یو اړخ یې په خورا ښه ډول بیان کړی دی، یعنې په کمو الفاظو کې خپل مطلب په ښه ډول تر لوستونکو رسولی شي، نو ویلی شو چې لنډې کیسې لا د لنډون خواته روانې دي او لوستونکي هم لنډون خوښوي. پخوا زموږ د لنډو کیسو اتلان د هېواد مېشتې څېرې وې، خان، ملک، مزدور، ملا او د وطن هر ډول وګړي د کیسو کرکټرونه وو، نن د نړیوالو تجربو ترڅنګ بهرنی څېرې هم زموږ د کیسو په کرکټرونو کې شاملې شوي دي. لکه په دې لنډه کیسه کې: ((د کوټې په منځ کې (ایوا اوسیچکوا) د ژمي تر رارسېدو مخکې اورلګید له یوه لاسه بل، له بله بل ته اچاوه، د بخاری ور یې ببرته کړ. وچو لرګو ته یې شونډې ویږې شوې، خو د لمسی پرونی خبره یې تر ژبې لاندې تکرار کړه: د ۲۰۱۸ کال د پراګ لومړی اور.)) (۵ : ۸۱ مخ)

د بهرني کرکټر د استعمال په مرسته، زموږ په کیسو کې د نړیوالو تجربې او د نړیوالو د ژوند اړخونه بیان شوي دي. پخوا مې د کوم لیکوال کیسې لوستې، تر ډېره یې د کیسو پای د کرکټرونو پر مرګ راڅرخېده. اوس هم ډېر داسې ناولونه او کیسې لیکل کېږي چې د لوستونکو د پام او خواخوږی د راجلبولو لپاره د کیسې په پای کې اصلي کرکټر یا کرکټره مړه کېږي، خو په دې وروستیو کې به داسې کیسې کمې وي چې داستان یې د کرکټر په مرګ پای ته ورسېږي، په دې معنا که کیسه تراژیدي هم وي، اوسني لیکوالان قضاوت لوستونکو ته پرېږدي چې بالاخره څه کېږي؟ د یوې کیسې برخه به راوړو، کیسه (شپه) نومېږي:

((بل ځل خوبولې په اړخ شوه، ببرته یې اړخ بدل کړ، کړکی ته یې وکتل خو سر یې ور پورته نه کړ. له لرې د چرګ د اذان نیولی غږ شو، بیا لور په لور د چرګانو اذانونه شول، دې ټیکری پر سر سم کړ، لکه پرون سهار له لرې لرې خال خال ډزو غږ راغی. دا کېناسته، لاس یې پر زړه کېښود، کلیمه یې په جګ غږ وویله، د کړکی په یې پرانیسته د وره په لور یې د شهادت کلیمه چوف کړه.)) (۹)

پورتنۍ لنډه کیسه تراژیدي ده، اصلي کرکتره مور ده، د یوې مور دردېدلی حالت انځوروي، زوی یې جګړې ته تللی، مور یې په ویښه او خوب کې پسې کړېږي، تر دې چې د وره پر لور کلیمه چوف کوي. دا کیسه زموږ د ټولنې حقیقي تصویر دی، داستان یې غمجن دی. لیکوال دا هڅه نه کوي چې په کیسه کې د زوی جنازه مور ته راوړي او داستان یې لا پسې تراژیدي کړي، دلته لیکوال د کیسې د پایلې سنجول لوستونکو ته پرې ایښي دي، دوی دې فکر او قضاوت وکړي او د بریالۍ کیسې ځانګړنه همدا ده چې لوستونکي فکر ته وهڅوي، یعنې موږ وینو چې زموږ کیسې بې مرګه هم ښه پای لرلی شي چې د پخوا په پرتله اوس زموږ کیسه لیکوال همدا هڅه کوي او په وروستۍ نیمه لسیزه کې دا د لنډې کیسې په تخنیکي برخه کې یو مثبت بدلون دی. په یو ځای کې لولو: ((د کیسې پیل که د دودیزو کیسو غوندې د پېښې په پیل شوی وي؛ نو ګوته ورته نیسو، چې د کیسې په پیل کې تلوسه نه شته، چې لوستونکی له ځان سره روان کړي، خو که د کیسې پیل په مکالمه شوی وي یا په یوه متحرک تصویر شوی وي یا د پېښې د پای په صحنه شوی وي؛ نو پوهېږو چې لیکوال د تلوسې د ایجاد هڅه کړې ده.)) (۱٦: ۲۲۰- ۲۲۱مخونه)

په اوسنیو کیسو کې ډېر کیسه لیکوال دا هڅه کوي چې کیسې په متحرکو تصویرونو پیل کړي. د تېرو کلونو په پرتله چې پخوا زیاتره کیسې په روایتي بڼه پیلېدې، اوس په تصویرونو پیلېږي او لوستونکي هم دا ډول کیسې خوښوي او تر پایه یې لولي. لکه په دې مثال کې: ((په پارک کې پر لرګینې چوکۍ درې پانې نښتې وې. پیتر به په دې چوکۍ باندې د هرې لمرینې یکشنبې په مازدیګر ناست و، د ده کڅوړنې سترګې مې تر سترګو شوې.)) (۴ : ۴۳مخ)

بل مثال دی: ((نتالیا له لوړه لاندې کتل. د دوناب سیند اوبه له پاسه ولاړې او زرغونې ښکارېدې، لکه د زمرد لویه ناترلاشلې ډبره چې ګورې. د سرو شرابو پیالې ته یې ګوتې وروړې، نه یې ورکتل.)) (۲ : ۱۳۵مخ)

پورتنۍ دواړه لنډې کیسې په تصویري بڼه پیل شوي دي او صحنې د لوستونکو سترګو ته دروي. البته په ټولو کیسو کې به دا خبره بیا هم یو ډول نه وي، ځکه په دې وروستۍ نیمه لسیزه کې هم داسې کیسې لیکل کېږي چې پیل یې روایتي وي، لکه: ((سپین ږیری بابا له اوږدې پردېسۍ خپل د زېږېدو ښار ته راګرځېدلی دی. په ښار

کې يې د گرځېدو او چکر لومړۍ ورځ ده. د ښار په کوڅو او واټونو کې گرځي چې په يوه لويه پېښه يې سترگې ولگېږي. د ښار په يو لوی ميدان کې گڼ په زرگونو خلک راټول دي.)) (۱۴: ۷۲ مخ)

په دې بېلگه کې نه کوم ښار، ځای، يا کرکټر راته انځور شوی او نه په مکالمو پيلېږي، يعنې اوس هم داسې ډېرې کيسې ليکل کېږي چې پيل يې روايتي يا هماغه دوديزه بڼه لري، دا ډول پيل لوستونکي ځانته نه جذبوي او ښايي کيسه تر پايه ونه لولي. په اوسني وخت کې د لنډو کيسو د پای په اړه هم ډېر بحثونه کېږي، معمولاً داسې ويل کېږي چې کيسه بايد په ډېره غټه او نابېره پېښه پای ته ونه رسېږي. حسين القباني په دې اړه ليکي: ((د کيسې پای بايد په يو لوی تصادف ختم نه شي، لوی تصادف شايد لوستونکو ته د ملنډو ښکاره شي، هغه ممکن له معجزې پرته پېښ نه شي او معجزې زموږ د ورځني ژوند برخې نه دي. (۱: ۲۷ ـ ۲۸ مخونه)

له نېکه مرغه زموږ د وروستۍ نيمه لسيزې ډېرې لنډې کيسې په داسې ډول پای ته رسېږي چې لوستونکی فکر ته اړ کوي. اوسني کيسه ليکوال دا نه درته وايي چې اصلي کرکټر مړ شو او کيسه خلاصه شوه، هدف ته ورسېده يا ونه رسېده، دوی خپلې کيسې په داسې بڼه ختموي چې خپله لوستونکي يو پای ورته وسنجوي، لکه: ((په کټ اوږد وغزېدم، مخامخ پر ديوال عکس راځړېده، د زرغونه ځنگله دننه يوه نرۍ لار وه، پاس پر شنه آسمان سپينې وربځې وې، په تور ليک پرې ليکلي وو: ((ـ انسان بل انسان له خپلو سترگو ويني، ځکه يې هغسې نه ويني چې دی.)) (۲ : ۱۹ مخ)

پورتنۍ بېلگه د (کافکا) په نامه د لنډې کيسې پای دی. دا کيسه قضاوت لوستونکي ته پرېږدي چې فکر وکړي، آيا موږ رښتيا انسان ته له خپل نظره گورو؟ ځکه يې نه پېژنو؟ له پورتنۍ جملې سره همغږي يو که نه؟ د ليکوال خبره پر ځای ده، که موږ هماغسې يو انسان وينو چې دی؟ د بريااليو کيسو پايلې همدې ته ورته پايلې لري چې لوستونکو ته د قضاوت حق ورکوي، نه دا چې د فکر يا قضاوت هېڅ ځای په کې نه وي .

انځورونه د داستاني ادب ډېر مهم جز دی، هغه کيسې چې انځوريزه ژبه ونه لري، لوستونکی تر پايه له ځان سره نه بيايي، همدارنگه ځينې صحنې او شېبې چې په لوستونکي ونه ويني، نيمگړې بلل کېږي. په دې اړه لولو: ((ليکوال بايد هڅه وکړي،

کوم منظر چې په الفاظو کې وړاندې کړی، هغه یې په خپلو سترګو لیدلی، د ژوند په تجربو پورې تړلی او رښتینی وي، که داسې نه وي، نو هغه خامخا نیمګړی او لوستونکي ته به په زړه پورې نه وي.)) (۱۸: ۲۹ مخ)

ځکه لیکوال یا ادیب هغه څه په سمه توګه بیانولی شي چې په خپلو سترګو یې لیدلي وي، یا لږ تر لږه یې تجربه کړې وي، یو څه چې لیکوال په خپلو سترګو ونه ویني، تر لوستونکو یې هم په سمه بڼه نه شي رسولی. په یو ځای کې لولو: ((په دې کې شک نه شته، چې ډیر انځورګرې کیسې یا نه لرو او یا یې لږې لرو. له انځورګرو کیسو څخه مې مطلب هغه دی چې یو ښه ښار راوپېژني، یو کس راوپېژني.)) ( ٦ : ۱۳ مخ)

موږ ډېر کم د لنډې کیسو پیاوړي لیکوالان لرو چې په ډېر ځانګړي مهارت صحنې انځوروي. ډېرې کیسې مو د انځورونې له اړخه ډېرې کمزورې وي، یا که لیکوال د صحنه سازۍ هڅه هم کړې وي، په روایتي بڼه به وي. زما په اند ډېر لیکوالان په اوسنیو کیسو کې پیغام ته ارزښت ورکوي، د دوی هڅه دا وي چې خپل فکر او پیغام تر لوستونکو ورسوي، همدا دلیل دی چې د انځورونو برخه نیمګړې پاتې کېږي او لکه څرنګه یې چې اړتیا وي، په کیسو کې هغسې په زړه پورې تصویرونه نه انځوروي، خو تکړه کیسه لیکوال هغه دی چې پیغام په داسې ډول تر لوستونکو ورسوي چې دوی خپله قضاوت وکړای شي، په دې معنا چې خپل فکر پر لوستونکو نه تپي او د کیسو د ټولو برخو ترمنځ تعادل په نظر کې نیسي .

له انځورګرو کیسو څخه موخه څه ده؟ په همدې اړه لولو: ((البته دا هم نه چې څوک دې د کابل یا لندن نقشه راته ویره کړي، خو که په همدغو ښارونو کې څوک د نوي ښار د مرغانو کوڅه او هورې د یوه چالاکه انتیک پلورونکي انځور وکاږي او یا د لندن په رسل سکویر کې د نخاګرو پکیرانو تصویر راکړي، نو د دغه ښار د ژوند یوه ښه بېلګه به یې خوندي کړې وي. دغه ډول کیسې په رښتیا چې موږ لږې لرو او کمی یې زموږ د کیسو خوند او ښایي اهمیت هم کموي.)) (٦ : ۱۳مخ)

انځورګرې کیسې که کمې هم دي، خو په وروستیو کې ځینې داسې لنډې کیسې خپرې شوې دي چې د منظر کښښې له اړخه ډېرې په زړه پورې دي، یعنې زموږ اوسنۍ یو شمېر لنډې کیسې متحرک تصویرونه لري. مثال دی: ((آسمان وربځو پوښلی و، سپوږمۍ له وربځو راووته، رڼا ته مې یې د چمن واښه ولیدل، پرخې لانده

کړي وو، د پرخې څاڅکې د وښو پر څنډو د سپوږمۍ رڼا ته ځلېدل. وربځو سپوږمۍ پټه کړه.)) (۲ : ۱۴٦ مخ )

بله بېلګه رااخلو: ((د غونډۍ سرته د لمر سترګه ښکاره شوه. لاندې تازه بوټېدلي بوټي د ويالې غاړې ته لکه زمرد ځلېدل. شاوخوا مې سترګې وغړولې، څوک نه وو.)) (۸ : ۱۰۴ مخ)

له پورتينو بېلګو څخه جوتېږي، که څه هم شمېر يې کم دی، خو ځينې داسې کيسه شته چې متحرک او ښکلي انځورونه لري. د لنډو کيسو بله مهم برخه د مکالمو ده، کيسه بايد مکالمې ولري، بې مکالمو کيسه به کيسه وي، خو غوره کيسه يې نه شو بللی. ښايي اوسنۍ لنډې کيسې د مکالمو له پلوه تر ډېره نيمګړتيا ونه لري، ځکه کيسه ليکوال هڅه کوي، که کيسه ډېره لنډه هم وي، مکالمې خامخا په کې ځايوي. زما په اند پخوانۍ ډېرې کيسې تر ډېره راوي راته بيانولې، يا به ډېرې کمې مکالمې په کې وې، دا چې په اوسني وخت کې د کيسو د تخنيک مسأله ډېره د بحث وړ ده، نو کيسه ليکوال هڅه کوي چې کيسې يې د مکالمو له پلوه ستونزه ونه لري. څومره چې زما دې اړخ ته پام شوی، د اوسنيو کيسو کرکټرونه تر ډېره لوستي وګړي وي، نو کليوالې خبرې، متلونه او اصطلاحات ډېر نه په کې تر سترګو کېږي. مثالونه دي:

- شاعران خو ولس ته ژوند وربخښي.
- شاعران انقلاب هم راوستی شي او د ښکلا يادګارونه هم راښکاره کولای شي.
- شاعر د وخت قدر دان دي او څوک چې د وخت قدر کوي، تل هغه کامياب وي.
- د شاعرانو قدر خو ځکه کېږي چې د وخت په قدر پوهېږي. (۱۲ : ۴۴ مخ)

بل مثال دی:

- دې ستورو ته دې کله په غور سره کتلي؟
- ولې نه! څه خبره ده؟
- څنګه ځينې واړه او ځينې يې ستر او غټ معلومېږي؟
- دا خو له دې کبله چې دوی په لرې او نږدې واټنو کې پراته دي.
- اورېدلي مې دي، وايي کله چې يو ماشوم دې نړۍ ته سترګې پرانيزي او وزېږېږي، نو يو ستوری پاس په آسمان کې زياتېږي.
- کېدای شي، ځينې داسې وايي، خدای پوهېږي. (۱۷: ۱۰۰ مخ)

د پورتنیو مکالمو له وییونو او منظموالي څخه دا څرګندېږي چې کرکټرونه لوستي دي. د مکالمو په برخه کې تر ټولو مهمه خبره دا ده چې ډیالوګونه د کرکټر له ټولنیز موقف سره برابر وي. لوستی باید د لوستي او نالوستی د نالوستې په څېر وغږېږي. په یوه کیسه کې د کرکټرې خبرې رااخلو: (زویه! د یوې مور خوښې د اولادونو په سوکالۍ کې نغښتې ده.)) ( ۱۷ : ۵۴ مخ)

د همدې یو بل ډیالوګ راوړو: ((ټوله هستې مې برباد شوه، د واره له برې او کوزې خوا تاړاکونه او تالان پیل شو. زه په دې اند وم چې ګنې ګاونډیان به مې لاسنیوی وکړي او مرستې ته به راودانګي.)) ( ۱۷ : ۵۵ مخ)

په دې دواړو مثالونو کې د یوې داسې مور خبرې وینو چې په کلي کې اوسېږي. یوه کلیواله مور د (سوکالۍ، نغښتې، هستي، پیل، اند او مرستې) په څېر کلمې نه کاروي، له دې څرګندېږي، چې اوسني ځینې لیکوال لا هم د کرکټرونو ټولنیز حالت په نظر کې نه نیسي. ترڅنګ یې داسې کیسې هم لرو چې هېڅ مکالمې په کې نه شته. نه یواځې مکالمې، بلکې د کیسه لیکنې نورو تخنیکونو ته هم په کې پام نه دی شوی. د بېلګې په توګه (وړومبي قدم) په نامه لنډه کیسه ده: ((لوی، واړه، زنانه او بوډګان څوک هم د دوی له حملې نه، نه بچ کېدل، دوی به چې د کلي په کومه برخه حمله وکړه، نو د سترګو په رپ کې به بیا هغه ځای د قیامت منظر پېش کولو. د دوی ودانۍ به یې ړنګې کړې، اوروننه به پرې بل شول، زښت ډېر مالي او ځاني زیانونه به یې ورسول.)) ( ۱۲ : ۸۹ مخ)

په دې بېلګه کې وینو، چې لیکوال کیسه بیانوي، که کیسه تر پایه هم ولولو، په دې کیسه کې نه کوم کرکټر شته، نه مکالمې، تصویري ژبه هم نه ده په کې کارول شوې، په دې معنا چې د کیسې تخنیکي برخې ته هېڅ پام نه دی شوی، لیکوال خپله تر پایه کیسه راته بیانوي، یعنې د لیکوال موخه یواځې پیغام رسول دي. ویلی شو چې د وروستۍ نیمه لسیزې ډېرې کیسې اوس هم د تخنیک له پلوه ډېرې نیمګړتیاوې لري او زما په اند هغه کیسې د تخنیک له پلوه کمزورې وي چې د لیکوال یواځینۍ هڅه د خپل پیغام رسول وي، نو په دې وخت کې هم د کیسو تخنیکي اړخ او هم یې هنریت ته تاوان رسېږي. اوسنۍ ډېرې لنډې کیسې د کرکټرونو په برخه کې هم نیمګړتیاوې لري. د بېلګې په توګه، د هر کرکټر داخلي اړخ باید په دقیق ډول

انځور شي. په دې اړه لولو: «دغه اړخ د کرکټر نفسياتي او فکري حالت راښيي. په دې برخه کې د کرکټر عقيده، روغ دی که لېونی، څه ډول فکر لري، رواني حالت يې څنګه دی، ژر غوسه ورځي، که زغمناک دی او داسې نور شيان چې روان پورې اړه ولري.» (۲۰)

د لنډو کيسو ډېر ليکوال اصلاً دې اړخ ته پام نه کوي، داسې ډېرې کيسې شته چې د کرکټر فکر او رواني حالتونه نه دي په کې انځور شوي. مثال دی: ((د مراد روح و روان ښايسته غوټه شېبه د تېر مهال دغې خواشينوونکې پېښې له ځانه سره سرګردانه کړی و. هغه يې ځوراوه.)) (۱۷ : ۹۰ مخ)

دلته ليکوال موږ ته د کرکټر حالت په خپله تشريح کوي، خو په غير مستقيم ډول يې داسې نه دی راته ښودلی چې په لوستو يې د کرکټر رواني حالت ځورېدلی يا مغشوش محسوس شي. داسې کيسې هم لرو چې  د کرکټر رواني حالت ترې معلومېدای شي. بېلګه ده: ((د خوب کوټې ته ولاړه، سر يې پر بالښت کېښود، بالښت يې پر سر کېښود... پښې يې له کمپلې وايستې، کمپله يې ايسته کړه، بېرته يې ځان پټ کړ.... په اړخ واوښته، په بل اړخ شوه، د لنډو ويښتو ځوکې يې ونازولې، خوب يې تښتېدلی، پوست بالښت يې په سوک وواهه..)) ( ۸ : ۵۴ مخ)

په دې بېلګه کې اړخ په اړخ اوښتل، بالښت په سر اېښودل، کله ځان پټول، کله کمپله لرې کول، بالښت په سوک وهل د کرکټرې رواني حالت راته بيانوي چې خپه يا په تشويش ده او د کرکټرونو رواني حالت داسې تشريح کول د ډېرو کمو ليکوالانو په کيسو کې لوستلی شو. د کرکټر په انځورولو کې خارجي اړخ هم ډېر مهم دی. ((په دې اړخ کې دا ګورو چې کرکټر نارينه دی که ښځينه، چاغ دی که ډنګر، شايسته دی که بدرنګ... د کرکټر خارجي اړخ د ځېرې په پېژندلو کې لويه ونډه لري.))) ۲۰(

په اوسنيو لنډو کيسو کې بيا داسې مثالونه هم ليدلی شو چې د کرکټر خارجي اړخ په خپله ليکوال تشريح کوي، داسې يې نه انځوروي چې لوستونکي يې خپله د ښايست، بدرنګۍ يا نورو اړخونو په اړه فکر وکړي. لکه: ((نورين جنګيالۍ ده او په کوڅه کې ترې د هر چا زړه بد دی، توره سکنۍ او بدخويه جينۍ ده، نو د هغې برعکس سلما ډېره ښايسته ده، غټې غټې تورې سترګې، سرې سرې شونډې، په قدر پوره، سره سره اننګي، اوږدې زلفې..) (۱۳ : ٦١ ـ ٦٢ مخونه)

بريالی کيسه ليکوال هغه دی چې د کرکټر ظاهري اړخ داسې بيان کړي چې په لوستو يې لوستونکي خپله وپوهېږي چې کرکټر زوړ دی که ځوان؟ ښکلی دی که بدرنگ؟ يا نورې کومې نښې نښانې لري. د وروستۍ نيمه لسيزې په لنډو کيسو کې هم دا نيمګړتياوې ليدل کېږي. د لنډو کيسو په تخنيکي برخه کې پر هر اړخ بحث کول بې له شکه د يوې مقالې له وسه وتلې خبره ده، په دې مطلب کې يې پر ځينو اړخونو څه نا څه بحث وشو او همدلته پرې بسنه کوو.

## پايله

له دې څېړنې څخه په وروستۍ نيمه لسيزه کې د پښتو د لنډې کيسې ځينې اړخونه جوتېږي. د وروستۍ نيمه لسيزې په پښتو لنډه کيسه کې موضوعي او تخنيکي بدلونونه ليدل کېږي. د موضوع له پلوه هر راز موضوعات د لنډې کيسې چوکاټ ته داخل شوي دي. په اوسنيو کيسو کې ورځې تجربې، مشاهدې، بېلابېل کيفيتونه، کوچنۍ شېبې، د نړيوالو تجربې په ټوله کې له ټولې بشري نړۍ سره تړلي موضوعات د پښتو لنډې کيسې منځپانګه جوړوي. د تخنيک له پلوه د لنډو کيسو پيل، منځ، پای، د کرکټرونو له ټولنيز موقف سره برابرې مکالمې، منظر کښنه، د کرکټرونو رواني حالتونو او داسې نورو مسايلو ته يې که ځينې ليکوال پام کوي، خو داسې کيسې هم شته چې په همدې برخو کې اوس هم نيمګړتياوې شته همدا وجه ده چې پښتو لنډې کيسې ته لا پاملرنه په کار ده.

## وړانديزونه

۱ـ د پښتو لنډې کيسې ليکوالانو ته مې وړانديز دا دی، چې د لنډو کيسو د کميت ترڅنګ د لنډو کيسو کيفيت ته هم پاملرنه وکړي.

۲ـ هر کله چې د پښتو پر لنډه کيسه څېړنه کېږي، نو څېړنکو ته مې وړانديز دا دی، چې د پښتو لنډې کيسې تخنيکي برخې ته ځانګړی پام وکړي.

## مأخذونه

۱ـ القباني، حسين. (ژباړن: اجمل پسرلی)، لنډې کيسې به څنګه ليکو؟ دانش کتابتون، قصه خواني پېښور، دريم چاپ، ۱۳۷۹ل کال.

۲ـ پسرلی، ايمل. (ژوند په موسمونو کې، لنډو کيسو ټولګه)، لومړی چاپ، سروش کتابپلورنځی، ۲۰۲۰م کال.

۳ـ پسرلي، اجمل. (نور خلک، لنډو کیسو ټولگه)، علمي خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۳ل کال.

۴ـ پسرلی، اجمل. (لپه، لنډو کیسو ټولگه)، سروش کتابپلورنځی: کابل، ۱۳۹٦ل کال.

۵ـ پسرلی، اجمل. څروی، سروش کتابپلورنځی: کابل، ۲۰۱۹م کال.

٦ـ پسرلی، ایمل. د کیسو کیسې، سروش کتابپلورنځی: کابل، ۲۰۲۰م کال.

۷ـ پسرلی، ایمل. ده کیسه کوله، اکسوس کتابپلورنځی: کابل، ۱۳۹۵ل کال.

۸ـ پسرلی، اجمل. پیلبو، سروش کتابپلورنځی: کابل، ۲۰۲۱م کال.

۹ـ پسرلی، اجمل. (شپه، لنډه کیسه)، تاند وېبپاڼه، ۲۰۲۱م کال .

۱۰ـ جمالزی، عبدالله الهام. (د لنډې کیسې پېژند او جوړښت، مقاله)، روهي وېبپاڼه https://rohi.af، ۲۰۱۵م کال.

۱۱ـ خپلواک، شفیقه. (چترۍ، لنډو کیسو ټولگه)، سالنگ خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ، ۱۳۹۵ل کال.

۱۲ـ خلیل، واجد ودان. (د اوبو څلی، لنډو کیسو ټولگه)، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۰م کال.

۱۳ـ دیوان، رحمت. (خدمت، لنډو کیسو ټولگه)، پښتو نړیواله مرکه، ۲۰۱۷م کال.

۱۴ـ سوله مل، عبدالوکیل. (بل زندان، لنډو کیسو ټولگه)، هاشمي خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۹ل کال

۱۵ ـ سیدي، سید نظیم. د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې د پښتو ادب د پرمختیایي بهیر څېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، ۱۳۹۸ل کال.

۱٦ـ ښکلی، اجمل. ادبستان، کلاسیک خپرندویه ټولنه، ۱۳۹٦ل کال.

۱۷ـ مزاروال، خوشال. (سوې ساندې ستې زړونه، لنډو کیسو ټولگه)، اسد دانش مطبعه، ۱۳۹۵ل کال.

۱۸ـ هاشمي، سید محی الدین. د نثري ادب ډولونه، د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، همایون مطبعه، ۱۳۹۴ل کال.

۱۹ـ   ، ۲۰۲۰م کال http://www taand.com.وردگ، صفیه. (کیسې، لنډه کیسه)، تاند وېبپاڼه.

۲۰ ـ ، ۲۰۱۵م کال.http://lomritob.com۲۰- (په کیسه کې کرکتر کښنه: مقاله)، لومړیتوب وېبپاڼه.

څېړندوی محمد اسحاق مومند

# د علامه اقبال له انده افغاني مشاهير

# Afghan refuted figures from the view of Allama Iqbal

**Assistant Prof. M. Ishaq Momand**


## Abstract

Ulema Iqbal was born in Kashmir, a region of Indian subcontinent. He started to get education in Lahore. Later, he left for the West to pursue higher education, and he earned a Doctor of Philosophy degree.

Iqbal is someone who wants development of Islam and Islamic nation so he is not considered to be belonging to a specific goegraphy. He writes books on poetry and prose. Meanwhile, Iqbal had particular love with Afghans and Afghanistan, and it is well defined at his works.

## لنډیز

علامه اقبال د هند د نیمې وچې  په لویه لمن (کشمیر) کې وزېږېده، په لاهور کې یې زده کړې وکړې او بیا یې د نورو علومو تر لاسه کولو لپاره د هند نیمه لویه قاره پرېښوده او غرب ته لاړه، هلته یې په شرقي او غربي علومو او فلسفه کې تر دوکتورا درجې پورې لوړې

زده کړې وکړې. اقبال یو داسې شخص دی چې موږ یې په یوې ځانګړې جغرافیې پورې نه شو محدودولای، دا ځکه چې اقبال د اسلام او اسلامي امت ترقي غوښته او په دې اړه یې خورا ډېرې هڅې وکړې. په نظم او نثر کې یې کتابونه ولیکل او خپله هڅه یې تر مرګه جاري وساتله. اقبال له افغانستان او افغانانو سره ځانګړې مینه درلوده او دا مینه یې په خپلو آثارو کې لکه لمر داسې جوته ده.

## سریزه

د نړۍ پر مخ د تاریخ په اوږدو کې په میلیونونو او میلیاردونو انسانان پیدا شوي دي، ځینې یې له لویو نومونو سره په دې دنیا کې پاییدلي، خو ځینې یې بې نومه له دې نړۍ څخه تللي دي چې تاریخ یې په نومونو شرمېږي، خو ځینې بیا داسې دې دنیا ته راغلي دي چې زمانه او تاریخ پرې ویاړي، په دغو کسانو کې یو هم علامه محمد اقبال دی. اقبال په خپلو منظومو او منثورو آثارو کې نړۍ ته یو پیغام ورکړی دی او په هغې کې یې د مسلمانانو برخه غوښتې ده. د علامه اقبال په شاعرۍ کې د افغان او افغانستان ډېره یادونه شوې، دا خاوره یې مقدسه سپېڅلې ګڼلې، د افغانستان امن او سلامتي یې غوښتې، د دې خاورې د سترو او لویو شخصیتونو په نومونو یې اشعار ویلي دي چې د افغانستان بېلا بېلو ولایتونو ته تللی دی او دلته یې زموږ د علماوو او سترواکانو په زیارتونو ژړاوې کړي دي. که چېرې د افغانستان په اړه د علامه اقبال پر خبرو باندې عمل شوی وای، نو نن به افغانستان په دې حال کې نه و پاتې، بلکې له سیمې څه چې د نړۍ له نورو غښتلو ولسونو او هېوادونو سره به سیال و.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې علامه اقبال په خپلو اشعارو کې افغانان ډېر ښه یاد کړي دي او د دوی د ژوند بېلا بېل حالات یې په ډېره ښه ژبه بیان کړي دي. افغانان یې د دې سیمې لرغوني اوسېدونکي یاد کړي دي او افغانستان یې د سیمې یو مهم هېواد یاد کړی دی او د سیمې ثبات یې په افغانستان پورې تړلی بللی دی.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د علامه اقبال په اشعرونو کې د افغاني نومیالیو یادونه په څه ډول شوې ده او دوی یې په کومه کچه یاد کړي دي

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ محمد اقبال لاهوري په کوم ځای کې زیږېدلی دی؟

۲ـ اقبال لاهوري تر کومې کچې پورې زده کړې کړي دي؟

۳ـ علامه اقبال په خپلو اشعارو کې کوم نومیالي یاد کړي دي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشرېحي ـ تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د مقالې متن

**خدای هغه ملت په سرداری ونازولو**

**چا چې خپل تقدیر، په خپلو گوتو ولیکلو**

**هېڅ یې سرو کار، د هغه قامه سره نه وي**

**چې مځکه یې دهقان، د بل دپاره وکرولو**

**(۱: ۱۰٦مخ)**

اقبال په ۱۸۷۳م کال د نومبر په ۹مه د ۱۲۵۹ل کال د وري د میاشتې په ۱۸مه نېټه د پنجاب ایالت په سیالکوټ کې زیږېدلی دی. د نور محمد زوی او د محمد رفیق کشمیري لمسی دی. د اقبال مور (امام بي بي) نومېده، اقبال یو ورور او څلور خویندې درلودې، دی یې تر ټولو کشر و. (۲: ۱۵۵مخ)

خو استاد یمین د اقبال د پیدایښت په اړه داسې لیکي: محمد اقبال بن نور محمد د ۱۸۷۳م کال د فبرورۍ په ۲۲مه د سیالکوټ په یوه متوسطه کورنۍ کې دې دنیا ته سترگې وغړولې. د اقبال نیکونه د کشمیر د لوی هار د کلي اوسېدونکي و. (۳: ۹مخ)

**اقبال د خپل پیدایښت په اړه داسې وایي:**

**نعره زده عشق که خونین جگری پیدا شد**

**حسن لرزید که صاحب نظری پیدا شد**

**فطرت آشفت که از خاک جهان مجبور**

**خورگری خود شکنی خود نگری پیدا شد**

**خبری رفت ز گردون به شبستان ازل**

**حذر ای پرده گیان پرده دری پیدا شد**
**چشم واکرد و جهان دگری پیدا شد**
**تا ازین گنبد دیرینه دری پیدا شد**

(۴: ۸مخ)

په اولسمه پېړۍ کې په کشمیر کې ځینې برهمنیان د یوه شیخ له خوا د اسلام په مبارک دین مشرف شول او په دوی کې د اقبال پلرونه هم راځي. خپله اقبال په دې اړه وایي:

**مرا بنگر که در هندوستان دیگر نمی بینی**
**برهمن زاده یی رمز آشنایی روم و تبریز است**

(۴: ۸مخ)

د اقبال نیکونه د کشمیر له برهمنیانو څخه وو او دوی د زین العابدین د سلطنت په وخت کې په اسلام مشـــرف شول او بیا له هغې وروسته د (سپرو) په کورنۍ باندې مشهوره شوه.

## د اقبال زده کړې

لومړنۍ زده کړې یې له خپلې مور (امام بي بي) او بیا له پلار څخه په سیالکوټ کې وکړې او په همدې ځای کې یې لومړی د قرآنکریم له رڼا او بیا له دیني علومو څخه خبر شو. عصري علوم یې په سیالکوټ کې په هغه ښوونځي کې زده کړل، کوم چې د سکاټلنډیانو له خوا جوړ شوی و.

د اقبال پلار نور محمد له اوله یو صوفي او عارف انسان و او همېشه به یې په کور کې د قرآنکریم، احادیثو او نورو تصوفي افکارو بحثونه کول. اقبال وایي: زه له څلور کلنۍ څخه را په دې خوا له اسلامي زده کړو او توحیدي افکارو سره اشنا وم او همېشه به مې په کور کې له پلار څخه زده کړه کوله.

د اقبال پلار له اصله د سیالکوټ ښار یو سیمه ییز سوداګر و، خو له دیني علومو سره یې ډېره مینه او لېوالتیا وه او د همدې لپاره یې اقبال له لومړیو وختونو په یوه داسې جومات کې داخل کړ چې هلته قرآنکریم له پوره پوهې سره زده کړي، له هغې وروسته یې لومړنۍ رسمي زده کړې په سیالکوټ کې وکړې.

کله چې اقبال د جومات په درسونو کې مصروف و، نو د سیمې یو لوی عالم سید میرحسن په ده کې د ډېرې هڅې، هاند او ځیرکتیا تومنه ولیده، د اقبال پلار ته یې وویل چې د زوی سرپرستي او د نورو زده کړو مسئولیت یې ماته را وسپاره، زه به ورته دیني، مروجه او عصري علوم په فارسي، عربي او اردو ژبه ور زده کړم. هماغه و چې پلار یې د سید میرحسن خبره چې ملګری یې هم و، ومنله او اقبال یې د لا نورو زده کړو لپاره ورته وسپاره.

سید میرحسن په هغه وخت کې په یوه ښوونځي کې ښوونکی هم و او اقبال یې هم د عصري زده کړو لپاره په همدغه ښوونځي کې داخل کړ. په ښوونځي کې یې له ځانه ډېر نوښتونه وکړل او خپلو استادانو به پرې ویاړ کاوه. که څه هم نور محمد د اقبال پلار، یو وخت له ښوونځي څخه د اقبال د ایستلو اراده وکړه او ویې ویل چې عصري زده کړې څه په درد خوري، باید دیني علوم ولولي، خو استاد یې مخالفت وکړ او دا یې ورته وویل چې عصري زده کړې لازمې دي، زموږ ولس او ټولنه ورته اړتیا لري او د استاد په غوښتنه یې پلار دا خبره ومنله.

د منځنیو زده کړو لپاره په (اسکاچ میشن کالج) کې داخل شو او دلته هغه اقبال چې مور، پلار او استادانو یې لټاوه، هغه یې پیدا کړ، ځکه اقبال له همدغه ځایه د شاعرۍ تومنه پیداکړه او خپل لومړني شعرونه به یې د اردو ژبې مشهور شاعر میرزا نواب خان ته د سمون لپاره ورکول، د یو څه وخت لپاره یې ورته شعرونه اصلاح او بیا له هغې ووروسته یې ورته وویل: اقباله! ستا شعرونه سمون ته اړتیا نه لري، ته داسې شاعري کوې چې څوک په کې څه نه شي ویلي او نه هم اصلاح په کې راوستلی شي.

اقبال د ښوونځي په لسم ټولګي کې و چې له یوې بډایه کشمیرۍ کورنۍ څخه یې له کریم بي بي سره یې کوژده او واده وکړ. د کریم بي بي او اقبال د واده ثمره یوه لور (معراج بیګم) او یو زوی (افتاب اقبال) و. د ځینو ناڅرګندو دلایلو له امله یې له کریم بي بي سره د ژوند لاره جدا کړه او اقبال بل واده وکړ. (۴: ۴۳مخ)

په ۱۸۹۵م کال کې له سکاچ میشن کالج څخه په دویمه درجه فارغ شو. دا چې په سیالکوټ کې پوهنتون نه و، نو د نورو زده کړو لپاره لاهور/پنجاب ته لاړ او هلته یې په دولتي پوهنتون کې د فلسفې په برخه کې داخله وکړه. د پوهنتون په وخت کې یې په بېلا بېلو بحثونو او مناظرو کې ګډون کاوه او دا مهال هغه اقبال نه و پاتې،

بلکې له اقبال نه لوی سړی او سیاستوال جوړ شوی و. د پوهنتون په وخت کې یې نوي ملګري، عالمان، تجربه کاره خلک، کتابتون ته لاس رسي پیدا کړ او خورا ډېر نوي څه یې زده کړل. د همالیا په نامه یې ډېر ښه شعر ولیکه او دا د اردو ژبې په ورځپاڼه مخزن کې چاپ شو چې مینه والو یې ښه هرکلی وکړ.

اقبال په ۱۸۹۹م کال په پنجاب کې د فلسفې په برخه کې ماسټري پیل کړه او د ماسټرۍ په پای ته رسیدو سره یې د ټولګي درېیم مقام ترلاسه کړ او له پوهنځي څخه یې د سپینو زرو مډال تر لاسه کړ.

ارنولډ د محمد اقبال استاد و او د ده په لارښوونه اقبال د نورو لوړو زده کړو او دوکتورا تر لاسه کولو لپاره له پنجاب نه لومړی هند نوي ډیلي ته لاړ او بیا له هغه ځایه اروپا او ورروسته لندن ته لاړ او هلته یې د کمبریج په پوهنتون کې د فلسفې په برخه کې په درېیو کالونو کې دوکتورا ترلاسه کړه او د دوکتورا ډیزرټېشن یې( سیر فلسفه در ایران) تر سرلیک لاندې ولیکه. په لندن کې یې د حقوقو په برخه کې د لینکولن ان په پوهنتون کې هم خپلې زده کړې د ماسټري په کچه پای ته ورسولې.

کله چې اقبال لاهوري له دوکتورا څخه فارغ شو، لومړی د یوه کال دمې او رخصتۍ لپاره سکاټلنډ ته لاړ او بیا له هغه ځایه وروروسته د لندن، کمبریج او مونیخ پوهنتونونو نوموړی د استاد په حیث له ځانه سره ومانه، خو د اقبال زړه لومړی د اسلام خدمت او بیا د اسیا او هند د نیمې وچې حالاتو ناکراره کړی و او د اروپا سفر یې په ۱۹۰۸م کال کې پای ته ورساوه او بېرته لومړی هند او بیا لاهور ته راغی. د لاهور په پوهنتون کې یې د فلسفې او تعلیمي ادبیاتو په برخه کې استادي ورکړل شوه. تر یو څه وخت وروروسته یې د پوهنتون استادي پرېښوده او د حقوقي قضایو وکالت یې پیل کړ.

اقبال لاهوری یو با استعداده انسان و او د زده کړو په وخت کې په بېلا بېلو مډالونو نازول شوی دی، تر کومه چې ماته معلومات شته، دی په اردو، عربي، فارسي، پښتو، انګلیسـي او جرمني ژبو باندې پوهېده او په دې برخه کې یې له ځانه وړتیاوې هم ښودلې دي.

انګریزانو په ۱۹۲۳م کال کې اقبال ته د سر(Sir) لقب ورکړ.

په ۱۹۲۶م کال د پنجاب د قانون جوړونې کمیسیون غړی وټاکل شو.

په ۱۹۲۸م کال کې د مسلمانانو له خوا د (علامه) په نوم ونومول شو.

په ۱۹۳۰م کال کې د مسلم لیگ گوند د رئیس په توگه وټاکل شو.

علامه اقبال د بیت المقدس په اولینه کنگره کې برخه واخیسته.

د افغانستان د وخت پاچا محمد نادر خان په بلنه علامه اقبال، سید سلیمان ندوی او سر راس مسعود د هندوستان له لویو عالمانو سره یوځای افغانستان ته راغی. لومړی کابل او بیا غزني او کندهار ته لاړ. په کابل کې د ظهیر الدین محمد بابر زیارت ته لاړ، بیا غزني کې د سنایي زیارت ته لاړ او هلته یې د نوموړي پر مقبرې زیات وژړل. له نادر خان سره یې هغه وخت وپېژندل، کله چې نادر خان په فرانسه کې د افغانستان سفیر و او بیا ځلې یې په لاهور کې سره رسمي لیده کاته وشول او په لاهور کې یې له یو بل سره خواږه مجلسونه وکړل او یو بل ته یې د نغدو پیسو د مرستې هیلې وکړې، خو دا چې علامه اقبال کوربه و، نو د هغه د درناوي لپاره یې په هغه وخت کې لس زره افغانۍ قبولې کړې. (۴: ۴۴مخ)

د اسلامي امت د بقا او ښې راتلونکې په موخه اسپانیا ته د فلسفي ویناوو لپاره لاړ، د قرطبې په جومات کې یې لمونځ وکړ او بیا له هغې وروسته د اندلس په تېر برم او عظم یې ډېر زیات افسوس او ژړا وکړه. د اکسفورډ پوهنتون له خوا د فلسفي خطابو لپاره وغوښتل شو، خو هلته یې له تگ څخه انکار وکړ.

علامه اقبال په ۱۹۳۸م کال د ٦۴ کلونو په عمر له دې دنیا څخه سترگې پټې کړې او په ډېر درنښت سره په لاهور کې خاورو ته وسپارل شو. د علامه اقبال مقبره اوسمهال د پاکستانیانو او نورو نړیوالو سیلانیانو لپاره یوه تاریخي او تفریحي سیمه او منظره گڼل کېږي او پاکستان یې هر کال د زېږېدو او مړینې ورځې په ډېر افتخار سره د یوم اقبال او رحلت اقبال په نومونو نمانځي.

**د علامه اقبال چاپ او نا چاپ آثار**

**الف. چاپ آثار**

**لومړی: منثور آثار**

علامه اقبال د نړۍ په ادبیاتو او فلسفه کې ځانگړی ځای او سبک لاره، په اردو او فارسي ژبو باندې یې ځینې آثار لیکلي دي چې دلته ځینو ته لنډه کتنه کوو:

۱. سیر فلسفه در ایران (د دوکتورا ډیزرټېشن).

۲. تاریخ هند (په اردو ژبه لیکل شوی دی).

۳. علم اقتصاد (په اردو ژبه لیکل شوی).

۴. احیای فکر دینی در اسلام (دا په انګریزي ژبه لیکل شوی دی او اصلاً د اوه ویناوو ټولګه ده).

۵. مکتوبات: دا هغه اثر دی چې اقبال په کې خپلو او خپلوانو ته خطونه لیکلي دي. (۱: ۱۱مخ).

**دویم: منظوم آثار**

٦. اسرار خودی (منظوم فارسي اثر دی).

۷. بیخودی ما (منظوم فارسي اثر دی).

۸. پیام مشرق (دا هم په فارسي ژبه لیکل شوی دی او منظوم اثر دی).

۹. بانګ درا (منظوم اثر دی، په اردو ژبه لیکل شوی دی).

۱۰. زیور عجم (منظوم اثر دی او په فارسي ژبه لیکل شوی دی).

۱۱. جاوید نامه (دا منظوم فارسي اثر دی).

۱۲. مسافر (دا هم منظوم فارسي اثر دی).

۱۳. بال جبریل (دا هم منظوم اثر دی، خو په اردو ژبه لیکل شوی دی).

۱۴. ضرب کلیم (منظوم اثر دی او په اردو ژبه لیکل شوی دی).

۱۵. پس چه باید کرد (منظوم فارسي اثر دی).

۱٦. ارمغان حجاز (دا منظوم اثر دوې برخې لري چې لومړۍ یې په فارسي ژبه لیکل شوی او دویمه برخه یې په اردو ژبه لیکل شوې ده.

(۲: ۱۵٦مخ)

**ب: ناچاپ آثار:**

د علامه اقبال ناچاپ آثار نږدې ټول منثور دي او منظوم آثار یې چاپ شوي دي. منطق الطیر جدید، سرګذشت قلب و فکر، تاریخ تصوف، کتاب پیغمبر فراموش شده، احیایی مقررات فقه اسلامی، حواشی قرآن مجید، اقبال نامه، نامه های اقبال به نام عطیه بیګم، نامه های اقبال به محمد علی جناح، مکاتب اقبال و . . . (۴: ٦۳مخ)

د هند دنیمې وچې (بر صغیر) پیاوړی شاعر علامه اقبال هغه شاعر تېر شوی دی چې شعرونه یې له فلسفې او معنا نه ډک دي. دی نه یواځې فلسفي شاعر و، بلکې یو سیاسي مفکرانسان هم و. علامه اقبال یو ځیرک انسان و. ده پښتانه ښه پیژندلي وو، ده ته د

افغانستان تاریخي او جغرافیوی اهمیت هم ښه څرګند و او د پښتو د لوی شاعر خوشحال خان خټک په ستاینه کې یې په فارسي او اردو ژبو شعرونه هم لیکلي دي.

علامه اقبال دافغانستان په باره کې وایی :

**آسیا یک پیکر آب وگل است**

**ملت افغان درآن پیکر دل است**

**ازفساد او فساد آسیا**

**ازگشاد او گشاد آسیا**

(۵: ٤١٦مخ)

له پورتنیو بیتونو نه جوتیږي چې علامه اقبال د یو سیاسي مفکر په توګه د دې خبرې وړاندیز له نن نه اتیا کاله وړاندې کړی و چې د افغانستان د ناکرارۍ او نا امنۍ په وجه به ټوله آسیا نا کراره وي . که په دې هېواد کې فسادونه او ناامنۍ وي، نو ټوله آسیا به ورسره ناکراره او نا امنه وي او که چیرې په دغه هېواد کې امن او سوکالي وي، نو ټوله آسیا به ورسره سو کاله او خوشحاله وي.

په یو بل شعر کې کابل ته د جنت په سترګه ګوري او داسې لیکي:

**شهر کابل خطه جنت نظیر**

**آب حیوان از رگ تاکش بگیر**

(۵: ٤٦٧مخ)

علامه اقبال د غازي امان الله خان په باره کې هم یوه لویه ستاینیزه مثنوي ویلې ده چې ټولټال ۸۰ بیتونه لري. ((پیشکش به حضور اعلیحضرت امیر امان الله خان فرمانروای دولت مستقله افغانستان خلدالله

**ای امیر کامکار! ای شهریار**

**نوجوان و مثل پیران پخته کار**

**چشم تو از بردگی ها محرم است**

**دل میان سینه ات جام جم است**

**عزم تو پاینده چون کهسار تو**

**حزم تو آسان کند دشوار تو**

**همت تو چون خیال من بلند**

**ملت صد پاره را شیرازه بند**

**هدیه ازه شاهنشهان داری بسی**

**لعل و یاقوت گران داری بسی**

**ای امیر ابن امیر ابن امیر**

**هدیه ای از بینوایی هم پذیر))**

(۵: ۱۰۳مخ)

علامه اقبال د خوشحال بابا په ستاینه کې ویلي دي:

**((آن حکیم ملت افغانیان**

**ان طبیب علت افغانیان**

**راز قومی دید وبی باکانه گفت**

**حرف حق با شوخی رندانه گفت.))**

(۵: ٦۴۱مخ)

علامه اقبال د نادر خان په اړه په خپل یوه فارسي شعر کې داسې لیکي:

**نادر افغان شه درویش خو**

**رحمت حق بر روان پاک او**

**کار ملت محکم از تدبیر او**

**حافظ دین مبین و شمشیر او**

**چون ابوذر خود گداز اندر نماز**

**ضربتش هنگام کین خارا گداز**

**عهد صدیق از جمالش تازه شد**

**عهد فاروق از جلالش تاز شد**

**از غم دین در دلش چون لاله داغ**

**در شب خاور وجود او چراغ**

**گفتگوی خسرو والا نژاد**

**باز با من جذبه سر شار داد**

(۵: ٦۴۵مخ)

سلطان محمود غزنوي هغه افغان امپراتور دی چې له نامه سره یې د سیمې ټول هېوادونه اشنا دي او د هغه نوم په لوی شان او شوکت سره اخیستل کېږي. علامه اقبال چې کله غزني ته راغلی و، نو د سلطان محمود غزنوي مزار ته تللی و او د نوموړي له شان او شوکت او لوی نوم څخه اغېزمن شوی و او د همدغه تاثر له امله یې د نوموړي په اړه په خپلو شعرونو کې د هغه ذکر خیر کړی دی چې ورته به ځیر شو:

**خیزد از دل ناله ها بی اختیار**

**آه آن شهری که اینجا بود پار**

**آن دیار و کاخ و کو ویرانه ایست**

**آن شکوه و فال و فر افسانه ایست**

**گنبدی در صوف او چرخ برین**

**تربت سلطان محمود است این**

**شهر غزنین یک بهشت رنگ و بو**

**آب جوها نغمه خوان در کاخ و کو**

**نکته سنج طوس را دیدم به بزم**

**لشکر محمود را دیدم به رزم.**

(۵: ۴۷۱مخ)

اقبال له غزني څخه وروسته کندهار ته تللی دی، هلته یې د خرقې مبارکې زیارت کړی دی، بیا د احمد شاه بابا مزار ته تللی دی او هلته یې د هغه له مزاره تاثر اخیستی دی او بیا یې په یوه لوی شعر کې د احمد شاه بابا یادونه کړې چې یو څو بیتونه یې دلته سره لولو:

**مرد ابدالـــی وجودش آیـــتـــی**

**داد افغان را اســـاس ملـــتـــی**

**آن شـــهیـــدان محـــبت را امام**

**آبروی هند و چین و روم و شام**

**نامش از خورشید و مه تابنده تر**

**خاک قبرش از من و تو زنده تـــر**

**عشق رازی بود بر صـــحرا نهاد**

**تو ندانی جان چه مشتاقانه داد؟**

**آن جوان کــو سلطنت ها آفــریــد**

**باز در کوه و قفـــار خـــود رمـــید**

**آتشی در کوهـــسارش بر فروخـــت**

**خوش عیار آمد برون یا پاک سوخت**

(۵: ۴۱٦مخ)

**تربت آن خسرو روشن ضمیر**

**از ضمیرش ملتی صورت پذیر**

**گنبد او را حرام داند سپهر**

**با فروغ از طوف او سیمای مهر**

**مثل فاتح آن امیر صف شکن**

**سکه ای زد هم به اقلیم سخن**

**ملتی را داد ذوق جُستجو**

**قدسیان تسبیح خوان بر خاک او.**

(۵: ۴۷۵مخ)

علامه اقبال په (بال جبریل) کې د (خوشحال خان کی وصیت) تر عنوان لاندې دغه شعر لري :

**قبائل ہوں ملت کی وحدت میں گم**

**کہ ہو نام افغانیوں کا بلند**

**محبت مجھے ان جوانوں سے ہے**

**ستاروں پہ جو ڈالتے ہیں کمند!**

**مغل سے کسی طرح کمتر نہیں**

**کہستان کا یہ بچۂ ارجمند**

**کہوں تجھ سے اے ہم نشین دل کی بات**

**وہ مدفن ہے خوشحال خان کو پسند**

**اڑکر نہ لائے جہاں بادِ کوہ**

**مغل شہسواروں کی گردِ سمند.**

(۷: ۵٦۷مخ)

د مولانا جلال الدین محمد بلخي په اړه په یوه بیت کې داسې لیکي:

**آمیزشی کجا، گُهر پاک او کجا**

**از تاک باد گیرم و در ساغر افکنم**

(۵: ۲۰۷مخ)

علامه اقبال په یوه شعر کې مولانا رومي ته سوال کوي او رومي یې ځواب لیکي.

د اقبال او مولانا رومي مکالمه داسې ده:

اقبال رومي ته

**د مغرب مشرق مې ټول لوستي علمونه**

**خو په روح کې مې تر اوسه دي دردونه**

د همدغه شعر په ځواب کې رومي اقبال ته داسې ځواب ورکوي:

**که دانه شې اړوي به دې مارغان**

**که غونچه شې، نو شکوي دې ماشومان**

**دانه پټه کړه پر ځان همګي دام شه**

**غونچه پټه کړه ګیاه پر سر د بام شه**

**چا چې زړه د خاوند نه وي دردولی**

**هېڅ یو قوم تر هغه نه دی شرمېدلی**

**که په تن ووهې علم جوړ ترې مار شي**

**که په زړه ووهې علم جوړ ترې یار شي**

**هر سړی په سماع کله سم پوهېږي**

**چې انځر د هر مرغه نه روزي کېږي**

**په کچه وزر چې هر مرغه الوزي**

**په پنجه کې د پیشو به دی کنبېوزي.**

(٦: ٦۲مخ)

په یوه بله څلوریزه کې چې امیر حمزه شینواري پښتو ژباړلې، داسې لیکي:

**زده کړه د رومي ښخه رمزونه فقیري**

**هغه فقیري چې ورته سوځې امیري**

**وژغوره خپل ځان د هغه فقره و درویشۍ نه**

**تا چې و مقام د سرکوزۍ ته رسوي**

(۱: ۱۰۷مخ)

د حکیم سنایي په اړه په شعر کې داسې وایي:

**از نوازشهای سلطان شهید**

**صبح و شامم، صبح شام روز عید**

**نکته سنج خاوران هندی فقیر**

**میهان خسرو کیوان سریر**

**تا ز شهر خسروی کردم سفر**

**شد سفر بر من سبک تر از حضر**

**آه غزني آن حریم علم و فن**

**مرغزار شیر مردان کُهن**

**دولت محمود را زیبا عروس**

**از حنابندان او دانای طوس**

**خفته در خاکش حکیم غزنوی**

**از نوای او دل مردان قوی.**

(۵: ۴٦۹مخ)

## پایله

علامه اقبال په فارسي او اردو ژبو ډېر ښه ادبي، شعري، ټولنیز او فلسفي آثار لیکلي دي. په دغو آثارو کې یې د اسلامي امت د یووالي او د مسلمانانو برم له ورایه ښکاري. د نوموړي په آثارو کې د اسیا او په ځانګړې ډول د منځنۍ او جنوبي آسیا تاریخ، جغرافیه او مشاهیر یاد شوي دي چې د دغو ټولو له جملې څخه یو هم د افغانستان تاریخ او د افغاني خاورې په اړه یې ډېر ښه نظر بیان کړی دی او له بلې خوا یې له افغاني نومیالیو او مشاهیرو سره وخت تېر کړی دی او په خپلو اشعارو کې یې ډېره ښه ستاینه کړې او افغانان یې ډېر با وقاره خلک او رښتیني مسلمانان یاد کړي دي. که چېرې په دې اړه دې لیکنې ته دوام ورکړم، نو د مقالې حجم اجازه نه

راکوي، دا ځکه چې په اقبال باندې ډېرې خبرې کېدای شي، په دې لیکنه کې زما موخه دا وه چې د نوموړي په اشعارو کې د افغاني نومیالیو د یادولو بحث وکړم. که چېرې پر علامه اقبال باندې څومره ډېرې خبرې وکړو، نو بیا به هم کمې وي، ځکه چې نوموړي د اسلام او اسلامي امت لپاره ډېر پلانونه او کړنلارې لرلې چې د ده پر ژوند باندې پوره نه شوې. موږ او د ده لارویانو ته په کار ده چې د ده راپاتې شوي ارمانونه او کړنلارې عملي کړو. علامه اقبال د دې سیمې لوی شاعر و او له دې لارې یې اردو او فارسي ژبو ته ډېر خدمتونه کړي دي. له دې نه پرته یې دې سیمې ته هم لوی نوم ورکړی دی. علامه اقبال له پښتنو او افغانانو سره خورا ډېره مینه درلوده او د دوی برم او عظمت یې منلی و.

## وړاندیز

ما په دې مقاله کې هڅه وکړه چې لږ تر لږه د علامه اقبال د ژوند او آثارو په باره کې نیمگړي مواد راټول کړم او دلته ترې لنډه یادونه وکړم، خو زه په دې بسنه نه کوم او په راتلونکې کې دې نور هم دې چارو ته مخه وکړي او په پښتو ژبه کې دې د اقبال یادونه وشي.

## مأخذونه


۱. امیر حمزه شـــینواری (ژباړن) د اقبال پیغام (بال جبرئیل)، صـــداقت خپرندویه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۲ل کال.

۲. غوربندی، میراجان. نړۍ ادبیات، مستقبل خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۲ل کال.

۳. میر حسین شاه. (راحت زاخیلی و اقبال لاهوری)، د راحت یاد (دویم چاپ)، (د مقالو ټولگه)، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت: کابل، ۱۳۹۲ل کال.

۴. نظامي، برهان الدین. نگاهی به جهان بینی علامه اقبال لاهوری، د افغانستان د علومو اکاډمي، الهام نبي زاده مطبعه: کابل، ۱۳۹۹ل کال.

۵. کلیات اقبال. محمد اقبال لاهوري د (فرید مرادی) په زیار، تهران: مؤســـســـه انتشارات نگاه، ۱۳۸۸ل کال

٦. عبدالحلیم اثر (ژباړن) د اقبال پیغام (بال جبرئیل)، صـــداقت خپرندویه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۲ل کال.

۷. کلیات اقبال (اردو). اسرار زیدی (تشرــیح کوونکی)، ندیم یونس پرنټرز: لاهور (....) کال.

څېړندویه سونیا صمیم هوتک

# د غزني په رشیدانو ولسوالۍ کې د ماشومانو دودیزه درملنه

# Traditional treatment of children in district of Rashidan

**Assistant Prof. Sonia Samim Hotak**

**Abstract**

Tradition treatment, in addition to spiritual and modern treatments is one of the most traditional therapies in human society.

In those societies where the religious and doctrinal side is strongest, spiritual healing is more widely used than in other forms of healing, but in backward and war-torn societies as well as lack of access to modern healing, people resort to it they use the old form of their treatments or in other word traditional treatment. This article also covers materials and information on traditional treatment of children from their birth to the next years of their life, in Rashidan district of Ghazni, it identifies various diseases

that occur in them and then indicates the treat ways of those diseases.

## لنډيز

په انساني ټولنه کې دوديزه درملنه د روحاني او عصري درملنې تر څنګ يوه دود او عامه درملنه ده. په کومو ټولنو کې چې ديني او عقيدتي اړخ ډېر پياوړی وي، هلته تر نورو درملنو له روحاني درملنې ډېر کار اخيستل کېږي، خو په وروسته پاتې او جګړو ځپلو ټولنو کې نوو او عصرې درملنې ته د نه لاسرسی له امله خلک هماغه د خپلې دوديزې درملنې هغه پخوانۍ بڼه يا دوديزه درملنه کاروي چې تر ډېره يې پايله هم مثبته وي. دا ليکنه هم د غزني د رشيدانو په ولسوالۍ کې د ماشومانو د دوديزې درملنې په اړه مواد او معلومات رانغاړي چې د ماشومانو له زېږېدنې څخه نيولې، بيا د هغوی د ژوند تر نورو کلونو پورې هغوی ته د بېلابېلو ورپېښو ناروغيو پېژندنه کوي او بيا د هغو ناروغيو د درملنې لارې چارې درښيي.

## سريزه

د(فلسفه صحت و اسلام) نومي اثر کې د روغتيا پېژندنه داسې شوې ده، ژباړه: روغتيا د انسان د ژوند بنسټيز او تلپاتې هدف دی چې له روحي، رواني، جسمي او ټولنيزو برخو څخه رامنځ ته شوې چې د برابرۍ او اعتدال په حالت کې د دې ټولو ساتل، د ژوندانه د کمي او کيفي معيارونو د ښه کېدو لامل ګرځي او په دوامداره توګه د انسان د توليداتو او ودې لامل کېږي؛ نو ځکه يواځې د جسمي ناروغۍ نشتون روغتيا نه ده. (٨ : ٦ مخ)

طبيبان يا رنځورپوهان د بېلابېلو ناروغيو لپاره د دوديزې درملنې ترڅنګ بېلابېلې درملنې کاروي چې هره يو ه يې له ګڼو ستونزو سره ډېرې ګټې هم لري. د اسلام په سپېڅلي دين کې په روحاني طريقې، يعنې په قرآني آيتونو او حديثونو او په مادي توکو دواړو سره درملنه روا ده. الله(ج) فرمايي:«يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ» (١ :يونس سورت ٥٧ آيت)

ژباړه: ای خلکو! يقيناً چې تاسو ته ستاسو د پالونکي له لوري نصيحت راغلی او شفا ده د هغه څه لپاره چې په سينو کې دي او د مسلمانانو لپاره هدايت او رحمت دی». يعنې تاسو

ته کتاب راغلی دی چې د ویرې او هیله مندۍ په دود وعظ او نصحیت دی او دا د قرآن یوه ځانګړنه ده چې ټولې معانۍ د وعظ او نصیحت په دود مطرح کوي.
په یوه حدیث شریف کې راغلي:عَن اَبِی هُرَیرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رسُولُ اللهِ ما اَنزَلَ اللهُ مِن دَاءٍ اِلاَ اَنزَلَ لَهُ شِفَاءً. رواه البخاري.
ژباړه: له ابي هریره (رض) څخه روایت دی: چې رسوال الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله(ج) داسې ناروغي نه ده پیدا کړې چې د هغه سره یې درمل نه وي رالیږلي. (۱۰: ٦٢ مخ)
خو دودیزه درملنه له روحاني درملنې ډېره پخوا دود وه چې د دې درملنې د پیل نسبت هم لکه د نورو ډېرو علومو په شان یونان ته شوی، خو یواځې په یونان کې نه ده پاتې شوې، بلکې د نړۍ نورو برخو ته هم لېږدول شوې ده. په لرغونې یونان کې له مېلاد څخه ۴٦۰ کاله وړاندې د بقراط په وخت کې فولکلوریک طب راڅرګند شو، بیا ورو ورو دغه درملنه په یوه او بله بڼه په بېلابېلو ټولنو کې مروجه شوه او په هره ټولنه کې یې په دودیز، روحي او رواني لحاظ رېښې وځغلولې او اوس د نړۍ په بېلابېلو ولسونو کې بېلا بېلې بڼې لري. زموږ په هېواد کې هم دودیزه درملنه ښه اوږده تاریخچه لري چې په هر قوم او هره سیمه کې په یوه یا بله بڼه دود ده. په کلیو، بانډو او ان په ښارونو کې یې دود غښتلی او ډېر خلک په دې باور دي چې دغه درملنه اسانه او ارزانه ده؛ نو ځکه یې د هر ډول ناروغۍ د درملنې لپاره یو بل ته سپارښتنه کوي او په لومړي پړاو کې له همدې درملنې څخه کار اخلي.
که څه هم د نړۍ د پرمختګ او د ټکنالوژۍ په ودې سره په ډېرو هېوادونو کې دودیزه درملنه ډېره رالږه شوې او ځای یې عصري درملنې نیولی، خو بیا هم ان د پرمختللې نړۍ په هېوادونو کې لا تر اوسه دودیزه درملنه لږ و ډېره تر سترګو کېږي. زموږ د هېواد له ناامنو او محرومو سیمو څخه یوه هم د غزني ولایت د رشیدانو ولسوالۍ ده چې دودیزه درملنه په کې د روغتیا ساتنې او ژغورنې مهمه وسیله ده. په دې لیکنه کې د همدې سیمې د ماشومانو پر دودیزې یا فولکلوریکې درملنې څرګندونې شوې دي.
د هېواد، لکه: د نورو سیمو په څېر په رشیدانو کې هم پر لویانو سربېره د ماشومانو دودیزه درملنه ډېره دود ده چې د نورو لاملونو تر څنګ یې یو لامل د عصري طبابت د اسانتیاوو نشتوالي دا درملنه مهمه او تلپاتې کړې ده. حکیمي درملنه په بېلابېلو توکو

لکه: د ونو، بوټو په تخمونو، پوستکو، جرړو، پاڼو، ګلانو، مېوو، په حیواني محصولاتو، د حيواناتو په پوستکو، خاورې او نورو شيزونو سره ترسره کېږي.

دلته مو لومړی ځينې هغې ناروغۍ رااخيستي چې ماشوم د ژوندانه په بېلابېلو مهالونو او پړاوونو کې پرې اخته کېږي. ناروغي تشريح، نښې نښانې او لاملونه یې په ګوته شوي او بيا د دې ناروغيو د دوديزې درملنې لپاره په دوديزه توګه د ځينو ګلونو، وښو، بوټو، منډونو او ځينو نورو څيزونو تشريح راغلې او د دې څيزونو د کارونې پر ډول هم رڼا اچول شوې ده.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

دا چې دوديزه درملنه د پښتني شتمن فولکلور يوه غوره او په زړه پورې برخه ده چې که راټول او و نه ليکل شي؛ نو د ډېرو نورو فولکلوري شتمنو زېرمو په څېر به د مهال په تېرېدو سره د تېرمهال په تيارو کې پاتې او له منځه ولاړ شي، بله دا چې دوديزه په تېره بيا د ماشومانو دوديزه درملنه زموږ په ټولنه او په بې سوادو او لرو پرتو کلو او بانډو کې د خپلې ډېرې کارونې او مؤثريت له امله له ځانګړي ارزښت او کارونې څخه برخمنه ده؛ نو د همدې مبرميتونو له امله مې دا موخه وګرځېده چې تر خپلې وسې آن که د هېواد د يوه ولسوالۍ په کچه هم وي د دې زېرمې په خوندي کولو کې خپله برخه واخلم.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه دا ده چې موږ په دوديزه درملنه د خلکو په باور پوهوي، ترڅنګ يې د دوديزې درملنې ګټې او اغېزې هم را زده کوي چې زموږ خلک ولې او د څه لپاره دوديزې درملنې ته پر معاصرې درملنې ارزښت ورکوي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ دوديزه درملنه څه ته وايي؟

۲ـ د غزني په رشيدانو کې دوديزې درملنې کومې دي؟

۳ـ عام خلک ولې دوديزې درمنلې ته ارزښت ورکوي؟

## د څېړنې ميتود

د څېړنې ميتود تحليلي او تشريحي دی.

## د مقالې متن

**ماشومانو ته د ورپېښو ناروغيو پېژندنه او د هغو د درملنې لارې چارې:**

**۱ـ د نامه د ژر نه غوځېدو درملنه:**

**الف) رانجه:** (rānja) انتې موني، يو راز کيمياوي ماده او کاڼی، توره ډبره ده چې د ښکلا او د دوا په توګه په سترګو پورې کېږي. (۹ : ۴۹۷ مخ)

د ما شوم پر نامه باندې تر درېيو شپو پورې هېڅ شی نه اچوي. د همدې دريو شپو په موده کې که چېرته يې نوم و نه غورځېده، د نامه خوږ او د ما شوم ناقراري هم ډېر وه يا يې نوم اوبه اخيستې وي؛ نو بيا رانجه ورباندې اچوي.

**ب) بد رو يا بُربو:** که نوم له رانجه سره ښه نه شو، بيا بدرو سوزوي او سوزول شوی بدرو ميده کوي، تر ټوټې يې وباسي او پر نامه باندې يې تړي. دا کار په ورځ کې يو يا دوه ځله کوي، خو که ايره لمده نه شي؛ نو بيا يې يو ورځ او بله ورځ په کې اچوي.

**ج) پنځه ګون يا غبران:** که د ماشــوم نوم د ډېرو اوبو نيولو له امله ووځي، بيا يې پنځه ګون کلمه داره غبران پر نامه باندې تړي چې کله يې نوم ببرته نه راوته بيا يې ترې لرې کوي.

**۲ـ د ختنې يا سنتي ځای نه روغېدل:**

الف) کتان ټوټه: په رشــيدانو کې ماشــومان ډېر ځله له درېيمې تر اوومې او يا تر پنځلسمې شپې پورې ختنه کوي، خو که تر څلوېښتی پورې ختنه نه شي؛ نو بيا يې له اووه کلنی څخه وروســته ختنه کوي که دغه د ختنې ځای يې ژر روغ نه شي؛ نو بيا د کتان ټوټه سوزوي او ورباندې اچوي يې.

**۳ـ خانکي يا خونيکي ناروغي:**

کله چې پر ماشــوم باندې د مور شــيدې لږې او يا وچې شي، ماشــوم کمزوری کېږي او د شــيدو پر ځای نور هر راز خوراکونه ورکوي چې ډېر يې نامناســبه او ګرم هم نه وي؛ نو ماشوم په خونيکي ناروغی اخته کېږي، يا په بله وينا ويلای شو چې سوی تغذي کېږي. دا ناروغي د ماشــوم وينه کموي، رنګ يې ســپينېږي، اوبه ډېرې څښــي، بانه يې اوږده او بيا پورته ورکتېږي چې د همدې نخښــو نښــانو له مخې پېژندل کېږي. د دې ناروغی درملنې په دوديزه توګه داسې کوي: (۷ : بي بي حوا)

الف) د توت حلوا: د دې ناروغۍ د درملنې يوه وسيله د توت حلوا ده. داسې چې لومړی توت لمدوي او ټينګې اوبه يې ترې وباسي، لږ اوړه په لږو غوړيو کې سره کوي او بيا همدا د توت اوبه وراچوي او حلوا پخوي. دا حلوا بايد درې يا څلور ځله ورکړل شي.

**ب) رشقه:** رشکه، ريشکه، شپيشتی، شفتلو غوندې يو ډول واښه دي. (۹ : ۵۰۴ مخ)

يو شين بوټی دی چې يواځې د وښو د لاسته راوړلو په موخه کرل کېږي او د وښو د توليد له مخې په نړۍ کې لومړی ځای لري. په رشقه کې په لوړه کچه پروټين، کلسيم او فاسفورس شته او د شوتلو په پرتله په رشقه کې دا مواد ډېر دي. دا نبات ډېر خوراکي توکي هم لري چې له همدې امله ورته د(وښو ملکه) وايي. (۴ : ٦٨ مخ)

د خانيکي مرض د درملنې لپاره رشقه اومه هم خوري او سابه هم ترې پخوي. لومړی رشقه په اوبو کې ايشوي، پياز او غوړ سره کوي او دا ايشېدلې رشقه ور اچوي او لږه يې سره کوي. له يو ځل څخه تر لسو ځلو پورې يې ورکوي او يا يې تر هغه وخته ورکوي چې ماشوم ښه شي او په رنګ کې يې سوروالی پيدا شي.

**۴ـ نېکمرغ، تورمخی يا ګلی:** ام الصبيان، د کوچنيانو يوه ناروغي ده. (۹ : ۸۷۴ مخ)

دا ناروغي د ماشوم تر نامه لاندې ځايونو او سپوږمځو کې وي چې له امله يې ماشوم سخته تبه کوي او د درد له لاسه يې آن ځګېروي هم کوي. شيدې نه روي او د ماشوم ورنونه ټاپې ټاپې کېږي چې ولسي ـ خلک ورته ګلی وايي، تورمخی بيا د ګلي ناروغۍ ډېره پرمختللې بڼه ده او کله چې ماشوم مړ شي؛ نو تر نامه لاندې ځايونه يې تک توريږي. په ځينو ما شومانو کې سخت سينه بغل پيدا کوي. بله نخښه يې دا ده چې د ما شوم ډکې ميتيازې سرې، ژېړبخنې او يا پخې سرې وي او د نسناستې په څېر يې هر ساعت او يا په هر نيم ساعت کې کوي. د دې ناروغۍ نخښې دا دي چې کله ماشوم وزيږي، ورنونه، تر نامه لاندې ځايونه او کولمه يې شړېدلې وي. (۷ : بي بي حوا) د دې ناروغۍ درمل سغوريېږ، خميره اوړه، سورساندی او نرکچور دي چې د کارونې ډول يې په لاندې توګه درپېژنو:

**الف) سغوريېږ:** سغوريېږ ميده کوي، له ټوټې يې وباسي د ما شوم پر ورنونو، تر نامه لاندې او کولمه کې يې دوړوي؛ نو شړېدلي ځايونه يې روغوي او د تورمخې ناروغي هم ورته نه پرېږدي. همدارنګه ميده سغوريېږ يو ساعت مخکې په اوبو کې لمدوي، بيا يې د ماشوم پر ځان وهي، ماشوم يو، دوه يا درې ساعته ورسره ويده کوي او تر

پاڅېدلو وروسته هم باید په نورمالې هوا کې وساتل شي، سړې هوا ته و نه ایستل شي او باد ورباندې و نه لږي. که دا دوا پر ماشوم ښه ولږي؛ نو په کې آرامېږي چې نن يې پر ما شوم ووهي؛ نو سبا باید ترې ومینځل شي. یو ځل پرې وهل کېږي، خو که بیا ناروغ شو؛ نو شل شپې او یا میاشت وروسته بیا هم پرې وهل کېږي.

ب) خمیره اوړه: ښه بوزه(خمیره) اوړه رااخلي او وړوکې پاستې جوړوي او د ماشوم د نامه ځای سورى کوي او د ما شوم پر خېټه يې ږدي او په يوه ټوټه يې تړي، خو ډېره برخه يې تر نامه کښته ایښودل کېږي، یو یا دوه ساعته يې ورباندې ږدي. البته دا پاستې پخېږي نه، بلکې د اومو اوړو پاستې وي.

ج) **سورساندی:** یو ډول کلک غرني واښه یا بوټی دی چې لمدوي يې او اوبه يې ماشوم ته ورکوي او یا يې پر خېټه ورته ږدي.

د) نرکچور: لومړی به د نرکچور په اړه لږ معلومات ورکړو. نرکچور د سپین کورکمن په نامه هم یادېږي یو رایزوم لرونکی تلپاتې وښـین نبات دی او د Zingiberaceae په کورنۍ پورې اړه لري. علمي نوم يې Curcuma zedoaria دی. نرکچور د بنګله دېش، سریلانکا، هندوستان او اندونیزیا بومي نبات دی او په زیاته اندازه د چین، جاپان، برازیل، نیپال او تایلنډ په هېوادونو کې کرل کېږي. نرکچور ګرم سوځنده خوند لري. د سینیول او کامفر په څېر لرګین بوی لري، په هندي کې د Kachur او په سانسکریټ کې دKarchurs په نامه یادېږي. نرکچور له یوې نېغې کاذبې ساقې څخه جوړ دی دا نبات له یوه پیاز(کورم) او تر ځمکې لاندې استوانه يې ډوله ځانګوټو یا غوښـینو ریښو او رایزمونو څخه جوړ شوی دی. د مارچ له میاشتې نه تر اپریل پورې د دغه بوټي له پیازو(کورم) او د ځمکې پر مخ له انجامي غوټیو څخه محوري غوټۍ د ګلي غونچو په څېر رامنځ ته کېږي.

نرکچور په دودیزه توګه د میاشتني عادت د بې نظمۍ، د سوء هاضمې، کانګو، هیپایت، پړسوب یا التهابونو، نس ناستې او د تبې درملنې لپاره کارول کېږي او د درد ضد دی. (۵ : ۷۲ مخ)

د کورکمن په څېر د یوه بوټي منډه دی، د کورکمن منډه ژېړ، خو د ده منډه خړ دی، سور یا یخ بوی لري. نرکچور هم مبده کوي، په لړو اوبو کې يې لمدوي بیا يې

د ماشوم پر ځان وهي، له څو ساعتونو وروسته يې لمبوي. که په يو ځل ايښودو روغ نه شو بيا يې هم کاروي. (۷ : بي بي حوا)

**هـــ) د تناره خاوره:** د تورمخي بله دوا دا ده چې د تناره سره خاوره په ګرمو اوبو کې لمدوي او پر ماشوم يې ږدي.

**و) د خوسي خوشايه او د خره خرپيښنه:** د تورمخي بله دوا دا ده چې خرپېښنه او د خوسي خوشايه سره ګډوي، بيا يې پر ماشوم تر نامه لاندې ږدي او تړي يې.

**ز) د چرګ مرداري له خوشايه سره:** د تورمخي ناروغي چې ډېره پرمختللې شي او ماشوم ډېر شړېدلی وي، بيا دا درمل هم ورته کاروي چې د چرګ مرداري له خوشايو سره ګډوي او له يو څخه يې تر دوو ســاعتونو پورې د ماشــوم له نامه څخه کښــته تر ورنونو پورې ږدي.

**ح) لړ شن يا د لري خو شايه:** د تورمخي ورو ستۍ دوا همدا لړ شن دی. د سيرلي پوستکی له لري سره د ماشوم پر خېټه ږدي. له لري څخه کولمې غوځېږي او لړشن يې هم نه لرې کوي، داسې يې پر ماشوم ږدي چې لړشن لاندې او لری د ماشوم پر خېټه پروت وي. تر ماشــوم لاندې ډېرې ټوټې اواروي، د ماشـــوم پر خېټه تر نامه لاندې تر ورنونو پورې لړشـــن ږدي او په ټوټو يې تړي، ماشـــوم هم تړي او ښـــه يې پټوي، کله چې خوله شــو؛ نو بيا يې ترې لرې کوي، خو ماشــوم بايد ژر و نه مينځل شي، سبا ته يې ومينځل شي. د سپک تورمخې نخښه ټناکې دي چې د ما شوم پر سپوږمۍ او ورنونو راخېژي او سمدلاسه چوي؛ نو په دې صورت کې يې دوا سغوريږ، ســـورســـاندی او نرکچور دی، خو د پرمختللي تورمخي درمل د بل ځاروي نه، بلکې يواځې د سيرلي لړشين، د چرګ مرداري او خوشايه وي. د دغو دريو وروستيو درملنو کارونه د ډېر زحمت او کړاو د غوښـــتلو له امله، اوس ډېره لږه شـــوې ده، خو کليوال يې بيا هم پر مؤثريت ټينګار لري.

**۵ـ د غوږ خوږ:**

الف) هوږه: د غوږ د خوږ لپاره هوږه په شړشم يا په ژېړو غوړيو کې ايشوي، بيا يې په متوســطې ګرموالي سره، يعنې چې نه ډېر ســوړ او نه ډېر ګرم وي، د ماشــوم په غوږ کې اچوي. د بياځلي کارونې لپاره په جوشو اوبو کې دا چکک تودولای شي.

**ب) پیاز:** د غوړونو د خوړ پدلو بله درملنه دا ده چې یو پیاز په منځ نیموي، پېړه پوتوکی یې اخلي، تېل د پیاز په منځ کې اچوي او ښه یې ایشوي، بیا یې په یو بوتل کې اچوي او لږ یې گرموي او د ماشوم په غوږ کې یې څڅوي.

**ج) د غوا غوړي:** د غوا غوړي په اور سره کوي چې کله ترم شول؛ نو د لږو مالوچو په وســیله یې د ماشــوم غوږ ته دوه دوه څاڅکي څڅوي او د غوړونو باندنۍ برخې هم پرې غوړوي.

**٦ـ د گېډې خوږ:** د گېډې د خوږ لپاره د گوتې په نامه د څو درملو مخلوط کاروي.

**الف) گوتې:** بادیان، سپرکۍ، د گلاب گل، د کوکنارو دانې یا خشـخاش او څه نور یوناني شیان دي چې په اوبو کې یې لمدوي او ماشوم ته یې د گېډې د روغېدو او د هاضمې سیستم د ښه فعالیت په موخه ورکوي.

گوتې یو ډول درمل دي چې په کلیو کې په هر کور کې وي، دغه درمل اکثره نویو پیدا شــوو ماشــومانو ته ورکول کېږي، په تېره هغه مهال چې هغوی وژاړي او گومان کېږي چې په نس یې درد دی، یا یې ســینه خرابه ده یا ټوخی لري. د دې درمل ترکیب داسې دی: د بنفشې گل د یوې کپې په اندازه، درې یا څلور دانې مرخنۍ، یوه کپه بادیان، د یوې کپې شپږمه برخه سپېرکۍ او ډېر لږ د کوکنارو دانې دا ټول څیزونه سره میده او ساتل کېږي. کله چې د ما شوم په خېټه درد وي؛ نو بیا یوه کپه ترې اخلي او له لږې بورې سره یې په یو گیلاس اوبو کې تر هغې ایشــوي چې اوبه نیم گیلاس پاتې شي چې کله سوړ شو؛ نو څلور یا شپږ قاشوغې د څو ورځو لپاره ورکوي. (٦ : ١٨ ـ ١٩ مخونه)

د گوتې درمل د یوځای کېدونکو توکو په اړه به لږ معلومات وړاندې کړو:

**بادیان:** بادیان چې په دودیز طبابت کې د رومي بادیانو او یا شــنو بادیانو په نامه یادېږي، ماشــومانو ته د تشــنج ضــد مادې، د نفخ او باد ضــد درملنې لپاره ورکول کېږي. د بادیانو له چای څخه د ټوخي او نفخ د له منځه وړلو لپاره گټه اخیســتل کېږي. (٢ : ٢٨ مخ)

**سپېرکۍ:** سپېرکۍ ته پاډوله او زرافشان هم وایي یو ډول خودرویه بوټی دی، علمي نوم یې Stachys Ruprhs Betonicaeflora او د Lamiaceae په کورنۍ پورې اړه لري. د دغه بوټي له ټولو غړو څخه ملایم بوی خېژي. دغه بوټی په خپلسرـــ ډول په

غزنیو سـیمو او د منځنۍ آسـیا په ځنګلونو، دښـتو، ایران، چین او د مدیترانې په ساحه کې زرغونېږي. (۴ : ۳۴۴ مخ)

**د ګلاب ګل**: د ګلاب مشهور او نامي ګل شیرچایي، ژېړ، سپین، سوربخن ګلابي او سره خوشـبویه ډېر ښـکلي ګلان کوي، نورې ډېرې رنګینۍ او رغښـت لري. شـاعرانو هم دا د ګلانو پاچا او سردار ډېر ډېر ستایلی دی.

ګلاب په ګلو کې پاچا دی

نرګس وزیر خزان پرې راوړه براتونه

(۱۳: ۳۱ مخ)

ګلاب له اصله شهزاده دی

رامبېل چمبېل يې نوکران نيولي دينه

(۱۳: ۳۲ مخ)

څېړنواله راضیه نوري د ګلابو په اړه لیکي:«د افغانستان د نورو سیمو غونډې د ګلابو بوټي په اندړو کې هم پیدا کېږي. خلک يې په کورونو کې د ښایست او فکري آرامۍ لپاره کري. د ګلاب ګل ډېر ښایسته او خوشبویه دی. د ګلاب له ګلانو څخه هم په دودیزه درملنه کې کار اخیستل کېږي. د ګلاب ګلان، سپېرکۍ، بادیان او د کوکنارو غوزه په اوبو کې ایشوي او دا اوبه د معدې او نس د درد لپاره ښه دي». (۱۵: ناچاپ)

ب) مزداغ: د ماشـومانو د ګېډې خوږ لپاره مزداغ چې د لیونکۍ(ویلنکۍ، ویلنې، نانا) په شان دی او تک شین رنګ لري هم کارېږي. د مزداغ له ډنډر او لښتې څخه پاڼې راشـکوي، لمر ته يې وچوي اوبیا يې میده کوي. کله چې د ماشـوم ګېډه وخوږېږي؛ نو ګېډه يې د غوا په غوړیو غوړوي او بیا پرې میده مزداغ دوړوي، خو که د ګېډې خوږ يې ډېر سخت وي، بیا يې په وړه کڅوړه کې اچوي او د ګېډې د پا سه يې ږدي له لږ ځنډ وروسته يې د ګېډې درد ورسره ښه کېږي. (۱۴: ۴۱ مخ)

**۷ـ د سینه بغل ناروغي:**

**الف) خاکشیر:** خاشخاشو غونډې وړې سرې دانې دي. (۹ : ۴۰۲ مخ)

د سـینه بغل د ناروغۍ يو درمل خاکشـیر دی او د کارونې ډول يې هماغسـې دی، لکه د ګرمۍ يا لمروهلي ناروغۍ لپاره چې کارول کېږي.

**ب) بارتنګ:** د ټټرد خوږ(سـینه بغل) او ټوخي دوا ده. کله چې د ماشـوم ټټر تخته وي، لومړی یې سـینه غوړوي، بیا بارتنګورباندې شـیندي، بیا ورباندې پلاسـتیک ږدي او ګرم یې سـاتي. همدارنګه بارتنګ له لږو غوړیو، اوبو او ډېرې لږې بورې سره تر هغه پخېږي چې یو ډول غاز یا سرېښ پیدا کړي او بیا ماشـوم ته ورکول کېږي چې دا درمل له ډېرو نورو درملو څخه مؤثر پرېوځي.

په آریانا دایرة المعارف کې د بارتنګ په اړه لولو: د بارتنګ پخوانی نوم Kamps دی او د Cemp له کلمې څخه اخیستل شوی چې سرباز او جنګیالي ته استعمالېږي. د بارتنګ له مستحضراتو څخه د تبې، د پوستکي التهاب، د خولې او ستوني التهاب، ریزش، یخ وهلو، ګریپ، حاد فرنژیت، حاد لرنژیت، د تنفسي سیستم د انتاناتو، حاد او مزمن برانشـیت، د معدې التهاب، پنوموني، ټوخي، د خولې، شـونډو او ژبې د درملنې لپاره کارېږي او د نسناستي ضد ماده لري. د دې نبات شیره د وینو د درولو لپاره کارېږي. هغه ماشـومان چې ټوخی لري د بارتنګ له شربت څخه چې له غلیظې شیرې، بورې او شاتو څخه جوړوي ګټه اخلي. (۲ : ۳۳ ـ ۳۴ مخونه)

**ج) خیرو یا ختمي ګل**: په آریانا دایرة المعارف کې د ختمي ګل په اړه لولو:«ختمي له پخوا راهیسې په دودیز طبابت کې کارول کېږي او د پوډرو، جوشاندې، شربت او داسې نورو بڼو اسـتعمالېږي. ختمي د پړسـوب پر ضـد، مقشـح، د غدو د سـاتنې، تنفسي- ناروغیو، نزلې، نسـناسـتي، د معدې او کولمو د پړسـوب د درملنې په موخه کارېږي». (۳ : ۴۴۸ مخ)

څېړنواله راضـه نوري په دې اړه لیکي:«ختمي ګل هم په غزني ولایت او د اندړو په سـیمه کې ډېر پیدا کېږي. ختمي ګل وحشي– بوټی دی. د حوت په میاشـت کې را شین کېږي او تر قوس پورې دوام کوي. ریښه یې دوامداره وي او څو کاله را شین کېږي. پلنې پاڼې او ښایسته ګلابي، ژېړ او سپین ګلان لري». (۱۵: ناچاپ)

دا ګل تور، درې که څلور رنګه سور، سپین، ژېړ او نور ډېر رنګونه لري، د ټټر یا سینه بغل درمل دی که په لومړیو کې دا درمل ماشوم ته ورکړل شي؛ نو د ټټر خوږ یا سینه بغل یې نه سـختېږي. د دې درمل کارونه داسـې ده چې لومړی د ګل پاڼې راټولوي او وچوي، بیا یې په اوبو کې لمدوي او په قاشوغه یې ماشوم ته ورکوي.

**د) ترياک:** ترياک نباتي محصول دی چې د خشخاشو يا (Papaver somniferum L) له نبات څخه لاس ته راځي. دغه محصول نسواري، زيتوني او يا خړ رنګ لري چې تازه يې څه نا څه نرم او د ساتلو په صورت کې کلک او ماتېدونکی کېږي. بوی يې مخصوص او خوند يې تريخ دی. د ترياکو له مستحضراتو څخه د درملي اشکالو په بېلابېلو ترکيبونو کې د درد د آرامولو، د اسهال ضد او نورو درملنو کې استطباب لري. (۲ : ۷۰۹ مخ)

ترياک د سينه بغل د درملنې لپاره داسې کاروي چې په اوبو کې خوړينوي، اوبه يې د ماشوم پر سينه موښي، بيا پلاستيک ورباندې ږدي ډېر يې له شپې څخه تر سهاره پورې ږدي، خو که دوه ـ درې ساعته هم کېښودل شي ګټه کوي.

**هـ) سپېلني يا سپند:** لومړی به د سپېلني په اړه يو څه معلومات وړاندې کړو: لاتين نوم يې Peganum Harmala دی او په Zygophyllaceae نباتي مورينې پورې اړه لري. د دې بوټي ډنډېر تر ۴۰ ـ ۵۰ سانتي مترو پورې رسېږي. ريښه يې نېغه منشعبه او قوي ده او ژوره ځي. د ګلونو د کاسبرګ برخه يې له پنځو خطي پاڼو او جام يې هم له پنځو ژېړ رنګه ګلپاڼو څخه جوړ شوی دی. ګلونه يې ۱۲ ـــ ۱۵ پورې استامين لري. مېوه يې يو درې جوفي کپسول ده او يو سانتي متر ته رسېږي او دغه مېوه تر ۱۰۰ دانو پورې وړې توربخنې نسـواري رنګه او درې مخېزې دانې لري. دغه بوټی په منځنۍ آسـيا، قفقاز، ايران او افغانستان کې پيدا کېږي. (۴ : ۳۴٦ مخ)

په دوديزې درملنې کې د سـپېلنو له جوشـاندې څخه Hemostatics يا د وينې د درونکي په توګه کار اخيستل کېږي. سپېلني سينه نرموي او وينه تصفيه کوي. لوګی يې حساسيت له منځه وړي د خوراک کچه يې له نيم څخه تر دوه مثقاله پورې ده.

د بدو سـترګو د لګېدو او نظر د له منځه وړلو په موخه د سـپېلني دانې په اور کې اچوي چې ځينې کسانو ته په زړه پورې ده چې له دې ګټې او کارونې څخه يې زموږ په ولسي ادب کې ډېره يادونه شوې ده، لکه:

په سپېلني يې نظر مات که
زيارت ته تللې چا به يې مخ ليدلی وينه

علي محمد منګل د سـپېلنو په اړه وايي:«خلک يې لوګی کوي، وايي نظر پرې ماتېږي، دا شان وايي په لوګي سره يې مکروبونه مري او د روغتيا لپاره يې لوګی ګټه لري». (۱۳: ۵۹ مخ)

**و) بربو(بدرو):** د ماشــوم د ســینه بغل لپاره بربو ښــه میده کوي او د ناروغ ماشــوم ســینه وربانديې مالش کوي، بیا د ماشــوم پر ســینه تاوده مالوچ ږدي، له دې سره د ماشوم ساه اخیستل ښه کېږي او سینه یې نرمېږي.

**ز) ســوډر:** کله چې د ماشــوم سینه بنده وي او ټوخېږي، نو په دودیزه درملنه کې د یوې کپې په اندازه سوډر په لږو تېلو کې ګډوي او د ماشـوم سـینه وربانديې غوړوي، بیا وربانديې تاوده مالوچ ږدي او په یوې ټوټې یې تړي له دې سره ماشــوم روغتیا مومي او آرامېږي.

**۸ـ د ګرمۍ یا لمر وهلي ناروغي:**

که څوک د دوبي ګرمۍ ته خصو صاً ما شومان ډېر وګرځي؛ نو یو ډول ناروغي لکه د سر ګرځېدل، ضــعف، کانګې، تبه او نور ورته پیدا کېږي چې د جل، ګرمۍ یا لمر وهلي په نامه یادېږي.(١٦: ۴٠ مخ). د دې ناروغي درملنه په لاندې توکو سره کوي:

**الف) ځنګل څېرۍ**: یو ډول تریخ بوټی دی چې زېړه ریښه لري. (۹ : ٣٦٦ مخ)

دا یو بوټی دی، د نرکچور تر منډه یې منډه غټ دی، د ســغوریېږ په څېر او ســپین بخنی خړ دی. د ګرمۍ او لمر وهلي دوا ده چې ښه یې میده کوي او په اوبو کې یې لمدوي او د ماشــوم سر او ځېګر وربانديې ککړوي، خو دا بوټی نه خوړل کېږي، ځکه ډېر تېز دی او زړه چوي. پر ما شوم هم یو ځل وهل کېږي ځکه ډېر خنک یا یخ دی. له یو یا دوه ساعتونو څخه تر پنځو ساعتونو پورې دې پر ما شوم پورې پاتې شي. که ویده هم نه شو هم همدومره وخت دې په کې پاتې شي.

**ب) خاکشــیر**: د ګرمۍ، تورمخي، ټوخي، تبې، ســینه بغل او نســناســتي دوا ده. مصرــیان په دې عقیده وو چې خاکشــیر کولای شي هر ډول زهر له منځه یوسي او هم د ستوني د درد درملنه کولای شي، خاکشیر د نسناستي ضد ځانګړتیاوې لري، معده غښــتلې کوي، د ټپونو درملنه او التیام کولای شي، خارښــت او د پښــتورګو پړسـوب کمولای شي. له خاکشــیرو څخه یو ډول ملهم ترلاســه کېږي چې د بدن د دانو د ماتېدو سبب ګرځي. د خاکشیرو تخم ګرد او محرک وي او په یوناني طب کې د برانشیت، قبضیت، تبې او د ګېډې درد درملنې لپاره کارول کېږي. (٣ : ۴٢٢ مخ) د خاکشــیر په اړه د بهداشــت، تغذیه او ســلامت په دایرة المعارف کې لولو، ژباړه: خاکشــیر یو کلن نبات دی ژېړ ګلان او کوچنۍ دانې لري چې ډېر خلک یې پېژني

او درملي ګټې خو يې هومره ډېرې دي چې يو کتاب پرې ليکل کېږي؛ نو ځکه په نننۍ صنعتي ټولنه کې يې هم په کورنيو کې خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی او شفا ورکوونکی ځواک يې هېر شوی نه دی. (۱۱: ۲۴۰ مخ)

د ګرمۍ د درملنې لپاره يې د يوې کوچنۍ کپې په اندازه را اخلي، په پياله کې يې اچوي، لږې اوبه وراچوي او اووه وارې يې له يوې پيالې څخه بلې پيالې ته په بســم الله اچوي او ويل کېږي چې دا د پيامبرانو څخه را پاتې شــوې او د همدې بســم الله له وجهې د ډېرو ناروغيو دوا او شفا ده. تر اوو ځلو وروسته يې بلې پيالې ته په داسې توګه نينوي چې شګې يې د لومړۍ پيالې په ښخ کې پاتې شي. د سر وابنه يې هم لږې کوي او لږه بوره وراچوي. د يوې يا دوو قاشــغو په اندازه پاتېږې بيا له يو ځل څخه نيولې تر څو وارو پورې يې ورکوي او يا يې د ماشوم تر روغېدو پورې ورکوي. (۷ : بي بي حوا)

**ج) نکريزې:** يو ډول بوټې دی چې د پاڼو په وســيله يې ښــځمنې خپل لاســونه ورباندې سره کوي، حنا. (۹ : ۱۰۱۹ مخ)

نکريزې د زړه د ټکان او د ژېړي ضد ځانګړتياوې لري، خو د ماشومانو د دې ناروغۍ درملنې لپاره داسې کارېږي چې نکريزې اصلاً د پاڼو په بڼه وي چې پاڼې يې هومره ميده کوي چې ښــې صــافې شي، بيا يې په اوبو کې لمدوي او پر ماشــومانو او غټانو يې وهي له يوه څخه نيولې تر څلورو ساعتونو پورې يې ورباندې ږدي.

**د) مرغه ټکله(پنيرک):** دا بوټی ډېرې درملي ځانګړتياوې لري، نرموونکی، آراموونکی او ادرار راوړونکی دی. د سينې ناراحتي، د بدن د غړو پړسوب او قبضيت له منځه وړي د تبې او دانو درملنې لپاره هم کارېږي. (۲ : ۴۹۷ مخ)

دا هم د ګرمۍ دوا ده لومړی يې بوټی شکوي او ميده کوي يې، بيا يې په لږو اوبو کې لمدوي، د ماشــوم پر خېټه يې دوه ـــــ درې ســاعته ږدي او ماشــوم تړي. ډېر يخ دی او له ماشــوم څخه ګرمي وباسي.

**هـ) نيل:** اودې رنګ، وسمه، د ګوزار نخښه، يو مرکب چې جامې پرې رنګوي. (۹ : ۱۰۳۱ مخ)

نيل د ګرمۍ او محرقې دوا ده. د ماشــوم په خوله کې يې ورکوي او يا يې په اوبو کې لمدوي او د ماشوم پر ځان يې وهي. دا دارو په ژمي او اوړي کې ورکول کېدای شي.

**۹ ـ د ماشومانو نسناستی:** الف) فرنگي توت: شل گرامه فرنگي توت په یو لیتر اوبو کې وخوټول شي؛ نو د ماشـومانو د نسـناسـتي لپاره ډېر گټور دي، خو باید تر پنځو دقیقو ډېرې و نه خوټول شي.

**ب) نسترن گل:** که د نسترن گل شل ـــ دېرش گرامه په یوه لیتر اوبو کې د پنځو دقیقو لپاره وخوټول شي او په نسنا ستي اخته ما شوم ته ورکړل شی؛ نو نسنا ستی یې ډېر ژر درېږي.

د نســترن گل د گلاب له ډولونو څخه یو وحشي ــ ډول دی. په انگرېزي ژبه کې د rose hip او common dog rose په یامه یادېږي. د نسترن مېوه له پخوا زمانو څخه په غذايي، درملو، سـینگاریزو موادو، په مذهبي مراسـمو او عطر جوړولو کې اهمیت لري. د نسـترن مېوه د سـینې د ناروغیو د درملنې لپاره کارېده، همدارنگه د ملین او ادرار پیداکوونکي په توگه او د کوچنیانو د تغذیوي څښــاک او په چاى او مرباوو کې د خوندور کېدو په توگه کارېده. (۵ : ۸٦ مخ)

**ج) پیاز:** د شــیدو خوړونکو ماشــومانو لپاره درې دانې پیاز واړه شي او په یو لیتر خوټېدلو اوبو کې د دوو ساعتونو لپاره پرېښودل شي. بیا دغه اوبه ورو ورو په ما شوم وڅښي؛ نو نسناستی یې دروي.

**د) انځر:** وچ انځر او د تازه انځرو پوستکي د وینه لرونکو نسناستو لپاره ښه دي.

هـ) پسته: د پستې مغز هم نسناستی له منځه وړي او تنده ماتوي. (۱۰: ۱۷۴ مخ)

**و) خواږه ماسته:** د ماشوم د اسهال لپاره دې خواږه ماسته په وړه قاشوغه ماشوم ته درې وخته ورکړل شي، نسناستی به یې ورسره ښه شي.

**۱۰ـ د ماشومانو د کولمو د چنجي ناروغي:**

**الف) بادام گل:** د غزني په ولایت کې د بادامو ډېر باغونه شــته دي. د بادامو محصـولات د دغې سـیمې د خلکو په اقتصـادي پیاوړتیا کې ډېر رول لري. د بادامو دانې او غوړي هم په دودیزه درملنه کې ډېر مهم دي؛ خو پر دغو سربېره یې گلان هم په دودیزه درملنه کې کاروي.

څېړنواله راضیه نوري د بادامو د دارویي ځانگړنو په اړه لیکي:«ترخه بادام سوځوي او ایره یې د ځینو مکروبي دانو او بخارونو د لمنځه وړلو لپاره کاروي. د بادام گلان په

ايشېدلو اوبو کې څو دقيقې ږدي بيا سهار په نهار دا اوبه څښي. دا اوبه د کوچنيانو د کولمو چنجي هم له منځه وړي». (۱۵: ناچاپ)

**۱۱ـ شِرى(سرخکان):**

**الف) خاکشـــير:** د شري د ناروغۍ درملنه د خاکشـــير په وســـيله داســـې ده چې د ماشوم ډېډې به لوځوي، خاکشير په لاس کې نيسي او د ناروغ بدن ته يې ورپو کوي او له دې سره د يوې کپې په اندازه خاکشير په اوبو کې ايشوي او ناروغ ته يې ورکوي له دې سره به يې شرى يو وار راووځي او زړه به يې سپک شي چې شرى راووت بيا به نور خاکشـــير نه ورکوي، ځکه خاکشـــير گرم دى او ډېر خوراک يې ناروغ ته زيان رسوي. (٦ : ۴۳ مخ)

**ب) ريدي گل او خاکشـــير**: پر شري باندې اخته ماشـــومانو لپاره د ريدي گل له خاکشـــيرو سره په اوبو کې ايشـــوي او ورکوي يې. دا ناروغ له يخنۍ او ســـړو اوبو له څښلو څخه په ټينگه پرهېز وي. (۱٦: ۴۴ مخ)

**۱۲ـ د ماشومانو د غاښ وتنې ځنډېدنه:**

الف) د انگورو اوبه: انگور هغه مېوه ده چې د افغانســـتان په هر ولايت کې څه ناڅه کېږي. په افغانســـتان کې د انگورو لس گونه ډولونه پيدا کېږي. د انگورو يادونه زموږ په سپېڅلي کتاب قرآن عظيم الشان کې هم شوې ده. انگور ډېر غذايي مواد لري؛ ځينو پوهانو خو طبيعي درملتون بللى دى. انگور A ،B او C ويټامينونه، پروټين، کلسيم، ايوډين، پوټاشيم او نور غذايي مواد لري. (۱۰: ۱۹ ـ ۲۰ مخ)

پر دې سربېره چې انگور د لويانو لپاره ډېرې روغتيايي گټې لري د ماشـــومانو د درملنې لپاره هغه مهال کارول کېږي چې غاښـــونه يې ژر او پر خپل وخت راو نه وځي؛ نو که د غاښـــونو د راوتلو پر وخت ماشـــومانو ته يوه يوه کاشـــوغه د انگورو اوبه ورکړل شي د هغو غاښونه په اسانۍ سره راوځي. (۱۵: ناچاپ)

## پايله

فولکلور د ادب د يوې برخې په توگه ډېره پراخه او بيا فولکلوريکه يا دوديزه درملنه د فولکلور د يوې غني برخې په توگه زموږ په ټولنه کې شتون لري. دا درملنه ډېر اوږد تاريخ لري او له پېړيو راهيسې يې په ولسونو کې رواج موندلى دى. هغه ټولنې چې د تمدن او پرمختگ له کاروانه وروسته پاتې دي، دوديزه درملنه په کې ډېره مروجه ده

چې یو لامل یې د دې درملنې آساني او ارزاني ده. پر دې سربېره دا درملنه د ولس له عقایدو، باورونو او تجربو سره هم نږدې اړیکې لري، له همدې امله خلک د خپلو ناروغیو د درملنې لپاره لومړی دودیزې یا فولکلوریکې درملنې ته مخه کوي.

(په پشه یي مېشتو سیمو کې د ځینو ونو، بوټو او وښو ارزښت) نومي اثر کې د پخواني یا دودیزې درملنې په اړه راغلي:« د پخواني طب ښېګڼه دا ده چې د انسان روغتیا ته ګټه رسوي او که ګټه ونه رسوي؛ نو جانبي عوارض او ضرر هم نه لري». (۱۲: د تقریظ ب مخ) د همدې ځانګړنې له امله دا درملنه ډېره د پام او کارونې وړ ده.

روغتیا الهي نعمت او ډېره ارزښتمنه ډالۍ ده چې د دې نعمت د ساتنې ضامن په فردي، کورنیو او ټولنیزو برخو کې د پاکۍ او وقایوي تدابیرو خپلول دي، خو بیا هم که وغواړو که نه ځینې وخت له ناروغیو سره لاس او ګریوان کېږو؛ نو په دې صورت کې د پاکۍ، وقایوي تدابیرو، پرهېز تر څنګ دارو او درملنې ته اړتیا مومو چې د دې اړتیا د پوره کولو لپاره هر مهال په هره کورنۍ، ټولنې، هېواد او آن د نړۍ په کچه لومړی په دودیزې، روحاني او بیا په عصري توګه هڅې شوي دي. افغانستان چې د آسیا په زړه کې یو لرغونی غرنی هېواد دی او غرونه یې د بېلابېلو ونو، بوټو او ځنګلونو لرونکي دي چې د بوټي، دانې، پوټکي، منډونه او بیخونه یې په خوړو او دارو درمل کې په ولسي توګه کارېږي.

زموږ په هېواد کې د وروستیو جګړو او ناامنیو له امله د کلېنیکونو، روغتونونو او عصري درملتونونو نه شتون، فقر، بېوزلي، بې سوادي، خراب سړکونه او لارې، ناامني او نور هغه لاملونه دي چې له امله یې دودیزه درملنه لا هم په خپل حال پاتې ده چې په دې لیکنه کې هم د رشیدانو په ولسوالۍ کې د ماشومانو د ناروغیو پر دودیزې درملنې او هڅو رڼا واچول شوه.

## وړاندیزونه

۱ـ ځینې پوهان وایي چې په فولکلور کې رسوم، عقاید، خرافات، رواجونه، نڅاوې، متلونه، ولسي موسیقي، ولسي افسانې، ولسي سندرې او د عادي انسان د ورځنې ژوندانه مشاهدات مطالعه کېږي، نو دودیزه درملنه هم د انسان د ژوندانه له مهمو اړتیاوو څخه ده چې مطالعې او څېړنې ته یې باید وخت ورکړل شي.

۲ـ په علمي او اکاډمیکو ادارو کې باید محصلین، استادان او څېړونکي د هېواد د بېلابېلو سیمو دودیزه درملنه ثبت، راټوله او چاپ کړي او په دې وسیله یې له ورکېدو وژغوري.

۳ـ روغتیایي کارکوونکي دې د دودیزې درملنې پر بېلابېلو توکو علمي تجربې ترسره او د دې توکو پر ګټو، زیانونو، مؤثریت او نه مؤثریت دې د څېړنیزو وسیلو او تجربو په وسیله خلکو ته د هغو د کارونې په اړه لازمې لارښوونې وکړي.

## مأخذونه


۱ـ قرآنکریم

۲ـ آریانا دایرة المعارف، دویم دور، دویم ټوک (پښتو متن)، د افغانستان د علومو اکاډمي د آریانا دایرة المعارف مرکز: نبراسکا مطبعه، کابل، ۱۳۸٦ل.

۳ـ آریانا دایرة المعارف، دویم دور، درېیم ټوک (پښتو متن)، د افغانستان د علومو اکاډمي د آریانا دایرة المعارف مرکز: نبراسکا مطبعه، کابل، ۱۳۸٦ل.

۴ـ آریانا دایرة المعارف، دویم دور، څلورم ټوک (پښتو متن)، د افغانستان د علومو اکاډمي د آریانا دایرة المعارف مرکز: نبراسکا مطبعه، کابل، ۱۳۸٦ل.

۵ـ آریانا دایرة المعارف، دویم دور، اووم ټوک (پښتو متن)، د افغانستان د علومو اکاډمي د آریانا دایرة المعارف مرکز: نبراسکا مطبعه، کابل، ۱۳۸٦ل.

٦ـ امېد، سید امرالله. فولکلوریکه درملنه، د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه: کابل، ۱۳۹۴ل

۷ـ بي بي حوا، پادشاه. غزني، رشیدانو ولسوالي، چهارچي کلی، ۴٦ کلنه، نالوستې.

۸ـ جبارخېل، ډاکټر انورالحق. فلسفه صحت و اسلام: کابل، ۱۳۹٦هـ.ش.

۹ـ مشواڼی، عبدالقیوم زاهد. زاهد پښتوـ پښتو سیند، دانش خپرندویه ټولنه، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه: پېښور، ۱۳۸۵ل.

۱۰ـ مشواڼی، عبدالقیوم زاهد. کورنی طبیب، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۰ل.

۱۱ـ فائقي، کاظم. دایرة المعارف بهداشت، تغذیه و سلامت، انتشارات یاران: تبریز، ۱۳۸۸هـ.ش.

۱۲- لاموال، عبدالمالک. په پشه يي مېشتو سيمو کې د ځينو ونو، بوټو او وښو ارزښت، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، د نشراتو رياست: کابل، ۱۳۹۰ل.

۱۳- منگل، علي محمد. گلونه په لنډيو کې، شعيب مطبعه، ۱۳۹۱ل.

۱۴- منگل، علي محمد.«په منگلو کې د بوټو نومونه»، کابل مجله، پنځمه گڼه، پښتو ټولنه، ۱۳۶۲ل.

۱۵- نوري، راضيه. د اندړو په ولسوالۍ کې دوديزه درملنه، علمي - څېړنيز کنفرانس(ناچاپ).

۱٦- وياړ، حضرت محمد. پښتني فولکلور، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز: کابل، ۱۳٦۵ل.

څېړندوی حمایت الله ښاد

# د میرعلي دیوان ته لنډه کتنه

# A Short Review To Diwan of The Mir Ali

**Assistant Prof.Hemayatullah Khad**

**Abstract**

Poems (poetical texts) have an appreciable contribution in the cultural and literary richness of any language. The primary literatures of most languages of the world are based on the poems of our ancient poets, and the beginning of the history of Pashto literature has also been written in poetry. Our earlier textual scholars have been used different methods in the extraction of contexts, whether these methods were good or bad; but now adays these are proved useful for Pashto language and literature. In this article, the small diwan of a poet of the ۱۳th A.H. century has been evaluated based on contemporary standards. Therefore, in order to understand the textual investigative methods of the compiler; the diwan of Mir Ali has been evaluated in the hold of new textual principles.

**لنډیز**

منظوم متون د هرې ژبې په فرهنګي او ادبي غنامندۍ کې د ستاینې وړ ونډه لري. د نړۍ د زیاترو ژبو لومړني ادبیات منظوم دي او د پښتو د ادب تاریخ پیلامه هم له منظوم ادبه شوې ده. زموږ پخوانیو متن څېړونکو د متونو په استخراج کې له بېلابېلو لارو چارو استفاده کړې ده، که دغه میتودونه ښه وو که بد؛ خو اوسمهال د پښتو ژبې

او ادب لپاره ګټور زبات شوي دي. په دې لیکنه کې د دیارلسمې هجري قمري پېړۍ د یوه شاعر کوچنی دیوان د متن څېړنې پر معاصرو معیارونو تلل شوی دی. نو د دې لپاره چې د مدون متني څېړنیزې لارې چارې په ډاګه شي؛ د نویو متني پرنسیپونو په پامنیوی د میر علي دیوان څېړل شوی دی.

## سریزه

متن څېړنه موږ ته د پخوانیو لیکوالو د لیکنې روش او تګلاره راښیي او ورسره د پخوانیو لیکوالو فکر او د آثارو منځپانګه هم رابرسېره کوي. د متونو څېړل سخت او زړه چاودی کار دی، دا چاره د لیکوالۍ له پخې تجربې ورهاخوا ډېره مطالعه او له بېلابېلو متنو سره اشنایي هم غواړي؛ خو پر دې ټولو تجربو او هرې نسخې ته د لاسرسي سربېره د متن څېړنې او سپړنې یو لړ اصول هم لري، په همدې موضوع د ښې پوهېدنې لپاره د میرعلي دیوان متني څېړنیزو پرنسیپونو ته تم شوي یوو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د معیاري او نامعیاري دواړو متونو په راایســتلو باندې یوشــان خولې تویېږي؛ نو که متني نقاد له متني ا صولو سره سم متن ا ستخراج کړي، ټولنې او خلکو ته به کره او په ټول پوره متن وړاندې شــوی وي، د متن څېړنیز اصــول د میرعلي په دیوان کې روښانه شوي دي، چې دا د دې لیکنې ستر اهمیت ګڼلی شو.

## د څېړنې موخه

د دې لیکنې هدف دا دی چې د پښــتو ادب د دویمې دورې د یوه شــاعر دیوان د معاصرو متني میتودلوژیکو اســاســاتو په رڼا کې روښــانه شي، چې له دې وروســته به خوان متن څېړونکي ځینو کمیو او ښېګڼو ته په پام سره په راتلونکي کې بشپړ، کره او پوره متن ټولنې ته وړاندې کړي.

## د څېړنې پوښتنې

د میرعلي دیوان د متن څېړنې په کوم میتود لیکل شوی؟

دا دیوان د متن له معاصرو میتودلوژیکو اصولو سره څومره برابر دی؟

په دې دیوان کې د متن څېړنې پر بنسټ کومې نیمګړتیاوې شته دي؟

## د څېړنې میتود

د څېړنې میتود تحلیلي دی، د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتود هم کار اخېستل شوی دی.

## د مقالې متن

د میر علي دیوان د دکتور عبدالرؤف خان رفیقي په زیار او څېړنه ترتیب او تدوین شوی چې ۷۱ مخونه لري. په ۱۳۸٦ هــ ش کال د حبیبي اکاډمي چمن له خوا د ۵۰۰ ټوکونو په شــمېر، په کوچنۍ کچه، په لاهور پریس کې چاپ او خپور شــوی دی. تدوینوونکي د کتاب تر پېژندنې او بسم الله وروسته د دیوان د خطي نسخې پر موندلو او د شــاعر پر پېژندنه او شــاعرۍ لنډې خبرې کړې دي چې ټولټال د دیوان لومړني اتلس مخونه یې نیولي دي چې دغه برخه یې مقدمه ګڼلی شــو. ورپســې دیوان چې غزلې او نور شــعري فورمونه د قافیې یا ردیف کلمې د پای توري له مخې د الفبا په ترتیب له الف څخه پیل او د ځینو تورو په نه لرلو سره په یا (ی) ختمېږي؛ یعنې په هغو غزلو یا شــعرونو پیل شــوی چې قافیه یا ردیف یې په الف توري ختم شوي وي چې د دیوان له نولسم (۱۹) مخ څخه تر یو اویایم (۷۱) مخه پورې مخونه نیسي_ او په پای کې د میرعلي یو څو پارسي غزلونه هم راغلي دي. مدون د دې دیوان په سریزه کې لیکلي دي: ((په دغه نســخه کې د میرعلي (۴۹) غزلې،(۴۰) ترکیب بنده، پنځه مربع، یو مخمس او څلور پارسي غزلې دي.)) (۱: ٦)

په پورته چاپي دیوان کې ترکیب بند نه ترســترګو کېږي یوازې څو شــعرونه په ولسي-وزن کې ویل شوي چې کېدای شي مدون د ترکیب بند ګمان پرې کړی وي، خو بیا هم یې شــمېر دومره نه دی، څومره چې ښــودل شــوی دی. د متنپوهنې د ارونو له مخې لومړی باید دا څرګنده کړو چې کوم متن تحقیقي دی؟ هغه متن تحقیقي دی چې د یو یا څو خطي نسخو له مخې د متن د څېړلو پر بنسټ د متن د تصحیح له روش سره سم برابر شــوی وي، مقدمه، حواشــې، وییپانګه او که اړتیا وه تعلیقات هم ولري.(۲: ۱۳مخ )

دا دیوان هم د مدون په څېړنه او زیار تدوین شــوی دی؛ نو تحقیقي متن یې ګڼلی شــو چې په راتلونکو کرښــو کې به څرګنده شي چې څومره یې د تحقیقي متن په ځمکــه کې مزل کړی دی. د میرعلي دیوان چې دکتور عبــدالرؤف رفیقي تــدوین کړی، د یوې خطي نســخې له مخې یې مرتب کړی دی، هغه هم هغه خطي نســخه

چې له اصـــلي نســـخې څخه يې نقل کړې ده. مدون له دې خطي نســـخې څخه د استفادې په اړه هم بشپړ معلومات نه دي ليکلي، يوازې يې د خپل ملګري سيدجان اڅکزي دا وينا راخيستې ده: ((...دغه کتابونه په کندهار کې د حضرت جي بابا سره چا پر درې ګزي (پياده لار) ايښي وو او خلک سره پر راکوړه وو را نيول او خرڅول يې دوام درلود، زه هم په کې وګرځېدم، پلنده مې په شـــا وه غرمه وه، کور ته تلم، ځکه مې په دغه کتابونو کې ګرځېدل او لټون چنداني په دقت نه و بس هـسې په نيم زړه مې دغه نسخه ځنې راواخيسته.)) (۱: ۵ مخ)

په دې پسې د نسخې په اړه د مدون دا کرښې هم څه ناڅه د نسخې په پېژندنه کې ګټورې برېښـــي: ((په هغه نســـخه يې نه ســـوم خبر چې څه يې کړه خو و ما ته يې د هغې نسخې څخه خپله تيار کړی نقل د کتلو له پاره راکړ...))(۱: ٦مخ)

متن څېړونکي له همدې نسخې څخه چې ده ته ملګري د کتنې لپاره ورکړې وه، دا ديوان ترتيب او تدوين  کړی دی. له پورته بيانه جوتېږي چې مدون د يوې نسخې له مخې دغه ديوان ترتيب کړی او لاســـته ورغلې نســـخه يې کټ مټ راخيســـتې ده. د متن څېړنې د ارونو پر بنسټ که چېرته د يوه متن ډېرې نسخې نه وي، د متن اصول دا ايجابوي چې د يوې نســـخې له مخې متن تدوين شي؛ خو هلته بيا مدون ته پکار دي چې له اړتيا سره سم له قياسي روش څخه ګټه واخلي. د مير علي ديوان له يوې نقل نســـخې څخه ترتيب شـــوی، که چېرته هاغه وخت مدون لټه کړې وای، ښـــايي نورې نسخې يې هم موندلې وای؛ خو له دې يوازينۍ نسخې څخه ا ستفاده يې هم بې ګټې نه ده، بلکې د پښتو ادب او فرهنګ په بډاينه کې د قدر اوستاينې وړ علمي او فرهنګي هڅه ده. مدون د نسخې په موندلو او ترلاسه کولو لړو ډېر غرېدلی؛ خو د ديوان په مقدمه کې يې خپل روش معرفي کړی نه دی او په دوديز ډول يې د نورو د کار په تعقيب او پيروۍ او يا په خپل ذوق  کار بشـــپړ کړی او ديوان يې تدوين کړی دی. ما هم د دې مرتب شـــوي ديوان د نورو خطي نســـخو د موندنې په اړه؛ په کابل کې د يوې چور شوې  کتابخانې د چور شوو خطي نسخو فهرست (زلمی هېوادمل)، په هند کې د پښتو د خطي نسخو فهرست (زلمی هېوادمل)، د حبيب الله رفيع په زيار د خطي نسـخو فهرسـت، د بريتانيا کتابتونونو کې د پښـتو قلمي نسـخو پېژندنه ( شهسوار سنګروال)، فهرست مخطوطات ( سلمی شاهين)، د افغانستان د علومو

اکاډمي پښتو خطي نسخې (شریف الله دوست)، د داتا گنج بخش خطي نسخې (عبدالرحمن حبیب زوی) او ځینې نورې سرچینې وپلټلې؛ خو د میرعلي د دیوان د خطي نسخې په پیدا کولو بریالی نه شوم، ښایي پر دغه مرتب شوي دیوان سربېره نورې خطي نسخې و نه لري او یا کېدای شي نورې خطي نسخې یې د زمانې متروکو بادونو د اسمان لمنو ته سپارلې وي چې اوس یې پیدا کول ناشوني دي.
په هر حال د میرعلي دا دیوان له نقل(فرع) نسخې څخه ترتیب شوی، چې د خطاط، ورځ، میاشت، کال او نورو ځانگړنو سپړنه په کې نه ده شوې او یا هم ښایي دغه ځانگړنې د مدون له قلمه پاتې شوې دي.
د خطي نسخې له مخې بله خبره چې مدون ورته متوجه شوی او د دیوان په مقدمه کې یې ورته اشاره کړې ده، د نسخې د کمیت او کیفیت بحث دی د دیوان په سریزه کې کښل شوي دي: ((...دا سې معلومېږي چې د هغه اولنۍ نسخې لومړنۍ پاڼې دې شلېدلې وي، ځکه چې د نقل بسم الله یې د میر علي د (ث) د ردیف د وروستۍ غزلې څخه کړې ده...))(۱: ٦مخ) نسخه پېژندونکي دغه ډول نسخې چې لومړۍ برخه یې ضایع شوې یا نیمگړې وي ناقص الاول بولي، چې دا دیوان هم له همدغسې ناقص الاول نقل نسخې څخه ترتیب شوی دی، د دغې خامۍ یادونه مدون په پوره مهارت سره کړې ده، د شعر او ادب مینه‌وال یې په کتوۍ کې د ځینو پاتې شوو کوچو څخه خبر کړي دي چې د ده لاس ته نه دي ورغلي چې مینه والو ته یې ور سوي. دلته یو بل اختلاف هم تر سترگو کېږي، هغه دا چې دا چاپي دیوان له الف ردیف څخه پیل شوی؛ خو په پورته متن کې مدون د لومړۍ خطي نسخې ردیف له (ث) څخه پیل گڼي، مدون په دې اړه هم سپیناوی نه دی کړی چې څرنگه دا دیوان له الف ردیف څخه پیل شوی دی؟
متني نقاد د شاعر پېژندنې په برخه کې د داخلي شهادتونو او منابعو په استناد میرعلي راپېژني او په دې لړ کې د شاعر په باب په خارجي سرچینو کې د معلوماتو په نه موجودیت اعتراف کوي. د ده په دیوان کې د یوه بیت پر بنسټ میرعلي اندړ گڼي چې د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ اصلي اوسېدونکی دی. ما هم د میرعلي په اړه د (پښتانه شعرا) ټول ټوکونه او ځینې نورې هغه ادبي تذکرې او آثار وپلټل چې د دې دیوان په حدودو کې خپاره شوي وو؛ خو په دغو آثارو کې د میرعلي څرک نه و،

داچې د شاعر په اړه نورې سرچینې نه شته، مدون هم د دیوان د داخلي معلوماتو له مخې د شـــاعر ټاټوبی، قبیله او د ژوند زمانه لنډه، تنګه او له حالاتو سره مناســـبه سپړلې ده او له څېړنیزو اصولو سره سم یې پرې خپلې زیاتونې هم کړې دي.

د شـاعر له پېژندنې ورهاخوا یې د متن څېړنې د ارونو پر بنسـټ د شـاعر سـبک هم معرفي کړی چې د نوموړي شـاعر ژبه او اسـلوب خورا سـاده او روان دی او د رحمان بابا د سبک لاروی دی؛ خو ما یې چې شعرونه ولوستل تر ډېره پرې د عربي او پارسي ژبې اغېزې پرتې بربښي او محتویات یې د دغو ژبو له وییونو مالامال دي چې بېلګې به یې وروسـته د کړکېچنو وییونو په برخه کې راوړل شي. د شـعري لارې او سـبک د څرګندېدو په موخه مې دغه دیوان اســـتاد حبیب الله رفیع ته وښـــوده، هغه یې شعرونه له مخې تېر کړل او یو ولسي شاعر یې وګاڼه، خو دا یې هم وویل چې ځینې شـــعرونه یې د رحمان بابا لاره تعقیبوي.(۳: مرکه) خو د دیوان له منځپانګې او د شعرونو له روانۍ یې څرګندېږي چې ډېر کم او آن یو یا دوه ځایه یې دا سې نظمونه شته چې په ولسي او ملي وزن ویل شوي وي، پاتې ډېر شعرونه یې د شرقي شاعرۍ له لمنې، نه وځي او د رحمان بابا د سبک قوي اغېزې په کې له ورایه ځلېږي.

متني نقاد د شـــاعر د ژبې او وینا طرز په اړه هم لنډې خبرې کړې او د شـــاعر لیدلوری یې روښـانه کړی دی، د دیوان له شـاعر سره یې د هممهاله مشـهور شـاعر توکل یادونه هم کړې چې د هېواد په ختیځ کونړ او ننګرهار کې هاغه مهال مشـــهور شاعر و او ۱۲۵۰ هـــ ق په شاوخوا کې یې ژوند کاوه. د شاعر په فکر او هنر یې هم رڼا اچولې ده؛ خو څرنګه چې لازمه وه، هغســـې یې په پوره پیمانه فکر او هنر نه دی تمثیل شوی، همدارنګه شاعر ځان ته کارولي ډول ډول نومونه او تخلصونه(میرعلي، میرعلي فقیر، میرعلي ګدا، میرا) یې د داخلي شـهادتونو پر بنسـټ تشریـح او جوت کړي دي او په دې برخه کې یې د نورو همنامو شاعرانو مشکوک اړخونه هم سپړلي دي، په ټولیز ډول ویلای شو چې د دیوان مقدمه په ډېرو برخو کې د متن څېړنې له بنســټونو سره سـمه ده؛ خو په ځینو لږو برخو کې له دغو ارونو سره پوره اړخ نه لګوي او د دودیزو مقدمو په پیروۍ د مدون په خپله خوښه لیکل شوې مقدمه تمثیلوي. له دغو ټولو نیمګړوتیاوو او بشـــپړتیاوو سره سره د مدون خپل متن هم ګڼې املایي تېروتنې لري، د بېلګې په ډول پښـــتو یاګانو ته یې پاملرنه نه ده کړې، د مروجې (ړ)

لپاره يې(ې) توری ټاکلی یعنې اندړ يې د اندې په ډول ثبت کړی، همدارنګه (وو) يې د مفرد او جمع لپاره په همدغه یو شکل راوړی دی. مدون د متن په کره او ناکره اړخونو، کړکیچنو وییونو، لمنلیکونو، تعلیقاتو، وییپانګې، ســمون لیک او د متن د اســتخراج لپاره نورو ګټمنو برخو ته ځای نه دی ورکړی، په متن کې د دغو مواردو راوړل او ځایول د معاصرې متن څېړنې اصــول په ډاګه کوي. همدارنګه د شــاعر په متن کې غیرارادي ناسمې هم ډېرې لېدل کېږي چې لوستونکي د شعر په لوستو کې له ځنډ او خنډ سره مخامخوي او د شــعر رنګ او خوند له منځه وړي، پکار وه چې د ځینو لفظونو د اجزاوو تر منځ فاصــله ورکړل شــوې وای چې په دې سره د تېروتنو مخه نیول کېده؛ لکه ((میرا فقیردی په ســپین مخ باندې شــید ادلربا)) (۴: ۱۰۱ مخ) چې تر ډېر غور وروســته لوســتونکی پرې پوهېدای شي، په دیوان کې دغسې ناسم او بېځایه بېلتون او پیوستون يې ټول دیوان نیولی چې متن يې پیکه او بې‌خونده کړی دی. په متن کې ډېر کړکیچن او د عامو تر سويې لوړ لغات هم راغلي چې معنا کولو ته يې اړتیا وه، د دغو وییونو په لړ کې يې ډېر عربي، پارسي او لږه برخه د پښتو سوچه لغتونه دي چې پرې پوهېدل اړین دي، دلته یو څو لغتونه د دې لپاره را اخلو چې له یوې خوا په متن کې د عربي او پارسي ژبو اثرات روښــانه شي او له بلې خوا د هغوی د معنا او حلولو اړتیا څرګنده کړي: (الغیاث، حائض، فائض، نمط، چــاک، افلاک، زنوبــه،خنــاس، سراج، خرامــان، مژګــان، نمــد، غرقــاب، فراغ، سیراب، فرخنده، رخسار، شتاب، ایام، قاصر، خرامان، خروښی، ګبر...) په متن کې د ډېرو دغســـې وییونو معناوو ته اړتیا وه چې د دیوان په پای کې د وییپانګې تر سرلیک لاندې یا هم د هر مخ په لمنلیک کې يې معنا ښودل شوې وای، دې چارې د لوســتونکو ســتونزې کمولې، اســانتیاوې يې رامنځته کولې، د دیوان ارزښــت يې لوړاوه او په ټوله کې يې د متن څېړنې له عصرـ غوښــتنې سره ســم یو اصــل راژوندی کاوه. پر دې سربېره په متن کې ځینې نومونه هم راغلي چې په حاشــیو یا لمنلیکونو کې يې توضــیح او شرحې د مدون کار لا غوره کاوه؛ لکه ســکندر، قلندر، آغا صــاحب ګیسو دراز، محمود او ایاز، یوسف، د کشمیر تخت او داسې نور چې لنډو شرحو يې د متن څېړونکي کار او زیار ته ځواکمنتیا او ځلا وربښله. مدون دغه ډول ارونو ته پام نه دی کړی په ټوله کې متن څېړونکي د متن څېړنې معاصر اصول او لارې چارې په

پام کې نه دي نیولي چې د ټول متن په روح د لوستونکو مړه احساسات راژوندي کړي، یوازې یې دیوان له مقدمې سره له یوې نقل نسخې(فرع) څخه تدوین کړی او ټولنې ته یې وړاندې کړی دی.

## پایله

کله چې ما( حمایت الله ښاد) د میر علي د دیوان په پښتی د (ټولونه او څېړنه) کلمې ولیدې، له ځان سره مې یوه فرضیه جوړه کړه چې دغه دیوان به د متن څېړنې له معاصرو روشونو او معیارونو سره سم مدون بیا احیا (تهیه) کړی او چاپ کړی وي، خو کله چې مې سریزه او د دیوان جوله او منځپانګه ولوسته، نو دې پایلې ته ور سېدم: د دیوان سریزه که څه هم څېړنیزه ده، خو د متن څېړنې له مخې ډېرو پوښتنو ته بشپړ ځواب نه وایي او په ځینو برخو کې نیمګړې ده. نور ټول دیوان د متني څېړنو له ارونو پرته تصحیح شوی دی او نابشپړ تحقیقي متن یې ګڼلی شو، ځکه تحقیقي متن هغه وي چې له یوې یا څو خطي نسخو څخه د متن د تحقیق د ا صولو پر بنسټ د متن د تصحیح له یو روش سره سم تهیه شوی وي، سریزه، حواشې، وییپانګه او که لازم وي تعلیقات ولري. خو دا دیوان له سریزې پرته د متنپوهنې له اصولو سره سم تدوین شوی نه دی، په اصلي متن کې لمنلیکونو، حواشیو او د کړکېچنو وییونو حل ته ځای نه دی ورکړل شوی، خو پر دغو ټولو نیمګړتیاوو او نابشپړتیاوو سربېره یې د پښتو ادب په فرهنګي بډاینه کې د ارزښت وړ زیاتونه ګڼلای شو.

## مأخذونه


۱. میرعلي، دیوان، د عبدالرؤف خان رفیقي په زیار، حبیبي اکاډمي چمن: لاهور،۱۳۸٦ ل کال.

۲. هېواد مل، زلمی. د متن څېړنې مېتودولوژي (د ماسټرۍ دورې لکچر نوټ)، کابل: کابل پوهنتون، ۱۳۹۷ ل کال.

۳. رفیع، حبیب الله. د افغانستان د علومو اکاډمي سلاکار، ۷۵ کلن، د پښتو ادبیاتو استاد او څېړونکی، د میرعلي د ژوند، فن او شاعرۍ په اړه څېړنه، حمایت الله ښاد، کابل، علومو اکاډمي، ۱۳۹۹/۷/۷ ل کال.

۴. هېوادمل، زلمی. د متن څېړنې مېتودلوژي، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹٦ ل کال.